

# دا څه آورم؟

## هنري داستان نستان

Ketabton.com

ليکوال: محمدنعيم وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | دا څه اورم؟ هنري داستان نستان |
| لیکوال: | محمد نعیم وردګ |
| برېښنالیک: | www.naeem.afghan@gmail.com |
| مخ پاڼه(فسبوک ): | نعیم جان بوډا |
| کمپوز او ایډیټ: | پخپله لیکوال |
| د لیکلو کال: | ۱۴۰۳ لېږدیز لمریز |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې لارې ښځه

ان تر واده راسره کولو څو شپې ورځې وروسته مې د (پلوشې) له بيلا بيلو حرکاتو داسې انګېرله، په کليوا له اصطلاح چې ګويا په اډو صافه نه ده، که څه هم ما ته تر راواده کېدو پورې له چاسره همبستر شوې نه وه، ولې ناسته ولاړه همداسې اکثريت نور حراکت يې د خرابو ښځو په شان و، يو قسم ډماني خواص يې لرلو، تل او د هرې موقع نه په استفاده يې له نامحرم خلکو سره د سترګو جنګولو او ځان ورته ښودلو هڅه کوله.

دې او دې ته ورته بعضې. نورو ځانګېړنو ته يې په کتو، زړه مې پرې غل و، نفس مې نه پرې کېناستو، حتا له خبرو هم يو نوعه مکرجنه، دوکه بازه ښکارېده، ولې بيا هم لاحول ولاقوة... به مې وويل، زړه کې به مې کړل: نه انشاءالله هسې شيطان کافر وسوسې رااچوي، هېڅ خبره نشته، وخت ناوخت به مې په همدې شان ځان ته ډاډ ورکولو، مګر بيا هم پوره مې ځان نشوی قانع کولی، هغه هم په داسې حال کې چې ما غزني کې د لبنياتو په يو شرکت کې کار کولو، صرف جمعګۍ به کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلم، نه مې شوی کولی، ترڅو څه ناڅه يې تعقيب کړم، چې ګويا رښتيا هم خرابه ده، که هسې يې دا ځينې خرابې کړنې عادت دی؟ خو په هر حال همدې بدګومانۍ او انديښنه کې ورځې، شپې او مياشتې تېرېدې، ان تر دې چې يوه ورځ د تل په څېر بيا هم د پنجشنبه ورځ وه، د جمعې د روخصتۍ په پار مې له غزني نه حرکت راوکړو، شپه مې کور ته راوړه، سهار د چای څښلو په محال مې تر ټولو نژدې او خواخوږې، له ماشومتوبه نه په هر غم او ښادۍ شريک ملګري وهاب زنګ راته وکړو، تر سلام او جوړ، پخير وروسته يې کړل:

- له غزني راغلی يې؟

- هو، بېګا ماښام کورته راورسېدم!

- ښا په خير راغلی يې، که چای دې څښلی وي؟ راځه فصل ته راشيد دوئ کچالو وباسي کلوخکه (د کچاليو ډاډه) به وکړو!

لنډه دا چې تر چای خوړلو وروسته ورښکته شوم، کلوخکه مو وکړه، اخير کې چې لا هم د حاجي سنګين کاکا د شنه پوشت له پاسه ناست و، ترمنځ مو د خوړلو کچاليو پوستونه پراته و، وهاب ځو ځل په اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر ډېر مايوسانه او دردمن انداز راته وکتل، پوه شوم، چې غواړي څه ووايي، خو په ويلو کې يې زړه نازړه دی، ورغبرګ مې کړه:

- خيرت خو به وي، ځنګه دې داسې خواشني او ځير، ځير راته وکتل؟

لويه ساه يې واخيستله کړل يې:

- که رښتيا ووايم، خيرت نه دی، خو بيا هم ورخطا کېږه مه، دومره د انديښنې خبره هم نه ده، ځنګه چې ويل کېږي: که غر هر څومره جګ وي، په سر لار لري، همداسې هر قضيه حل او فصل لري، انسانان په ژوند کې له هر قسم پيښو سره مخ کېږي، خو قوي خلک بيا په هر حال لاره پکې اباسي او ضعيفه کسان ډنډه پکې واخلي، زه په تا هم باور لرم انشاءالله په ډېره معقوله طريقه به ستونزې ته رسيدګي وکړې، که څه هم باور وکړه، دا څو شپې ورځې په دې اړه فکر کوم، چې درته ووايم، که ونه وايم؟ بلاخره بېګاه مې وروستۍ پرېکړه دا وکړه چې بايد درته ووايم، که ونه وايم، دا به مې ستاسره يوه رښتينې او صادقانه ملګرتيا نه، بلکې جفاوي، اګر چې د هر ځل درته کتلو سره مې هڅه وکړه، ولې بيا به خبره خولې ته رانغله، خو دا چې ستا ابرو عزت زما ابرو او عزت دی، ځان مکلف ګڼم چې درته ووايم، اما بيا هم وايم هيله ده چې لار ورکه نکړې، په ارامه ذهن مخ ته ولاړ شې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره کې يې وروڵو پدم:

- څه کيسه ده؟ زړ وواويه، زړه دې رانه ويستلو.

- ځار، ځار زړه دې خدای ج وساته، خبره داسې ده، وروركه! چې وريندار مې په ډېره لويه بې لارۍ وليده، هغه داسې چې، څو ورځې مخکې مې ورپام شو، ستاسو د کور په چارپېر سيمه کې به وخت ناوخت د مستري عادل زوی شيرين او طاهر تاوېدل راتاوېدل، دوې سترګې به يې ستاسو د کور په کړکيو کې وې، زړه کې شک راپيدا شو، چې دا د څه لپاره دلته تاوېږي؟ بله ورځ مې کتاب راواخيستلو د مطالعې په بهانه راغلم، د هاشم اکا په باغ کې غلی کيناستم، د کتاب لوستلو ترځنګ مې دوی او ستاسو کور تعقيبولو، څو لحظې لا نه وې تېرې چې ستا د اتاق په کړکۍ کې مې وريندار وليده، اشارې يې ورسره شروع کړې، ان دوه ځل يې تر کړکۍ سر ورته رابهر کړو، په تمثيلي بڼه به يې يوه سره لته په شيشو کش کړه، ګواکې که بل څوک مې هم ووينې، فکر وکړي چې شيشې پاکوي، عين حال کې مبايل کې هم سره اخته و، ټوکې ټاکالې يې کولې، د دوی د خندا غږ ان تر ما پورې راتلو، هاخوا کړکۍ کې وريندارې ګوشې غوږ ته نيولې وه، له هر ځل خندا سره يې سپين سپين غاښ معلوميدل، ددې صحنه په ليدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وضعیت ببخي خراب شو ، یعقین وکړه، که د هغه راهسې یا د ډوډۍ په خوند پوهېږم، یا ناسته او ولاړه خوند راکوي، طبعاً په تا به مې هم خبرې ډېر بد اثر پریستلی وي، اما څنګه چې وایي: دوست به دې وژړوي، دوښمن به دې وخندوي، هیله ده له دې خبرې زما وجداني مجبوریت، همدردي درک کړې او څومره چې زر کېږي، په ډېرو سړو مغزو یوه معقوله د حل لار ورته پیداکړې، د ورینداري ددې نه تحملیدونکي عمل مخه ونیسې، چون د یو ملګري په صفت دې، ما ستا په ملګرتیا او غیرت تل ویاړلي، له دې وروسته هم نه غواړم کومه د ضعف نقطه ولرې، پدر تر پدره ښه درنه او باعزته کورنۍ لرې، ددې سربېره کور کې پیغله خور لرې، خداینا خوسته ترڅو د هغه نوم ورسره بد نکړې. پس له هرې ممکنه لار یې چې ته ښه ګڼې او هر څومره زر چې کېږي، مخنوی یې اړین دی. البته له یادولو پاتې نه وي، چې ته تنها نه یې، د هغه ځناورو په وړاندې دې که کوم عکس العمل کولو؟ زه په ټول توان او تر وروستۍ سلګۍ درسره یم، هېڅ ری ونه وهې، خو فکر کړم ترڅو چې خپل کور کې ستونز حل یا هم ورېندار اصلاح نشي د نورو خلکو سره وهل، ویشتل حتا وژل بې معنا دي، لا د سړي فت او ابرو الوزي، د کلي کور کیسې پکې زیاتېږي، د شرم غږ یې تر لرې لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو ځي. نور انشاءالله ته له ما ښه پوهېږې او سر خلاصی انسان يې څنګه دې چې خوښه وي زما لخوا درسره اوکې ده.

ددې خبرې په اورېدو مې وضعيت يوازې الله ج ليدو، هېڅ داسې الفاظ مې ونه مندل، چې د هغې صحنې درد او رواني حالت مې درته پرې انځور کړم، خو په هر حال، له وهاب نه مې ددې کيسې د خبرولو په پار مننه وکړه، کورته په رارسېدو سره مې کيسه د مور او پلار سره شريکه او زياته مې کړه: چې دا ښځه نور زما نه ده پکار، همدا اوس طلاق ورکوم، خپلې کورنۍ ته يې ورلېږم، مور او پلار مې دښځې بېلارې راسره تايد کړه، خو د طلاق ورکولو يې ډېر کلک مخالفت وکړو، چون ماته يې واده په بدل کړی و، يعني زما د ښځې په مقابل کې يې زما خور د ما د ښځې ورور ته ورکړې وه، دوی هلته د خپلې لور په برخليک وويرېدل، خو ما لا هم په خپله خبره ټينګار کولو، بالاخره مور او پلار مې په يوه خوله راته کړل:

- که دا کار دې وکړو، زموږ لخوا ئق يې، بيا مو نه نوم واخلې، نه وايې چې زه د دوی زوی يم، ځکه چې ته که ښځه طلاق او د پلار کور ته يې ورولېږې، هغه ظالمان به پرته له دې چې د خپلې لور فاحيشتوب ته وګوري، ستا له بې ګناه خور سره به عيني چلند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مور او پلار ددې خبرې په کولو سره، څنګه چې تاسو پوهېږئ، يو کس که هر څومره لوی شي، بيا هم د مور او پلار په وړاندې ځان ماشوم احساسه وي، همغه شان ماشومانه حرکات ترې کېږي، زه هم په ژړه شوم، ورته کړل مې:

- بيا نو اخير څه وکړم؟ چې طلاق ورنکړم ايا همدې ښځې ته کينم؟ چې د ژوند تر اخيره بيا د ټول کلي کور ولس د خلکو سره نه يوه خبره وکړی شم، نه يې سترګو ته سترګې ورپورته کړی شم؟

مور مې راغبرګه !

- نه زويه ! ته لږ حوصيله وکړه، اغاجان به دې ورولېږو، چې د پلار او کاکاګانو سره يې ووينې، د خور او لور په بې لاری يې خبر کړې، ترڅو نصحت ورته وکړي او له دې وروسته داسې کار ونه کړي.

په همدې سره ډکې سترګې او چوفه خوله ددوی له اتاق نه راووتلم، ان د حاوېلۍ تر دروازه هم ووتلم، د کلا تر شاه مې سترګې وچې او په مخ مې د ژړا ټولې نښې له منځه يوړې، ښه مې ځان کابو کړو، واپس کور ته ننوتلم، مستقيماً خپل اتاق ته ورغلم، پلوشې د سترګو راباندې لګيدو سره سم د الاااااا په جګ اواز کولو سره راجګه شوه، کړل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه شوي ځاروانه !؟ رنګ دې ولې داسې تور او شين اوښتی؟

له همدې سره مې دوې ښې عسکري څپېړې ترې تېرې کړې، هاخوا د تخت خواب او بسترو قات ته ورولوېده، واپس زر راکېناسته، په ژړا شوه، چيغې يې کړې:

- ولې، ګناه مې څه ده؟

- رنډۍ ! ته وا رښتيا نه پوهېږې؟ دغه سپي دې چې را اموخته کړې، تېوله ورځ تر کلا ګرد درته تاوېږي او ته په کړکۍ کې ور ولاړه يې اشارې او په مبايل کې ټوکې، خنداوې وسره کوې، د نورو کيسو نه دې الله ج خبر چې څو ځل به دې درباندې خېژولې وي، لا ګنهګاره نه يې؟

ولې زه تر چا کم يم؟

د چا تر ښځه مې کمه کړې يې؟

تا چې ويلي په هغه ورځ مې دې د پلار کره نه يې وروستلې؟

لباس دې تر چا کم دی؟

د ضرورت په وخت مې ډاکتر ته نه يې رسولې؟

جنسي خواهشاتو ته مې دې رسيده ګي نه ده کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځوانۍ کې له چا کم یم؟

څه شوي؟

په دې سره ترڅو ځان مظلوم او بې ګناه وښيي، ښځې خپلې مکرجنې ژړا ته لا زور ورکړو او کلکه منکر شوه، کړل يې:

- دا ټول دروغ دي، خور دې درته ويلي، يا هر چا چې ويلي (غ...) يې خوړلي، ته يې ماسره مخامخ کړه! همداسې خپلې خولې ته يې واک ورکړو، سپکې سپورې يې شروع کړې، د غږ جګولو او بد رد ويلو سره مې يوه، چپړاخه بيا ترې تېره کړه، ترمخ پروت ګلکسي مبايل مې يې راپورته کړو، په دېوال مې وويشتلو، ټوټې ټوټې شو، ان سيمکارتونه او بطرۍ يې ترې راولويدل، بيا پرې وټيټ شوم، تر خلاصه کړکۍ مې وړاندې د خسو او بوټي کوټې ته وروار کړو، سيمکارتونه مې يې خولې ته واچول، ميده ميده مې کړل، له اخيره مې پسې وروغورځول، په داسې حال کې چې د وخت ماډل بالا مبايل و، څو مياشتې مخکې مې په اتلس زره افغانۍ ورته اخيستی و، په هر حال د مبايل او سيمکارتونو تر غورځولو وروسته واپس پرې راوګرځېدم، څنګه چې دا پړ مخې په بستره ور رڼګه وه، سلګۍ يې وهلې، ژړل يې، تر مټ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکش کړه، نیغه مې کینوله، په دې سره وویرېده، چې ګویا بیا مې وهي، مخ ته یې لاس ونیولو، ورته کړل مې:

- لاس دې لرې کړه، وهم دې نه، که څه هم زما په ځای که کوم بل ځوک وی، یا دې د کوم بل ځوان د عزت سره داسې لوبې کړې وی، داسې دې په کلي کور کې د ځوانانو، ملګرو، همزولو دوستاو دښمن په وړاندې سر ټیټی کړی وی، وچ په تندي یې دېرش مرمۍ ویشتلې او درسره بنایدل هم همداسې، خو زه دې دغه دوو، دریو څپړو ته هم سخت مجبور کړم، کنې ما قسم کړی و، چې زه به په ټول ژوند ښځه نه وهم، چون زه الله ج فطري په داسې مفکوره پیداکړی یم، چې د ښځو وهل او ورسره تاوتریخوالی د بې غیرته خلکو ځانګېړنه ګڼم، خو په هر راز، نه غوارم چې کیسې درسره زیاتې کړم، صرف څو خبرې مې په ټول جدیت او خلاصو غوږونو واوره، که څه هم زما خو یوه خبره کول درسره زړه نه غوښتل، له همدې نن ورځې مې لارې درنه جلا او رخصتولې مې، ولې بدبختانه مور او پلار مې درته راوتړلم، د ډېر سخت ګوانښ سره یې مخ شوم، خاص د دوی په خاطر ترڅو بد دعایي او ازار ونکړي، د ځان غولونې په دې بهانه چې ګویا خیر هر انسان په ژوند کې اشتبا کوي، ستا ددې ټولې نه جبرانیدونکې بې لارۍ سره سره یو چانس درته بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



درکوم، ممتا دا په دې معنا نه ده، چې ستا ګنا کوچنۍ او د ببنلو وړ يې، يا زه دومره بې غيرته يم، چې په دې هر څه سترکې پټې کړم او بيا هم ستاسره ژوند کولو ته ترجيح ورکړم، هيڅکله نه، خو ځنګه مې چې ووېل يوازې او يوازې د سپينږيري پلار او بوډۍ مور په خاطر مې، دا ناشوده پرېکړه پر ځان تحميل کړه، خو تر هر څه مخکې لمړی عذر درته کوم، دا مې سر، دا مې لمن، د خدای لحاظ ومنه، نور مه زما، نه مې د کورنۍ او نه هم دخپل ځان، خپلې کورنۍ د عزت، آبرو، نام او ننګ سره لوبې کوه، که د کوم مشکيل يا مجبوريت له مخې ددې کار ته مخه کړې وي؟ ووايه که مې رسيدګې ونکړې شوی، مشکيل مې دې رفعه نکړې شو، ټوله ملامتيا دې زه په خپله غاړه اخلم، حتا که غواړې چې دنده پرېږدم، شپه او ورځ په دې اتاق کې تاته، ستا غوښتنو ته واړوم، هم په سر سترګو، او کنه نو بيا هم درته وايم چې ښه په خلاصو غوږو يې واوره، دا کلې کور ټول زما د صميمي ملګرو، دوستانو ډک دی، چې معمولي غلط قدم پورته کړې، ماته احوال رارسيږي، په ولا باالله صمت الله قسم چې دا ځل دې له اندک بې لارۍ خبر شوم، ولوکه هر څه کيږي، د يوې ساه اخيستلو اجازه هم په دې کور کې نه درکوم، همغه شيبه زما لخوا په شپاړسو شکو طلاقه يې، خپل شملور پلار ته دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارم، نور ته پوه شه او خپل هغه فامیل دې چې ته یې په دې روحیه ستره کړې یې او دا تربیه یې درکړې.

له همدې سره مې جیب ته لاس کړو ، خپل مبایل مې راویستلو ، لمړی سیمکارت مې ترې ویستلو ، دوهم مې نوی اخیستی و ، لا یې نمبر نه و تیت، له همدې نوي سیمکارت سره مې غبرګ کې ورواچولو زیاته مې کړه:

- امممم ! دا دې سیمکارت او مبایل، نور زه درنه ولاړم، ښه فکر پرې وکړه، خوښه دې، له ما سره دې تر دې وروسته د یوې رښتنې مېرمنې په صفت ژوند کولو ته غاړه ایښوده او که دې لاره جلا کوله، خپلې کورنۍ ته دې ورتللې، یا دې د بل هر چا سره واده کولو ، اختیار لرې.

په همدې خبره له اتاق نه راووتلم.

که څه هم دې ته خو مې د بیا ژوند راسره کولو د چانس خبره وکړه، مګر ضمیر مې هېڅ نه منله، چې ددې ښځې سره نور دا باقي ژوند څه، حتا یوه لحظه هم تېره کړم، خو یقین وکړئ زه اول تر اخیره له هېڅ ګناه نه دومره نه وېرېږم، لکه د مور او پلار له بد دعایۍ او آزاره، له شک پرته صرف ددوی او هغه خور په خاطر مې کوم چې زما بدل شوې وه، دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهرو غوړپ کولو ته غاړه کېښوده، چون نموړې خور مې هم ډېره یوه سنګینه او باحیا نجلۍ وه، ان په نهه کلنۍ یې د قرانکریم حفظ وکړو، خو بدبختانه زما په شمول کورنۍ مو ښه ورسره ونکړل، یو خوا مو د شریعت خلاف په واده کولو کې یې ددې هېڅ رایه وانخیستله او عینې حال کې مو یې د بل شرعي حق مهر نه هم محرومه کړه، چون ددې د مهر په بدل کې مو زما ښځه وکړه، بلخوا ښو خلکو ته مو هم نه وه ورکړې، له اولې ورځې سخته پکې خفه او تر فشار لاندې وه.

خو په هر حال د تېر په څېر او نرمال ډول سبا د شنبې په ورځ سهار وختي بیا د خپلې دندې په موخه غزني ته لاړم، خپل کار ځای ته درسېدو سره سم مې ملګري وهاب ته زنګ وکړو، زموږ په کور کې له تېر تېول راز نه مې خبر کړو او زیاته مې کړه: ښځې ته مې وروستی اخطار ورکړی، مقصد وروره ! که زحمت هم درته کېږي، ته یې لږ لږ تعقیبوه، دا ځل دې که مزې معمولي بې لارې هم پکې ولیده، ماته احول راکړه، قسم مې کړی په ولاهې که یې پرېږدم، چې د خضر بابا لور شي او نه به مې نور د مور او پلار خاطر وکړم.

وهاب راغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څه دا ځل دې ښه کړي، چې نور دې څه نه دي ورته ویلي، یوازې سر یې دې ورخلاص کړی، اول خو که انسان وي؟ انشاءالله پوه شوې به وي، توبه به یې ایستلې وي، نور به له دې بدعملۍ لاس واخلي، ولې که لا یې هم ستا له انسانیت نه سوء استفاده وکړه، خپلې بدفعلۍ ته یې دوام ورکړو، بیا نو ځنګه دې چې وویل، خومره چې زر کېږي، ځان ترې خلاصول یې تر ټولو ښه حل لار ده، ښځې کمې نه دي، حتا له بدې ښځې نه چې سړی بیخي بې واده زوړ شي پرې بهتره ده، مبایل کې مې چارج کم دی، چې خاموش نه شي، څه نور دې په الله ج سپارم ډاډه دې خپل کار کوه، زه یې څارم.

په همدې خبره مې د مننې ترې کولو او مخه ښه سره تماس ورقطعه کړو، له دې وروسته به مې هر مازیګر له وهاب نه احوال اخیستو، دده ځواب به هم مثبت و، ان تر دې چې څو میاشتې ووتلې، وهاب ویل:

- نه انشاءالله هېڅ ستونزه نشته، له همغه ورځې نه چې سر یې دې ورخلاص کړی، بیا مې څه خرابي نه ده پکې لیدلې، تل دې د کړکۍ پرده کش وي، هغه حراموني هم اوس نه وینم.

په دې خبره مې له وهاب نه د تل په څېر بیا هم مننه وکړه، که څه هم ځنګه چې ویل کېږي: د ملغلرې یو آب دی، چې لاړو نور معنا نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکنۍ کړې بې لارۍ یې ډېر سخت ځورولم، خیال او هواس مې یې تول هوایي کړي و، ولې بیا هم دا چې له نور تخریب نه یې لاس اخیستی و، د وهاب په خبره خوشحاله شوم.

لنډه دا چې شپږ، اوه میاشتې مې یې کوم د بدو غږ وانه وربدو، زه به هم د پخوا په شان هره پنجشنبه کور ته راتلم، دوې شپې به مې کور کولې، د شنبې په ورځ به واپس راتللم. له پلوشې سره مې یې هم د تېرو بدعملیو له وجې هېڅ تعصب نه کولو، چې ګویا ته خو همغه ښځه یې، نه بلکل مې ځان نه پرې پوهولو، هغه درد مې یې پټ په خپل زړه تېرولو، اما څنګه چې وایي، علت ورکېږي، عادت نه ورکېږي، همدا سې ده، زه ورته خوشبین وم، خو د ظالم لور لا هم د خپل عادت نه لاس نه و اخیستی، بدبختانه یوه ورځ بیا دا زېرې راباندې وشو، غزني کې وم، سهار وختي لمونځ مې لا نه وکړی، تیاره وه، چې د مور له مبایل نه مې زنګ راغلو، په بې وخته زنګ راتلو یې ورخطا شوم، زړه کې مې کړل: الله ج دې خیر کړي.

موبایل مې اوکې کړو، ترخو مې بلې وبل، د پلار مې په جګ آواز ډېر غوسه ناک او دردېدلی غږ راغلو، کړل یې:

- خاروانه! اورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ، اغاجانه ! اورم خیرت دی؟

- خیرت زموږ په نصیب کې نشته زویه ! چې هر څنګه یې کوې راشه ددې فاحشې دې نور یوه غمه وخوه ، تر دې خبرې وروسته یې غږ ګډ وډ شو ، څه پلار ډېر قهرجن و ، واضیح نشوی غږېدی، څه د شبکې ستونزه وه، بالاخره ګوشي مې مور واخیسته، که څه هم ژړل یې، خو بیا هم نسبت پلار ته مې، څه ناڅه یې خبره صحیح کېده، په سلګیو سلګیو کې یې کړل:

- یو ځل څو ورځې مخکې د شپې مې حاوېلۍ کې بوشکې ډکولې، د کلا له شانه ستا د کوټې بام ته تېرې راوار شوې، د بام له څنډې حاوېلۍ ته راولوېدې، چې اغاجان دې وروتلو ، څه شی یې ونه لیدل، خو د پښو دربار مو یې واورېدو ، چې څوک وتښول، هغه خبره خو مو له تانه پټه کړه، بیا مې دې ښځې ته وېل نور به زه هم د شپې ستاسره اطاق کې څملم، لکه چنګړې داسې راوشکېده کړل یې: له ماسره مه څمله، په ځان او په لور دې پیره وکړه، زه څوک نه راسره پرېږدم، نور مې هېڅ ورته ونه وېل، خوله مې پټه ونیوله، ترې راروانه شوم.

نن بیا د شپې دولس بجې وې، د دروازې د قید په ورو، ورو کړپې راوېښه شوم، چې ځان مې سم رابیدار کړو ، ورته غوږ شوم، ډېر ارامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې د دروازې د خلاصېدو غږ هم واورېدو، زر مې دې په اغاجان غږ وکړو، چې دروازه خلاصه شوه، څوک راننوتل، په دې سره معصومه هم راوېښه شوه، اغاجان دې تر مخ شو زه له اخيره پسې شوم، د دهلېزه ور يې چې راخلاص کړو، مخامخ ستا د اطاق په زينو کې يې دا خريمه تر مخ وه، دوه کسه غلي غلي پسې و، غوښتل يې اتاق ته ننوځي، زموږ د وره ورخلاصولو سره، دا فاحيشه زر اتاق ته ننوتله، لونډانو يې ببرته په شاه رامنډه کړل وتښول، د سپوږمۍ رڼا وه، خو موږ ونه پېژندل، تر دروازه چې ووتل معصومې له کړکۍ نه ليدلي و، وېل يې: يو مې ونه پېژندو خدايزده څوک و؟ دا بل د پلوشې خپل د کاکا زوی و.

خو هر څوک چې و، دوی خپله مخه ونيوله ولاړل، اغاجان دې چې واپس له دروازې ترې راوګرځېدو، د ببلر پيپ يې راوخيستلو، خريمه ته دې ورغلو، لمړی خو يې ور نه ورته خلاصولو ځان يې په ويدو واچولو، چې ور يې خلاص کړو، خدايزده کوم پيپ به يې وهلې وي کنه؟ سپينږيری سړی دی، چېرې د بېچاره زور پرې رسېږي، پيپ يې کلک ونيولو، دې هم سمې منګولې وراچولې، لکه کيچې داسې کړچېدله، منکر شوه ويل يې: زه په هېڅ هم نه يم خبره، کور ته به مو غله راغلي وي، د مور کيسې لا دوام لرلو، په خبره کې يې ورولوېدوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوس مه ترې ژاړئ، ما خو يې يو کال مخکې پير په لاس کې ورکولو، تاسو يې مخ کې ودرېدئ، کني ما ان له اولې ورځې پېژندلې، سترګې يې دښځې نه دي او نه به په ټول ژوند ښځه شي، لا مې خپلې خبرې نه وې تکميل کړې، چې بيا مې د مور په جګ اواز د ژړا سره ګډ غږ تر ما تېر شو:

- ااالا کاشکې زويه ! همغه وخت مو ستا په خوله کړي وی، ددې سپک لوبې نه مو ځان خلاص کړی وی، داسې پښېمانه يم لکه هندو په کليمه.

- ژاړه مه خير اوس هم چې راسره موافق شوئ صحيح ده، اغاجان ته ووايه چې ځان يې تيار کړي، زه همدا اوس دې ته هم زنګ کوم، ترڅو زر تر زره يې مخ ورک کړي، فقط ورته ووايه خپلې دروازې ته يې له لرې ورخوشې کړه نور ته ترې راځه. اګر چې نسبت ددې تېر اختيارئ ته خو شيطان راته وايي، ترڅو همدا اوس درروان شم، داسې درس ورکړم، چې اووم پوشت نسل ته يې هم درس پاتې شي او بيا د چا د عزت او دروازې سره داسې لوبې ونکړي.

- نه زويه ! هلته دې خور ددې کفارو په کور کې ده، خداينا خوسته چې بيا ددې کمچنۍ سخور تر هغه ملنګه ونه باسي، اوس يې هم په اور

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخه کړې، اول دې ښه خبره وکړه فقط مخ يې ورک کړئ، وروشړئ، زمونږ د ځورولو او دروازې د سپکولو سزا دې خدای ج ورکړي.

- سمه ده مورې ! لمونځ مې نه دی کړې، څه فعلاً مو اللہ ج مل شه، زه مو وروسته احوال اخلم !

له همدې سره مې د مور نه تماس راقطعه کړو، پلوشې ته مې زنګ وکړو، له اوکې سره سم يې په ژړا کې کړل:

- بلې ښاروانه اورې !؟

- هو اورم، فاحشې ! تا بيا خپل عمل ترسره کړو او ژاړې هم لا ته !؟

د ښځې د مکرانه ژړا غږ لوړ شو او په قسمونو يې پيل وکړو، چې ګويا مور او پلار دې دروغ وايي، زه په هېڅ نه يم خبره، کور ته غله رالوېدلي او که هر څوک و؟ دوی يې په ما رااړوي، خبرې يې لا نه وې خلاصې غږ مې پرې وکړو:

- بس، بس نور خبره ختمه ده، ډېر وخت مې درکړو، عذر مې درته وکړو، د خدای لحاظ مې درته وړاندې کړو، خو ودې نه منلو، اوس مې دې د بېولالو د اورېدو لپاره زنګ نه دی درته وهلی، ځنګه مې چې پس له عذر، زاريو درته ويلي و، نور له همدې لحظې زما لخوا په سلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاقونو طلاقه يې، ورشه د هغه چا سره واده وکړه چې زما او زما دکورنۍ پت او عزت دې ترې قربان کړل، له دې وروسته ستا لپاره زما په کور د يوې دقيقې تم کېدو لپاره هم ځای نشته، وروځه اغاجان مې حويلۍ کې درته ولاړ دی، تر خپلې دروازې پورې دې رسوي، فقط زر تر زره دې مخ ورک کوه.

نور مې تماس ترې راقطعه کړو، په اودس او لمانځه پسې جګ شوم، نيم ساعت وروسته مې بيا مور ته زنګ وکړو، له سلام وروسته مې کړل:

- ښځه مو وکړل؟

مور مې راغبرګه کړه!

- الاااااا داسې نخرې يې وکړې زويه! تا چې دتلو ورته ويلي و، حويلۍ ته راووتله، په سپکو يې شروع وکړه، په خپلو متهو او سينو يې خولې ولګولې ځان يې تک شين او زخم زخم کړو، په همغه حالت تک تنها له کوره ووتله، د ولايت سرک ته وروا وښته، اغاجان مې دې له اخيره پسې ورولېږلو، ترڅو سرک ته ورسېدو، دا موټر ته ختلې وه، اغاجان دې واپس کور ته راغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښه یې کړي چې واپس ترې راغلی، بلا مو پسې، مه پسې ګرځئ، انشاءالله هیڅ هم نه کیږي، زه مو احوال اخلم، که ضرورت شو، همغه ساعت ځان درسوم، فعلاً زموږ کار شروع شو، خدای ج دې مل شه!

- ښا زویه! څه مخې ته دې ښه، خدای ج دې وساته!

تماس مو قطعه کړو، په دې نه وم خفه چې ښځې ته مې طلاق ورکړو، یا مې ژوند ګډ وډ شو، یوازې خور (عالیه) ته مې اندېښنه و، کوم چې زما د ښځې په مقابل کې بدل شوې وه، د غرمې د ډوډۍ په محال چې له کارخونې د وتلو اجازه راکړل شوه، بهر راووتلم، زنګ مې ورته ووهلو، مبایل یې خاموش و، له دې سره مې اندېښنه لا زیاته شوه، لنډه دا چې مازیګر مې بیا زنګ ورته وکړو، دا ځل هم زنګ ورنغلو، له دې سره مې بېخي زړه وروختلو، کور ته مې زنګ وکړو مور، پلار او کورنۍ خور مې معصومه هم په دې اندېښمن و، چې د عالیه مبایل خاموش و، هیڅ احوال یې نه ترې لرلو، مور ته مې ډاډ ورکړو، چې خیر خدای به څه نه کوي، ډېره اندېښنه مه کوئ، سبا زه له شرکت نه روخصت اخلم، ورځم احوال یې اخلم، په دې سره مې ګوشي پلار وا خیستله کړل یې:

- ته مه راځه زویه! چې له کار نه دې ونه باسي، لار هم ډېره ده، سهار مې چې چای وخوړلو، زه ورځم وینم یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سمده اغاجانه ! زه یا ته مقصد چې یو څوک ورشو ، له حاله یې ځان خبر کړو.

- هو ، هو زویه ! څه ارامه او سه سبا انشاءالله زه ورځم !

په همدې خبره مو د خدای ج پامانۍ په کولو سره تماس قطعه کړو ، د شپې تر تېرېدو وروسته سهار مې بیا لمړی عالیه ته زنګ وکړو ، شبکې همغه ځواب راکړو چې ګویا موبایل یې خاموش دی، بیا مې کور ته زنګ وکړو ، له سلام او حال احوال تر پوښتنې وروسته مې پلار کړل:

- زه یې کور ته ور روان وم، خو همدا اوس د عالیه له خسرخیلو نه، چا زنګ کړی و ، ویل یې: ستاسو لور ته یې خاوند طلاق ورکړی، لږ ناروغه وه، د سپین مانه روغتون ته مو راوستلې، پسې راشئ دریې ولئ. دا دې اوس له دروازې ووتلو ، زه او مور دې دواړه روغتون ته وروان یو.

که څه هم زړه مې سخت درد وکړو ، خو پلار ته مې ورغبرګه کړه:

- بنا ، څه خداج مو مل شه، پخیر ورشئ، څه چې تقدیر وي، بله نه کېږي، همدې کې به مو خیر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور مو تماس قطعه کړو، بالاخره دوی چې کله روغتون ته ورسېدلي و، لوری یې د بستر په چپرکټ پرته، سیروم پرې چالاند او ټول بدن یې تک تور او شین زخم زخم، لکه سپیانو چې خوړلې وي، په ډېر بد وضعیت کې یې لیدلې وه، ان په مخ یې څو سوکان ډېره مضبوطه، مضبوطه وهلې وه، چې د پړسوب له وجې یې څو شپې سترګې نه لوخېدې، نمورې روغتون ته یې هم یوه تربره راوړې وه، د دوی له کور نه هېڅوک هم نه و، ورسره، خو مور او پلار مې دا د وهلو او سخت ظلم ورسره کولو خبره یې له مانه پټه کړه، صرف وویل: عالیه مو کور ته راوستله زویه! طلاق یې رښتیا ورکړی، یوسف یې هم ترې ګرځولی.

له یادولو دې پاتې نه وي (یوسف یې یوازنی وړکی یونیم کلن زوی و) ډېر هوښیار او بیدار هلک و، زموږ په شمول پخپله مور یې عالیه هم زښته زیات ګران و، خدايې چې شي په طلاق مې یې دومره زړه بد نشو، اما ددې خبرې په اورېدو مې زړه سختې څړیکې وکړې، خو د ظالمانو سره څه کوې؟ په هر حال خپلې خبرې ته راځم مور ته مې د ډاډ ورکولو په پار کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خیر موري ! خدای ج به خیر پېښ کړي، یوسف هم کوچنی دی، بې موره یې دوی شپې هم نشي ساتلی کوندې وي، په زړه یې د رحم اوبه تویې شي، راویې لېږي.

په دې سره مې مور په زړا شوه، زما هم سترګې راډکې شوې، خبرې له دواړو نه ولاړې تماس مې ورقطعه کړو. درې څلور ورځې وروسته زه هم د جمعې د رخصتۍ په پار له غزني نه راروان شوم، خو له بدمرغه کور ته د رارسېدو سره سم مې د عالیه په ډېر بد وضعیت سترګې ولګېدې، لا یې هم د مخ پړسوب نه و ناست، بدن یې څب څب، ټوله تکه توره او شینه وه، زما د ولې؟ په ځواب کې یې کړل:

- پلوشه په چیغو او ژړا کور ته راننوتله، لاسونه او غاړه یې په وینو سره و، وېل یې ټول راباندې راټولو شول، لمړی یې ښه ووهلم، له وهلو وروسته یې تر دروازه بهر ایساره کړم، چې نوره زمونږ نه یې پکار ورځه خپل کور ته دې.

په دې سره دوئ د خپلې غوسې سړولو لپاره په ما راټول شول، ډېرې زارۍ مې ورته وکړې چې زما یې څه ګنا؟ خو چا مې غږ نه اورېدو، اخیر کې کریم په مخ په سوق ووهم، نور نه یم خبره شوې، روغتون کې په هوش راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خور له خولې ددې خبرو په اورېدو سره ته وا اور مې واخيست، پرته له چای څښلو او دمه جوړولو جګ شوم، په کوټ بند ځوړند جمفر مې واغوستلو، ورته کړل مې:

- ته سيلاب نه يې راوړې، ماغوندې ورور لرې، صرف يو ساعت صبر وکړه، داسې ناز به دې واخلم، چې تر اوسه بل ورور د خور نه وي، اخيستی. له همدې سره يې په ټوک، ټوک وجود راټوپ کړل، مخ کې مې ودرېده ان تر زنه يې ونيولم، بلاخره هر څه مې چې وکړل، اجازه يې رانکړه، جمفر يې واپس رانه ويستلو، کنې ډېر سخت عصباني شوم، زړه کې مې و چې ورځم، به هر يو يې چې په ګوتو راغلو، داسې درس به ورکوم، چې د ټول عمر لپاره يې عبرت شي او ورته ښيم به چې وهل داسې وي، بې غيرتو په ښځو مو زور رسېدلی؟ ستاسو خور او لور زمونږ فت او ابرو لوټ کړل، مګر بيا هم دا چې ښځه وه، زما ضمير نه منله ترڅو وار پرې وکړم او تاسو يوه بې ګنا ښځه داسې بې رحمه وهله؟

خو په هر راز د خور د سخت ممانعت له وجې مجبور شوم، هر څه مې خدای ج ته وسپارل، شپې ورځې تېرېدې، که څه هم نور ارامې شوه، له هغه سپکو سپور کيسو مو غوږ په کرار شو، ولې بيا هم زما په شمول ټول د کورنۍ غړي مو لکه خوب چې وينو، هواس او خيالات مو ټول يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم هوايي و ، هېڅ مو په خپل نرمال ژوند کولو تمرکز نه راتولېدو ، دا يې هم په هر حال، څو ورځې وروسته د عاليه زغم ختم شو ، په زوی پسې يې زړه وختلو ، ان تر دې چې د څو نورو ورځو په تېرېدو بېخي پسې بې تابه شوه، شپه او ورځ به يې په مخ اوښکې راروانې وې، ژړل يې، لمړيو کې خو مو ډاډ ورکولو ، چې ګواکې هر څه هېر کړه، داسې وګڼه لکه واده کول، زوی او طلاق دا هر څه دې چې يو خوب ليدلی وي، د پيغلتوب د وخت په شان دې خوشحاله او ارامه بيا خپل ژوند ته دوام وکړه، مګر څنګه چې کوم شاعر وايي:

که زړه ته سل تسلې ورکړم

سترګو ليدلی جانان کله هېروينه

ددې هم له يوسف نه زړه نه صبرېدو ، بالاخره تنګ يې کړو ، بله ورځ ورته غوسه شوم، کړل مې:

- انسان ته يو ځل خبره وشي، له دې وروسته دې په مخ اوښکې ونه وينم، نور غمونه او اندېښنې مو کم دي؟ چې يو تا نه و ليوني کړي...

خو دې خوارکۍ په ځان او خپله ژړاه واک له لاسه ورکړی و ، اما له دې پس به يې زموږ نه پټ، پټ ژړل، کله به يې د اطاق ور پسې قلفک کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، کله به بلاخاني ته جګه شوه، هلته به يې ژړل، هر سهار به چې راپاڅېده بالښت به يې په اوښکو لوند خوشت و، ټوله شپه به يې ژړلي و، ان تر دې چې شپږ مياشتې وروسته ډېر سخت عصبي تکليف ورته پيدا شو، بسته يوه شپه، ورځ به بې حاله شوه، په هېڅ به هم نه خبرېده، سره ددې چې ډېرې دواوې مو هم پرې وکړې، خو ښه نشوه، همغه شان عصبي حملې به پرې راتلې، په شپو او ورځو به بې هوشه وه، رڼې سترګې به يې نيولې وې، نور يې نه څه خوړل، نه يې څښل، صرف کله کله به يې همدې بې حالۍ کې هم د يوسف نوم واخيستلو، خو څنګه مې چې وړاندې وويل، سره د هر ډاکتر د دوا خوړلو يې ناروغي د هرې ورځې په تېرېدو سره زياتېده، لنډه دا چې يو کال پس يې خپل مظلومانه روح لايزال څښتن ته تسليم کړو، په حق ورسېده، اما له بده مرغه ان تر ساه ورکولو وروسته مو هم چې هر څه پرې وکړل، لا يې هم سترګې پټې نه کړې، بالاخره د خپل وړکي زوی يوسف جان د ليدلو په ارمان مو يې لوڅې سترګې په لحد کې کېښوده خاورې مو پرې وروا ړولې. انا الله وانا اليه راجعون.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موندلی مبایل

د جمعې په ورځ به اکثره وخت د تفريح په پار کارت سخي زيارت ته تللم، چون کور ته مو لنډ و، کوم مصرف مې نه پرې راتلو، په همدې اساس دا ځل هم د جمعې ورځ وه، تر کرکۍ مې وروکتل، په زيارت کې او زيارت ته خپرمه پوره ګڼه ګونه وه، زانګوګانو ټالونه وهل، د ماشومانو چغ او پوغ و، سم له لاسه ور روان شوم.

چې ور ورسېدم، څنګه چې له کور نه مو ښکارېدو، رښتيا هم دا ځل نسب نورو وختونو ته ګڼه ګونه ډېره زيات وه، ولې چې نوی کال و، د نوروز د ميلې په پار ډېری خلک فاميلي راغلي و، فرشونه يې هوار کړي و، ديګونه (پخلي) يې کول، چا تازه ميوې او خواږه شربتونه له ځانونو سره راوړي و، زه څو دقيقې هاخوا دې خوا وګرځېدم، له تاسو يې څه پټه، طبعاً د ځوانۍ دوره کې په ښکلو نجونو پسې د سرې نظر اوړي، له ما هم د زنګوګانو، کفترو او نورو بېلا بېلو لوبو د سيل کولو، تر څنګه ځينې ځوانې نجونې د ښو تر قاتو او سترګو تر ګونجو، تقيبې دې، که څه هم سنګارونه يې کړې و، نوې نوې جامې يې په تن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، ټولې ښې ښکارېدې، د نوځوانانو یا هم مجردانو په حواسو هرې یوې کم او زیات راج کولو، اما یوه نیمه به بیا د سینګار کولو علاوه طبعیي هم ډېر ښکلې وه، سم یې زړونه ورښکل. خو په هر حال له ګرځېدو راګرځېدو ستړی شوم، ممکن ځینو ملګرو کارته سخي زیات لیدلی وي؟ د انګړ داخلي جوړښت یې سپاچه، سپاچه دی، له ټولو پاسنۍ سپاچې ته یې وروخلم، چون هلته تر ډېره غیرې فامیلي، جره نارینه ناست و، د اوږې دسمال مې رالاندې کړو، د سپاچې په څنډه کېناسم، مبایل مې راویستلو، یو ملګري ته مې زنګ وکړو، له بدمرغه نمبر یې بند و، کني زړه مې و، چې راویې غواړم، یوه څه به موږ هم وخورو یا وڅښو، خو دا چې تنها پاتې شوم، څو دقیقې نور هم ناست وم، بلاخره، کور ته د راتلو په نیت راپاڅېدم، له دوه، دریو سپاچو راښکته شوم، په څلورمه د یوه ګلدان ترڅنګ، د انرژیو د خالي بوتلونو او بیسکوټو د کاغذو مینځ کې یو غټ ګلکسي مبایل پروت و، زر پرې ورټیټ شوم، د یو بیسکوټ د کاغذ سره جوغت مې راپورته کړو، د اوږې په د سمال کې مې پېچلی لاس کې غلی ونیولو، نور مې ونه کتلو چې روغ یې که خراب؟ وېرېدم، څو هسې نه څوک دعوه پرې راوکړي، تر ډېر مې غوږونو انګازې کولې چې اوس به له شانه غږ راپسې کېږي، اوس، مګر څه مې وانهورېدل، له کنې ګونې راووتلم، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيارت له عمومي دروازې بهر د هديرې منځ کې، کوم چې زمونږ د کور طرف ته لاره پکې راتېره وه، غلی مې لړ، لړ و کتلو منځنۍ بټنه مې يې کليک کړه صفحه يې روښانه شوه، خو په داخل کې يې د نورې لاس وهنې لپاره رمز غوښتلو، واپس مې يې صفحه خاموش کړه، دا چې له جوړوالي يې هم ډاډه شوم او ډېر نوی سېټ و، زيات ورته خوشحاله شوم، چون له يوې خوا مې تيار يو غټ مبايل ته ضرورت و، خپل مې نور له کاره لوېدلی و، پته دې نه وي د اخيستلو پيسې مې يې هم نه لرلې، بلخوا که فکر مو کړی وي؟ مونډلي شی که هر څو ناچيز هم وي، هسې لمړيو کې يو څه خوشحالي لري. خلاصه کور ته د رارسولو سره سم مې د کمپيوتر سره وصل کړو، رمز مې يې پرې والوزولو، فوراً په سکرين زما په سن د يو ښايسته زلمي تصوير په صفحه راغلو، بيا مې کرديت پکې وکتل (۴۱۲) افغانۍ او تقريباً (۱۸) جي بي انترنيت پکې و. دا يې لا بله خوشحالي، له دې هر څه نه په دې خبره ډېر خوشحاله شوم، چې د کوم غريب سړي نه دی، تر څو زړه يې پسې وخوږېږي، يا بل وانخستلی شي، ولې چې غريب سړی مبايل کې دومره کرديت او انترنت نشي اچولی، نور له پيام پانې راووتلم، چې ومې ليدو فسبوک هم خلاص ترې پاتې وو، ډېټا مې پرې راچالنده کړه، ايډي يې د (يونس افغان) په نوم وه، ټوله ايډي مې سر تر پايه چک کړه، ډېر باادبه؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديني، هر اړخيزه علمي او معلوماتي پوستونه يې کړي و، پوستونو ته په کتو يې ډېر فعال، شريف، وطن دوست او له انسانيت نه مالامال انسان ښکارېدو، ان تر دې چې زړه کې راتېره شوه: د داسې شريف او هېوادنۍ مينې ته زمن، کاکه ځوان خپه کول خو ولاکه مناسب وي.

خو په هر حال له فسبوک پاڼې راووتلم، ګالري مې راوسپړله، لمړۍ پوشه کې دوې، درئ د عبدالله مقري، دوې د ميرمن نغمې ميهنې سندرې پکې وې او يوه هم د لطيف ننګرهاري، هغه سندره وه، چې وايي: لولفه شوم اور مې واخيست اې بچيانو ! ستاسو کور افغانستان يم...

دوهمه پوشه مې راخلاصه کړه، سلګونه عکسونه پکې و، ډېرى يې د نظامي کسانو و، خپله يې هم زيات عکسونه په نظامي يونفورم کې اخېستي و، ځينو کې تنها ؛ ځينو کې له ملګرو سره ولاړ و، همداسې د پوهنتون نه د فراغت په خولۍ او چپنه کې د جشنوارې د دورې په انفرادي او همصنفيانو سره په مجمعي توګه ئې ډېر عکسونه اخيستي و، له دې هاخوا ډېر نور دغيرې نظاميانو، ښو، ښو منظيرو، ګلانو، حيواناتو... عکسونه يې پکې ځای په ځای کړي و، خو ددې ټولو سربېره يوه پوشه کې ځانته تقريباً دېوې پنځه ويشت يا هم دېرش کلنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې شپږ، اووه عکسونه و، څلور يې په يوازې ځان اخيستي و، په دريو نورو کې يو ببرسرى سپين پوستى ماشوم هم ورسره دى، په يوه عکس کې ورسره ناست دى، بل کې ولاړ دي، دريم کې يو بل ته ورغاړې وتلي، خو دغه د ښځې او ماشوم عکسونه له ورايه ښکارېدل، چې له پخواني کاغذي عکسونو نه اخيستل شوي و، په ټول کې داسې تصور ترې کېدو، چې ممکن د همدې ځوان او مور يې سابقه عکس به وي، چون د فسبوک د بکګرونډ په لمړي نمايش کې يې هم د ډېرې مينې له وجې، درى، څلور عکسونه له همدې عکسونو لګولي و، نور نو والله علم.

لنډه دا چې مبايل مې هر اړخيزه چک کړو، څنګه مې چې وړاندې وويل ددې سربېره چې ښه نوى، او د هغه وخت ماډل بالا سيټ و. (۱۲۸) جي بي حافظې له پاسه (۳۲) جي بي ميمري کارډ يې هم درلود.

تر چک کولو وروسته مې دده فسبوک پاڼه هم بېخي پکې بنده نکړه، خپله ايډي مې په بل فسبوک اپليکشن کې خلاصه کړه، نور مې بې غمه خپله استفاده ترې شروع کړه، خو هره ورځ به مې يو نوى، نوى داسې څه پکې ليدل، چې وجداناً به يې ټکان راکولو، د بېلګې په ډول يوه ورځ مې هسې ګوګل ډرايو ( Drive)راخلاص کړو، ټول يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتون، کورسونو، نظامي تعليماتو مهم اسنادونه پکې ذخيره کړي و، همداسې نور. فکر کې به راتېره شوه چې ګويا دا سړی به يې مبايل پسې واقعاً ډېر خپه او پرې کارياب وي، بده ده، راځه د يو واقعي ځوان په صفت ځان ثابت کړه، کومې شمارې چې پکې ثبت دي، زنګ ورته وکړه، له طريقه يې مالک راپيدا او مبايل يې ورته وسپاره. خو همحال به برعکس دا فکر راباندې غالب شو: چې ګويا ما خو يې څه سيمکارت له مبايل نه دی ايستلی، که پسې خفه وی؟ يا يې په اسنادونو کارياب وی؟ زنګ به يې پسې کړی و، يا به يې راوکړي، کنه نو څه په روغ سر داغ لګوې، په همدې کې شاوخوا شل ورځې نورې هم تېرې شوې، اما تر دې دمه يې چا پوښتنه ونکړه. کله به فکر کې راغلل: ممکن صاحب يې مړ وي، چې هېڅ پته يې نه لګېږي، ځوانۍ او افکارو ته يې په کتو يې، زر به مې کړل: خدای ج دې نه کړي د مرګ لايق خو نه دی.

لنډه دا چې مياشت تېره شوه لا يې هم چا پوښتنه ونکړه، بله ورځ هسې د ساعتېرې په پار بيا مې دده فسبوک پانه را خلاصه کړه، له خلاصولو سره سم، کړنګ کړنګ دوه، درې مسېجونه ورته راغلل، دا دوه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې طنزي تصویرونه و، دریم مې راوسپړلو چې کتل مې د ( سیاره حیا ) په نوم یوې نجلۍ له ادرسه لیکل شوي و:

- بیا هم سلامونه یونس جانه ! هیله کوم، نوره مې په انتظار مه کړوه، حداقل یو څه خو ووایه !

مسېج همدومره و، د ښځینه نوم سیارې حیا له آدرسه را استول شوې دې ډول خبرې او مسېج ته مې تلوسه شوه، د نورو مسېجونو په لټه یې، د مسینجر په صفحه پورته پسې ورتېر شوم، چې لیدل مې، دوه مسېجونه یې نور هم کړي و، د لمړي یې له میاشتې زیات وخت وتلی و، خپله د مبایل صاحب هم لوستی و، د دوهم بیا (۱۵) ورځې وتلې وې، دا نو بیا بې لوستو پاتې وو.

په لمړي مسېج کې کوم چې خپله یونس هم لوستی و، لیکلي یې وو:

- یونس جانه سلامونه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هر څه مخکې هیله ده، کامل صحت، او روحي سکن ولرې.

پس له سلامه باور وکړه کالونه کېږي غوارم اړیکه درسره ونیسم، خو څه ستا ستوری لوړ دی، جرئت دربانديي درکول اسانه نه دي؛ څه مې پښتون غرور او حیا اجازه نه راکوله. له بلې خوا داسې الفاظ نه و او نه مې هم اوس پیدا کړي، ترڅو څه ناڅه خو مې په هر ژبان کې ستا سره د خپل زړه د لیونۍ مینې ناري دربانديي اورولي وی.

ستا سره ترلو نړۍ، نړۍ رنګینو هیلو یو تت انځور خو مې درته ښکاره کړی وای.

تاته د اندام، اندام؛ رګ، رګ لوږه، تنده مې درته ښودلي وای...

په پای کې د همدې دریو ټکو په کارولو سره یې مسیج را استولی و، نور یې څه نه و لیکلي.

ګوته مې په سکرین کش کړه، دا مې پور ته تېر کړو، د دوهم مسیج په لوستلو مې پیل وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- یونس جانه بیا هم سلام !

ځواب ته مې دې دوه سترګې څلور شوې څلور اته شوې اته شپاړس، اما بدبختانه لا هم رامعلوم نشو.

ممکن پیام مې دې لوستی وي؟ خو هسې خبره یا له کوم مستعار ادرسه دې ګڼلی وي، ملامت نه یې، پوهېږم چون نن سبا خصوصاً ددې اجتماعي رسنیو په دور کې، دا د مینې خبره یوه معما ګرځېدلې.

خو هیله کوم ما دهغه خلکو له جم نه مه شماره، زه مې د خپلې خبرې، یعنې ستاسره د زړه له تله مینې لرلو د رښتینولۍ او اخلاص د ثبوت لپاره ستا هر سوال، هرې پوښتنې او غوښتنې ته تیاره یم او له ویلو دې پاتې نه وي، زه، ستا په ښه ځوانۍ، ښایسته وېښتو، قد قامت، ملک او شتمنۍ نه یم مینه او نه مې له تېرو پنځلسو (۱۵) کالونو راهسې مخامخ لیدلی یې، ما چې لیدلی یې هغه وخت وړکی ماشوم وې، د ګیرې دې نوم نه و، وېښته دې بې ترتیبه غټ و، زړې جامې دې په تن وې، د ظاهري څېرې له مخې دې د مینې درباندې راتلو هېڅ درکې نه و، له یو نیم فسبوکي انځور دې پرته، له همغه ورځې مې بیا تر ننه نه یې لیدلی. همداسې له شتمنو دې هم خبر نه لرم، وې که، نه وې؟ مهم نه دې، مونږ شکر هر څه لرو اړتیا نه ورته لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس طبعاً اوس به دا سوال درته پیدا شوی وي: چې نه دې لیدلی یم، نه مې د ژوند له نورو برخو معلومات لرې، پس څنګه امکان لري چې څوک دې بیا د چا سره دومره مینه ولري؟

سوال دې په ځای دی، ځواب کې یې وایم:

- هرو مرو به دې یاد وي؟ شاوخوا څورلس، پنځلس کالونه له مخه چې وړکی ماشوم وې، که څه هم زه له تا وړکی وم، دومره نه پوهېدم، خو را وروسته، وروسته ورځ تر بلې مې چې سر خلاصېدو، په هغه وړکي ځان چې تا له کوم غیرت، جرئت، هوښیارۍ نه کار واخیستلو، زما د پلار له ډېرې بدې ارادې او وحشت (جنسي تیري) نه دې ځان وژغورلو، هغه ورځ تا یوازې ځان ونه ژغورلو، بلکې له همغه ورځې دې زما توجه او تمایل هم د ځان طرف ته درګرځولی او ورځ تر بلې زیاته دې په لور در زانګه کړې یم، ان تر دې چې میاشت مخکې لمړنی پیام درته کول مې، د بوټه در پسې ماتېدو کړس و. البته دا در ماتېده مې نه یوازې د پورته یاد ماشومتوب د څنګړتیاو په اساس دې و، بلکې نن دې چې انځورونو کې د نظامي دریشۍ په مټ له رتبې (نښان) کوم قدرت وینم، له شک پرته زما د پلار په شمول، له مور سره دې د شوي ظلم د عاملینو، همداسې نورو هغه ټولو ځناورو په وړاندې چې ستا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتوانۍ، بېکسۍ، يتيمۍ، مظلوميت نه په استفاده يې ستاسو په کور ځمکو، ماديا تو، عزت او انساني حرمت ځناورنه حملې وهلې، په هر نوعه سزا ورکولو او غچ ترې اخيستلو يې پوره، پوره بر لاسی يې، خو لا هم په وړاندې يې هېڅ عکسل عمل نه ښودل يا هم معاف کول يې ستا په ډېره لويه مېړانه او شهامت دلالت کوي. بناءً په ټوله معنا دې له معنويته متثره او ستا په شان د يو باشهامته، ستر انسان په غېږه کې د سکن کولو جل وهې مرغۍ يم، پس په خپل همت او غرور نه ډکه ځوانۍ دې قسم، که به مې غږ نه اورې او ترحم به نه راباندې کوې.

د ځواب په اميد مو،

درننښت.

مسېج همدومره و، ښنګه مې چې وړاندې هم يادونه کړې، د فسبوکي شريفانه فعاليت سربېره، په مبايل کې ځای په ځای کړو مهمو اسنادو، مسنونو دعاګانو، يادګاري تصويرونو او ويډيو ګانو... ته په کتو يې د يو ځوان په صفت روحاً د نارمۍ احساس مې کولو يا هم وخت ناوخت به د خپل وجدان لخوا يونيم نرم غږ راباندې کېدو، چې ګويا دا منه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرت وي، یا د یو ځوان سره ښایي چې د بل ځوان له شخصي رازونو ډک مبایل یې ترې غلی کړی وي.

خو د سیاره نامې نجلۍ لخوا ورته راا ستول شؤ، مسېجونو په لوستلو سره مې د نمورې ځوان لیدو ته هم ډېره تلوسه شوه، چون دده په تېر ژوند کې ځینو ډېرو عجیب او حیرانونکو واقعاتو ته اشارې پکې شوې وې، په ټول کې داسې ترې ښکارېده چې د هلک ژوند له کتاب، کتاب جالبو او اورېدني خبرو ډک دی.

همدا و، سره ددې چې د مبایل ورته تسلیمولو ته خو یې له وړاندې وجداناً قایل شوی وم، ولې ددې مسیجونو او مسیجونو کې د هلک د تېر ژوند په اړه د هیاجاناتو د یادونو، په باب خپله دده له خولې د کیسه اورېدو په پار مې د نمورې یونس نامې هلک لیدو او یو فرصت وخت کې ورسره کناستلو، مجلس کولو ته ډېره زیاته تلوسه شوه. مبابیل کې یې د شمارو نملړ ته ورغلم یوازې دوې شمارې پکې ثبت وې، دواړه مې دایرې کړې، د شبکې له خوا ځواب راکړل شو، چې ګویا د دسترس په ساحه کې نشته یا هم خاموش دي، سبا سهار مې بیا امتحان کړې، لا یې هم زنګ تېر نکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو سره ددې چې ما عملاً خپل نیت او ځوانمردي ونښوده، د مبایل ورته سپارلو په پار مې یې په دوارو شمارو د تماس ورسره نیولو هڅه وکړه، ولې چې خاموشې وې، زما ګناه نه وه، په دې سره مې له شرعي او انساني زاویو بار بار ځان ته له مسولیته د خلاصون ډاډ ورکولو. اما روحاً مې لا هم د نارامۍ احساس کولو، همدې ذهني کشمکش کې څو ورځې نورې هم تېرې شوې، ان تر دې چې یوه ورځ ماسپښین دوې بجې وې نیم غړانګی ویده وم، د بالښت سره مې لړزه شوه، همدې موندلې ګوشۍ ته زنګ وو، له اوکې سره سم مې غږ پرې وکړو:

- بلې!

برعکس د یو ځوان په صاف غږ، راغبرګه شوه:

- سلام وروره! ښه یې، وخت پخیر تېرېږي؟

- وعلیکوم سلام، شکر دی، ته ښه یې، پخیر یې؟

- هو، الحمدالله زه هم ښه یم، له نرمې خندا سره یې پسې زیاته کړه:

- یوه خبره مې درته کوله، که په قهر کېږې نه؟

- نه ولې، مهرباني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خندا په ساتلو سره یې کړل:

- همدغه سیمکارت چې زنګ مې درته پرې کړی، سره له ګوشۍ یوه میاشت مخکې رانه ورک شو، فکر کړم تا پیدا کړې؟

- هو !

- ښا، ځنګه واپس یې راکوې کنه؟

- نه !

- ته کې کوې که رښتیا وایې؟

- څه ملانصرالدین درته ښکارم؟

لنډ یې وخندل، پسې زیاته یې کړه:

- ښا، څه سمه ده، مبایل دې هم ستا وي، اما یوه ځواني خو وکړه.

- څه؟

- شاید لیدلي دې وي؟ ګالرۍ کې مې د ملګرو عکسونه دي، چې اکثریت یې اوس شهیدان دي، دا هم په هر حال په یوه پوښه کې مې د مور یو اووه، اته عکسونه دي، ته باور وکړه ټوله زندګي مې همدغه څو عکسونه دي، له هر طریقه چې کولی شې، د واتساف؛ وبیر، مسېنجر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا هم له کومې بلې هرې ممکنه لارې دې راته ولېږل، ټول عمر به دې په دعا یم.

- رښتیا ؟

- هو ، قسم دی.

- ځه، سمه ده توکل په خدای ج دا کار به وکړم، ولې په یو شرط.

بیا یې هم وخندل راغبرګه یې کړه:

- لکه څه؟

- فعلاً چېره یې؟

- د کابل ښار پل خرخي سیمه کې یم !

- ښا ډېر ښه، شرط دا دی، چې ادرس درکوم، همدا اوس به په موټر کې راخېژې، مستقیماً به کارته سخي ته راځې، شپه به له ما سره کوې، خو د شرط اساسي ټکی دا دی، چې قسم به سر له همدې اوسه راسره کوې، د سیارې په اړه او د هر هغه څه په باب چې سیارې، ستا په تېر ژوند کې اشاره ورته کړې، هېڅ به هم نه رانه پټه وې، نه به ذره دروغ وایې.

په دې سره سړي تقریباً په کړس وخندل، راغبرګه یې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته به ښه په پول صراط تېر شې، داسې تر خوږ ګوتو خلک نیسه، آورې !؟

په دې سره یې ماته هم خندا راوستله کړل مې:

- باور وکړه زښته زیاته مې تلوسه شوې، ستا نه په هر صورت چې وي، دا وضاحت غواړم، اما ډاډ درکوم، که کومه خاصه خبره پکې وي، یا نه خوښوې چې عام پخشه شي؟ داسې فرض کړه، لکه دېوال ته چې غږېدلی وې.

لنډه دا چې له ډېرو چونو او دلایلو وروسته مې قانع کړو، ویل یې:

- څه سمه ده، آدرس یو ځل بیا راته ووایه !

- فعلاً دې خپل موقعت پلځرخي یاد کړو؟

- هو.

- ښا، صحیح ده، موټر لرې؟

- نه، شخصي موټر نلرم، نظامي شته، خو زه غواړم ښاري موټرو کې درشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سمه ده، بیا نو ترڅو زیات مصرف دې ونشي، له پلځرخي په یو موټر کې راوخېژه، ښار ته راشه، ښار کې د سینما پامیر له سیمې د کارته سخي موټر راځي، په یوه کې راکینه، زه به مخکې له مخکې زموږ د موټرو تم ځای کې درته ولاړ یم، همدې شمارې سره تماس کې اوسه.

لنډه دا چې یو، یونیم ساعت وروسته تقریباً ماښام و، چې راورسېدو، له یو ټکسي کورلا موټر نه ښکته شو، که څه هم سم له وره مې وپېژندو، چون خنګه مې چې په عکس کې لیدلی و، همغه شان خورا ښکلې او دنګه ځواني یې لرله. سپین نوي کالي او تور خیاطي واسکټ یې په تن و، همداسې ډېر ښایسته وېښتان یې درلودل. اما لږ شکمن پرې ځکه شوم چې لاس کې یې د تازه میوې (کینو) یو سر بسته کریټ (صندق) و، ترې چارپېره رشمه کې یې ګوتې وراچولې وې، په دې سره زړه کې راتېره شوه: ممکن ددې کورو څوک وي، یوه لحظه مې ساه ونیوله، چې دی د سرک په څنډه ودرېدو، د کینو کریټ یې په ځمکه کېښودو، د موټرو او خلکو په ګڼه ګوڼه کې یې هاخوا دېخوا وکتل، بیا یې مبایل ته لاس کړو، نور مې شک په یقین بدل شو، پرې ورروان شوم، دده هم چې سترګې راباندې ولګېدې موسکی شو، له لرې یې غېږه خلاصېدو ته جوړه کړه، که پام مو کړی وي؟ ځینې خلک ډېر ښه هنر لري، پخپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړيو څو خبرو کې مقابل کس ورجلبوي، تر منځ يې هغه د ناشناختۍ بدخونده او په ترديد ولاړه فضاء له منځه وړي او د ځينو بيا فطري څېرې خوږې لګېږي دا کمال وي پکې چې په لمړي ځل لېدو سره د سړي ټول حواس داسې ورسره آشتي کوي، ته وا چې کالونه مې څنګ په څنګ او ډېر ښه وخت ورسره تېر کړی. نموړي ځوان هم همداسې ځانګېړنه لرله، نه پوهېږم چې په خبرو کې يې دا کمال و، که څېره يې خدای ج جذابه او خوږه پيدا کړې وه؟ خو فکر کړم، الله ج په دواړو خوشبختيو نازولی و، همدا و چې ما يې هم هېڅ د ناشناختۍ احساس ونکړو، په ټوله مينه مې غبږ ورته وشکوله، د څو لحظو لپاره مو يو بل ښه تخته غېږه کې ونيول، په سترې مشي پسې پيوست د پښتانو د رسم او ارواج اړوند دوهم ځلي د حال احوال پوښتنې تر کولو وروسته يې په خندا سره کړل:

- ماشاءالله څه ګل ځوان يې، خو کاشکې ستاسو کور بل ځای وای، ددې ساحې نه مې سخت بد راځي.

- امم هممم باور وکړه، ډېره لويه اشتبا کې يې؟ کنه دا د کابل ښار په سطحه بهترينه سيمه ده.

د خندا په ساتلو سره يې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مخکې زما هم خوښېده، خو یوه میاشت وړاندې سخې زیات ته په تفریح راغلی وم، خورا ستونزې راته ترې جوړې شوې، اوس مې بېښه نه ترې راځي.

په دې سره یې زه هم وخندولم، بیا مې ورته کړل:

- دا د کینو کریټ دې څه کولو؟ زموږ کور هاااغه د غره لمن کې دی، اوس یې تر هغه څوک یوسي؟

موسکی شو:

- مه ورخطا کېږه، په تا یې نه وړم.

له همدې سره پرې وټیټ شوم، رشمه کې مې ګوتې وروا چولې، کړل مې:

- بیا خو مې نو شرم ته ترې، دا په لارو شناخته خلک او ګاونډیان به مو څه وایي چې درانه بارونه په میلمنو راوړي.

سړی ډېر ټینګ شو، خو ورسره ومې نه منله، کریټ مې خپله راوخیستو راروان شو، بلاخیره په ګپ، ګپ کور ته راوسېدو، دروازه کې مې صندق په ځمکه کېښودو، د دم راستۍ لویه ساه مې واخیسته تو کتاً مې ورته وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرې مړ دې کړم، ظالمه! چې راخیستې دې هم یو چارک به دې رااخیستې وې، دا په چا خورې؟ کور کې مو نور څوک هم نشته چې وخورې، زه تنها یم، زما بیا بېخي نه ورسره لګېږي.

ځواب مې یې واپس په ټوکه راوګرځولو، کړل یې:

- څه خیر زما سخته ورسره جوړه ده، خوړل کېږي.

ومې خندل، له همدې سره مې د دروازې دست ګیر تاو کړو، مخکې له دې چې مهمانخانې ته ننوځي، مخ یې راوړو:

- وبښه، که تکلیفېږې نه؟ لږ د اودس کولو اوبه راکړه.

اوبه مې ورکړې اودس او لمونځ یې وکړل، بیا مې چای ورته رادم کړو، د چایو په سر مې پوښتنه ترې وکړه:

- ولې دې دومره پس زنګ پسې ووهلو؟ دا مبایل خو ما تقریباً یوه نیمه میاشت له مخه پیدا کړو؟

- هو بلکل، اصلا ده چې ما ټول تحصیل نظامي برخه کې کړی، په همدې اساس اوس د سرحدي پولسو په لیکو کې د عاجل کمکي قواو افسر یم، د سرحد په هر برخه کې چې وضعه اضطراري شي، اوله چیغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پر ما ګډېږي، پس څومره چې زر کېږي، هغلته د کاپي اندازه پوخ او مهماتو سره ځان رسول زما مکلفيت دی...

په خبر کې يې ورولوېدم:

-آهاا دا خو ماشاءالله لوی سړی وختلې.

موسکی شو کړل يې:

-لوئي له څه نه شوه؟ شپه او ورځ د خپل هېواد او هېوادوالو خدمت کې يو لاس په نامه ولاړ غلام شی يم. پسې زياته يې کړه: هغه ورځ هم زه او څو نور ملګري مې کارته سخي زيارت ته په چکر راغلي و، څو دقيقې مو لا نه وې وتلې، چې له وزارت نه يې زنګ راته وکړو وېل يې:

- پکتيا کې په فرضي کربنه د افغان او پاکستاني ځواکونو تر منځ جګړه رامنځ ته شوې اوس هم دوام لري، زموږ د پوله ساتو ځواکونو مرستې ته اړتيا ده.

ددې خبرې له اورېدو سره، په ډېره بېړه او عجله راجګ شو، حتا هغه د خوړلو بيسکوټو او جوسو پلاستيکونه او قوطي مو هم کثافت دانۍ کې وانه شوی چولی، فکر کړم مبايل هم همغه کې رانه پاتې شوی و، زه وزارت ته له رسېدو سره سم، د ضرورت په اندازه قواو او تجهزاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره، پکتیا ته ولاړم، جنګ دوې ورځې دوام وکړو، ممکن خبر شوي وې؟ سره ددې چې دښمن ته مو ډېر تلفات ورواړول، خو له بدمرغه، دوه ملګري زموږ هم زخميان او د قاسم جان په نوم يو ملګرى مو شهيد شو. پس که څه هم له دوه ورځو وروسته جنګ ودرېدو، خو موږ تر يوې مياشتې د آمده باش په حساب پکتيا کې پاتې شو، هلته هېڅ يوې مخابراتي شبکې کار نه کولو، چې زنګ مې درته کړى واى.

- ښا، ښا صحيح ده، زه هم حيران وم، چې سره ددې چې خپل سيمکارت يې مبايل کې دى، بيا هم ولې څوک زنګ نه پسې کوي؟ ګوشۍ کې دې هم يوازې دوې شمارې وې، يقين وکړه دواړو مې بار بار دايرې کړې، خو زنګ يې نه تېرولو بندې وې.

- هو، رښتيا دا مبايل مې صرف د انټرنيټ لپاره کارولو، نه د بل چا نمبر پکې شته، نه دا نمبر له بل چا سره شته.

دواړه په همدې کيسو و، وړکي ورور مې چلمچي او کوزه راوړه، لاس مو پرېمنځل، تر ډوډۍ خوړلو وروسته، د چاى څښلو په محال مې اصلي موضوع ور واچوله، جيب ته مې لاس کړو، دده خپل مبايل مې راويستلو، پرې راکوږ شو، زما په لاس کې يې په دې يوه ګوته کار پکې شروع کړو، ګالري يې راخلاصه کړه، اول يې ها د مورد عکسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوشه وکتله، بیا یې په دې نورو پوشو کې ځای په ځای کړو، موادو زر، زر نظر تېر کړو، نور یې له مبایل نه لاس ورټول کړو، وېل یې:

- کور ودان چې دا عکسونه دې نه دي حذب کړي، مبایل پسې منه که په ټول ژوند درته راغلی وای مګر...

تر څو یې خپله خبره تکمیلوه، ور وټکېدو، ور جګ شوم، مور مې وه، لاس کې یې کینو و، قاب مې ترې راوخیستلو، د یونس مخ کې مې کېښودو له مخامخ نه زه ورته کېناستم، زما د کېناسو سره سم یې وېل:

ـ کاشکې دومره ډېره یې نه وای رالېږلي، زه دومره نشم خوړلی، ستا خو هسې بده ایسي نه یې خوري.

ومې خندل، ورغبرګه مې کړه:

- هو، دا خو ده، خو خیر ستا لپاره به یو، دوې وخورم، ولې چې د مېلمه سره ګوتې وهل ثواب لري.

په دې سره دواړو وخندل، څو لحظې نور هم هاخوا او دېخوا وغږېدو، بلاخیره ورته کړل مې:

- سړیه ! شپه تېره شوه، تا خو په اصلي خبره، د سیارې په مسیجونو او هغه عجایبو چې دې یې په مسیجونو کې یادونه کړې وه، ببخي خاشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچولې، خندا کې مې پسې زياته کړه: شروع وکړه، کنې منه که دې مبايل رانه اخيستلی و.

وخندل، کړل يې:

- سياره له ما ته ښه پېژني، زما يې منه که نوم ياد و، ماسښين چې تا يې مبايل کې يادونه وکړه، راياد شوه، رښتيا يوه ورځ مخکې له دې چې مبايل رانه ورک شي، مسېنجر ته مې د سياره په نوم نجلۍ له خوا، يو مسېج راغلو، په دنده کې وم، نيم او نيمکله مې ولوستلو، تر څو مې د صحيح لوستلو او ځواب ورکولو کاپې وخت ورته پيدا کولو، مبايل مې ورک کړو، هر څه پکې ولاړل، ته صبر اوس يې وګورم، چې څه يې ويلي بيا به پرې غږېږو، لاس يې ور وغځولو، د دواړو تر منځ په پوشتۍ ايښی مبايل يې ورجګ کړو، د مسيجونو په لوستلو يې شروع وکړه، ما دې بل لور ته څنګ ووهلو، له چايو مې ورکی، وړکی غوړپ کولو، خاموش ناست وم، ترڅو مسېجونه ولولي، څو لحظې وروسته يې مبايل واپس په خپل ځای کېښودو، رنګ يې تک تور شو، تېول سورونه يې ګډ وډ شول، حتا غږ يې هم تغير وکړو.

د ګپ په بڼه مې ورته کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لکه چې تر اوسه دې مینه نه وه کړې؟ لمړۍ ځل دی چې د یوې نجلۍ له خوا د مینې غږ آورې، ځکه یې دومره تاثیر درباندې وکړو ؟

- نه دغه خبره نه ده.

- ښا ، بیا نو له ما وشرمېدې په ځینو رازونو دې چې سیارې رابرسېره کړې؟

- نه، داسې هم نه ده.

- ښا ، بیا دې نو ولې حالت ورسره بدل او رنګ تغیر شو ؟

- یعنې هرو مرو غواړې، په هر څه پوه شې ، ترې تېرېږې نه؟

- هغه د ورځې مبایل کې راسره کړې قسم دې که درته بې معنا وي؟ مه یې وایه.

دلته مې بیا لږ راموسکی کړو.

وېل:

- څه سمه ده، ته دې په تشویش کې نه وې، کنه زما عادت داسې دی، چې هېڅ کله د تېر ژوند په ناخوالو نه فکر کوم، نه یې په خوله راوړم، ټول فکر او پام مې سبا او راتلونکي ژوند ته وقف کړی. خو خیر ځنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې چې ووېل ته دې په اندېښنه کې نه وې، ملامت هم نه يې، ستا په ځای که هر څوک وی، دا تشويش ورته پيدا کېدو ، چون دې هم لکه ښه مسلکي ژورنالسته هغه جوش، جوش نقطې پکې راټولې کړې. خو په هر حال د سيارې مسېجونو ته په کتو پوهېږم چې تا ته زما په اړه کوم، کوم سوالونه او پوښتنې پيدا دي؟ بناءً فکر کوم ټولو پوښتنو ته دې د ښه او لنډ ځواب درکولو په پار اړتيا ده، چې لنډو کې مې په خپل تېر ژوند رڼا درته واچوم، چې په دې سره به دې انشاءالله په نوبت نوبت د هرې پوښتنې قناعت بخښه جواب ومومې.

- مهرباني ورته غوږ، غوږ يم.

- خبره داسې ده چې زه د (.........) ولايت (..........) ولسوالۍ او په (.........) کلي کې مې نړۍ ته سترګې غړولې، د پنځو کالونو په عمر وم، پلار مې يوه چاودنه کې خپل ځان له لاسه ورکړو ، بدبختانه يتيم شوم، يتيمي هم بلا پسې ددې وطن هر ځلورم او پنځم ماشوم يتيم دی، زه هم تر دوئ زيات نه وم. اما زما تر ټولو ستره بدبختي دا وه، چې په داسې يوه کور، کلي، داسې يوه چاپېريال کې يتيم شوم، که څه هم ځانونه يې مسلمان ګڼل، خو د کړو وړو له مخې په تمامه معنا هغه د لوط (ص) د ظالم قوم په څېر و، ظالم، لواطت، زنا ، غصب، د کونډې، يتيم او مظلوم مال

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوږل، وژل، ځورول او همداسې نور هر وحشت پکې د مېړنيو خلکو خاصه او وياړ ګڼل کېدل، نه يې له الله ج ذره وېره درلوده، نه يې د شرم او حيا په نوم څه پېژندل. همدا و، تر څو مو د پلار له وير نه سترګې وچې دې، په مور مې يې منګولې خښې کړې، مشر کاکا مې نکاح کړه، په داسې حال کې چې ډېر سپينږيری و، زما مور دده د لور همزولې راتلله. خلاصه له مور نه يې هم ددې په ژوند يتيم کړم، نور مې مور د کاکا د کور مينځه شوه او همداسې زه يې مريي شوم، دواړه د کاکا، د کاکا د مشرې ښځې، زامنو، لورګانو، ميلمنو، غواګانو، پسونو، ځمکو په خدمت کې شپه او ورځ سر په تالاق اوښتو، له سرګردانۍ ما او مور مې له يو بل سره د دوو خبرو موقع نشوی پيدا کولی، کيناستل، ځان او جامې راپاکول، يا نور هغه د مور او بچيانو تر منځ راز او نياز خو په ځای پرېږده. همداسې د پلار په دوران کې مو ځان ته کور درلودو، دری څلور جريبه ځمکې، باغونه مو لرل، نسبت ټولو کاکا ګانو ته مو ژوند او اقتصاد ښه و، چون پلار مې د سيمې په سطحه د لوی دارالعلوم مدير و. ښه معاش يې لرلو، ځمکې مو دهکان کاله کولې، خو له بدمرغه کله مې چې پلار شهيد شو، کاکاګانو ته مې د خپل وررور مرګ ناڅاپي اختر و، په ټوله بې رحمۍ يې زما او د مور په شمول مې، کور ځمکې هر څه مو يې په خپلو کورونو او ملکيتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورګډه کړل، ما او مور مې نور دوا ړو صرف د هغه او دغه د څپړې له وېرې او ترې بچ کېدو په پار شپه، ورځ په هغه خدمتونو چنګاو و، چې زمونږ له توان نه به ډېر درانه و، که څه هم، څنګه مې چې مخکې وویل، دلته تنها زمونږ کورنۍ داسې خدای ناترسه نه وه، بلکې عام ذهنیتونه همداسې و او تنها زما دا حال نه و، دلته د هر یتیم، کونډې، بې کسه، بې وسه لپاره څمکه سور تنور وه، په همدې اساس د خپلې کورنۍ سربېره د کلي او سیمې له اکثریت خلکو ډېرې بدې خاطرې لرم، کیسه به یې ببخي اوږده شي، له نورو یې تېرېږم، مستقیماً د سیارې د پلار کیسه ته راځم، کوم چې دې په مسیج کې اشاره ورته کړې وه.

یوه ورځ مې دکاکا دوهم زوی (قلندر) پیسې راکړې، دوکان ته یې په سیګریټو پسې ولېږلم، سیګریټ مې واخیستل، کله چې واپس راتللم، په لاره کې د سیارې له پلار سره یو ځای شوم، دوکانونو کې یې سودا کړې وه، درونډ پیټی یې په شاه و، د انسانیت، ثواب، یا هم مشرانو ته د احترام له مخې مې پیټی ورسره راسپک کړو، د لوبیا او دال نخودو پلاستیکي خلتې مې ترې راواخیستلې، د دوئ کور زمونږ له کورنه څو کورنه رامخکې و، دروازې ته په رسېدو سره مې خلتې ورته ونیولې، کړل یې: تر دې دروازه یې راسره دننه کړه، حویلۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتلو، زه وړاندې ترې شوم، د سودا خلتې مې د برنډې په څنډه کېښودې، واپس چې راتاو شوم، ده خپل پنډوکی ځای په ځای د دروازې تر شاه ایښې و، زر، زر یې دروازه څینځیر کړه، غږ مې پرې وکړو: ولې دې ځینځیر کړه؟ زه وځم.

چپ لاس دالان طرف ته یې اشاره وکړه، وېل یې:

- ته راشه دلته یو څه دي، کاکا ته یې دې ور وړه. په غلته اراده یې پوه شوم، دالان ته له ننوتلو مې انکار وکړو، له همدې سره یې لاس راواچولو، په زور یې کشکوم، که څه هم دی پوخته ځوان و، زه وړکی دولس، د یارلس کلن ماشوم وم، خو د الله ج مرسته وه، سره ددې چې ټول زور یې راباندې ختم کړو، خو اطاق ته یې د ننه نه کړی شوی، بلاخېره همدلته حویلۍ کې یې د خپلې شهوانې تندې راباندې ماتولو هڅه پیل کړه، اما الحمدالله په دې هم ونه توانېدو، که څه هم جامې مې یې راوشکولې، موشت، موشت ویښته مې یې لاسو کې ورپاتې شول، له پزې مې سرې وینې روانې وې، شونډه مې هم زخمې شوه ولې بیا هم د الله ج مدد و، په داسې حال کې چې نور مې بېخې نفس ولاړ و، یو موټی د نغرې ایرې په لاس راغلې، مخ ته مې یې ورو شیندلې سترګې یې له ایرو ډکې شوې، دی په خپلو سترګو شو، زه ترې خوشې شوم، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو يې بيا سترګې وازولې، ما ته دومره موقع په لاس راغله، زر مې د دروازې ځينځير خلاص کړو، ترې راوتښتوم. نور نه يم پوه چې سياره چېرته وه؟ مخامخ د بالاخانې کړکۍ وې، کيدی شي له همغه کړکيو يې زما او د پلار تر منځ يې د جنجال، کش او ګير صحنه ليدلې وي...

د يونس خبرو دوام لرلو، زړه مې درد وکړو ناڅاپه پکې ورولويدم:

- اخ ځار، ځار دا خو رښتيا هم لويو ځناورو ته او د لويو ځناورو په محله کې خوار شوی يې.

- ته صبر چې نه مو پرېږدې، کيسه واوره، د سيارې له پلار نه چې په تېښته برياليی شوم، خپل کور ته ورسېدم، سربېره ددې چې د کاکا زوی مې د ډېر ځنډ کولو له وجې راته غوسه و، جيب کې مې سيګريت هم مات شوي و، يو جرم مې دوه شو، پرته له دې پوښتنې کولو، چې ځنډ مې ولې وکړو؟ سګريت ولې مات دي؟ يا هم جامې مې ولې شکېدلې؟ د سيګريت خمار پسې اخيستی و، له غوسې يې تر پوزو شين دود ختلو، ډېر بې رحمه يې ووهلم، ان تر دې چې بې هوشه شوی وم، د شهادت د ګوتې په رانبودلو سره يې کړل: دا وينې چې کړه ده!؟ همغه ورځ د کاکا زوی راماته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په هر حال، کیسې زیاتې دي، څنګه مې چې وویل، که پرې غږېږو، تر سهاره به یې یوه برخه هم ختمه نشي، بل خوا نه غواړم تر دې، دې زیات پرې جګرخون کړم، خلاصه همدا سې د کاکا د زوی عکسلعمل او سیارې د پلار کیسه ته ورته، حتا تر دې هم بدې سلګونه خاطرې د خپلې کورنۍ او ګاونډ له خلکو لرم، ببنلي مې نه دي، خدای ج دې ورسره پوه شي. راځم دې ته، زما مور مې چې کوم کاکا نکاح کړې وه، یا زه چې ورسره اوسېدم، له سره یې هم مزه نه وه، اما څه وخت وروسته ببخې ضعیفه شو، نور د هېڅ کار نه و، زامن یې نااهله و، هغوئ هم مرسته نه ورسره کوله، همدا و چې اقتصاد مو ببخې صفر شو، د سمې لوږې سره مخ شو، دې وضعیت تر ډېره دوام وکړو، بله ورځ مې د کاکا یو سابقه ملګرى یې پوښتنې ته راغلو، زموږ اقتصادي خراب وضیت یې چې ولیدو، کاکا ته مې یې کړل:

- په (...........) ولسوالۍ کې د (..........) کلي ملک رحیم د خپلې مهمانخانې لپاره هر کال یو برابر هلک مزدور نیسي، اوس یې هم زما یو ملګري ته ویلي، چې یو بیدار هلک راته راپیدا کړه، که ستا زړه وي؟ دا یونس به ورولېږو، کال وروسته یو نیم خروار غنم ورکوي؟

کاکا مې خوشحاله شو ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې نه، ورسره وغږېږه، چې بل څوک و نه نیسي.

لنډه یې دا چې سبا نه، بل سبا یې ور روان کړم، سره ددې چې مور مې ډېره صابره ښځه وه، ډېر لوی لوی، دردونه یې په پټه خوله زغمل، خو کله یې چې زه تر دروازه ایستلم، ډېرې بې اختیاره چیغې یې وکړې، چې په هېڅ صورت د هېرېدو نه دي. خو په هر ترتیب، خلاصه تر څو ساعته پلې مزل وروسته د سیدانو سیمې ته ورسېدو، د کاکا د ملګري کور مې همدلته و، شپه مې ورسره وکړه، سبا له چای خولو مخکې یې بوتلم، د کاکا ملګري مې، دده یو بل ملګري ته وسپارم، دا سړی علي مرجان نومېدو، تکړه سپینږیری و، پخوا یې د ملک رحیم دهکاني کړې وه، له دې طریقه یې ورسره پېژندل او د کور لپاره د خدمتګار ورته پیداکولو غوښتنه یې ترې کړې وه، علي مرجان کاکا بد سړی نه و، چای یې راباندې وڅښلو، وروسته روان شو، په لس دقیقې پلې مزل کولو سره سرک ته ورسېدو، له ډېرو ډرېورانو سره یې د کرایه په سر چنې ووهلې، ولې چې ډریورانو زما پوره کرایه غوښته، خو مرجان کاکا وېل چې وړکی دی، د نیم نفر کرایه یې درکوم، بلاخیره له یوه ډرېور سره جوړ شو، لار تر ډېره خامه وه، تقریبا څلور، پنځه ساعته مزل مو وکړو، د لارې په اوږدو کې مو یو ځل موټر هم بدل کړو، له لمرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته شو، بل ته وختلو، لنډه دا چې قضا ماسښین د ملک رحیم کور ته ورسېدو، مرجان کاکا په بېړه چای او ډوډۍ وخوړه، نور یې زه ورته تسلیم کړم، دی رانه روان شوو، که څه هم ملک صیب د شپې لپاره ورته ټینګ شو، خو دده تلوسه وه، شین ګل دره کې یې د کوم خان د ځمکو دهکاني نیولې وه، خپلو کروندو ته یې ځان رسولو، ددې سړي روانېدو ډېر زیات تاثیر راباندې وکړو، سره ددې چې د ستونزو سره د مقامت په برخه کې مې مور ته ورته وم، هر درد مې په پټه زغملو، ولې دلته له کوره ډېر لرې او نابلده خلکو منځ کې په تنها پاتې کېدو سره ژړا راغله. خو زر مې سترګو کې راډنډ اوښکې غلې، غلې د غټې کوتې په څټ پاکې کړې، ځان مې کابو کړو، تر څو څوک پوه نشي. مرجان کاکا ولاړو، ما هم په ټول خفګان او د فریاد له چیغو په ډکه سینه واقعت ته غاړه کېښوده، د یو مزدور یا هم خدمتګار په صفت سر له همدې شیبې مې د ملک صیب او د کورنۍ د نورو غړو له خولو یې د امر په راوتلو پسې غوږونه څک کړل.

خو دا چې ما تر دې دمه له ډېرو بې رحمه خلکو سره ژوند کړی و، نو هېڅ مې فکر نه کولو چې انسانانو کې به داسې انسانان هم وي، چې تر ځانه په ټیټو یا تر لاس لاندې نورو انسانانو شفقت او ترحم وکړي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحمد الله ملک صیب مې دا مفکوره بدله کړه، نه یوازې دی بلکه ښځه یې هم ډېره صیله رحمه او مهربانه میرمن وه، دوې، درئ شپې خو یې د یو ګیلاس پورته کولو هم راته ونه وېل، پس له دریو ورځو یې کرار کرار زما مسولیتونه راته په ګوته کړل، د دوی د مهربانۍ له مخې د مسولیتونو په لړ کې مې یو مهم مسولیت دا هم شو، چې د ملک صیب د بچیانو سره، کوم چې زما په سن، لوی او واړه و، یو ځای جومات ته د درس او لمانځه لپاره ولاړ شم، همداسې د کور لپاره یې چې استاذ ورته نیولی و، له هغو هم درس ووایم، د څمکو او غواګانو د کاله کولو او له کور نه بهر درنو کارونو لپاره یې دهکانان درلودل، ما یوازې تر کور دننه د دستیار په صفت ځینې سپک سپک کارونه او د مهمانخانې څارنه کوله، میلمانو ته مې چای، ډوډۍ وروړل، تر ډوډۍ خوړلو وروسته به مې لوښي ترې رایستل، دا چې ما خپل کور کې ببخي زیات او درانه کارونه کړې و، دا کارونه هېڅ په کار راته حساب نه و، د کم وخت په تېرېدو سره ملک صیب هم ښه رانه ډاډه شو، زه هم راحت وم، یوازینی درد مې په مور روان ظلم، شاخه کارونه، دیو او بل له خوا وهل ټکول، او همدارنګه زما د راتلو په وخت ددې د سوو چیغو یاد و، دې درد واقعاً ډېر ځورولم، حتا کوم ښه خواړه به مې چې خوړل هم، تر سترګو به مې ختلې وه. ددې علاوه دا آرمان به مې هم کولو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاشکې زما له آرامتیا ، خو چا خبره کړې وای، اوس به ځان ترې هېر وي، ما پسې به زړه خوري، همدا و ، که څه هم نور مې، نه کلي یادېدو ، نه مې کوم کس یادېدو ، یوازې او یوازې مې د مور د لیدلو او له خپلې آرامتیا نه د خبرولو په پار، د کال د تېرېدو او زما د رخصتۍ وخت رارسېدو ته میاشتې، هفتې او شپې، ورځې شمارلې.

په دې خبره یې یوه لویه له درده ډکه ساه واخیسته، راسم شو، په ګیلاس کې پاتې چای یې غوړپ کړو، واپس یې تکیه وکړه، کیسې ته یې دوام ورکړو:

-ژوند تېرېدو ، خو که هر څو د خپل کور په پرتله دلته راحت وم، خواره مې سم و، بیا هم وړکی وم، لمړۍ مسافري وه، له دوو دریو میاشتو وروسته مې مور پسې بېخي ناطاقته شوم، مګر چاره نه وه، یوازې د هرې ورځې په تېرېدو سره د کال د پوره کېدو او مور ته تللو په امید مې ځان ته ډاډ ورکولو ، ان تر دې چې په همدې تلوار او د هرې ورځې، شپې په شمارلو سره مې نهه میاشتې د ملک صیب کور کې تېرې شوې، نور مې نو دوې میاشتې روخصتۍ ته پاتې وې، اخیرنۍ میاشت مې تېوله روخصت وه، که څه هم په دې تېرو نهه میاشتو کې نه چا کومه خپیره ووهم، نه یې کوم بل بد چلند راسره وشو ، هېڅ ستونزه مې نه لرله، بنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله وم، څنګه مې چې وړاندې ووېل، نور مې خپل کور، کلي ته هم هېڅ زړه نه کېدو، صرف او صرف مور مې ډېره زياته يادېده، خو بدبختانه همدې وخت کې يوه ورځ د نورو ورځو په څېر د ملک صيب د دوه زامنو او يوې لور سره د سهار تيم درس وېلو لپاره مسجد ته ولاړم، مسجد ته د داخليدو سره سم د ملک صيب مشر زوی (سردار) چې زموږ تر مخ وو، سلام يې واچولو، د مسجد په تبۍ څو ناستو کسانو، عليک کړو، وړاندې د بوال ته يو بل سپينږيري ډډې وهلې وه، چې ورته ځير شوم، زموږ يو کليوال و، خدايزده له کومې خوا به راغلی وو؟ خو په همدې مسجد کې يې مسافرانه شپه کړې وه، ورغلم ستړي مشي مې ورسره وکړه، ده ونه پېژندم، ورياده مې کړه د مدير فاروق زوی، د شير زمان لمسی يم، نور يې وپېژندم وېل يې:

- ښا، ښا ماشاءالله ځوان شوی يې، پلار دې خدای ج وبښه، هغه وخت ته ببخي ورکی وې، پسرلی دې د مور جنازې ته هم درغلی وم، ستا پوښتنه مې وکړه...

مخکې له دې چې خپله خبره بشپړه کړي، خبره کې يې ور ولوېدم:

- زما د مور جنازې ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو، ولې کاکا دې (شیردل خان) چې نکاح کړه ستا مور نه وه؟

ددې خبرې په اورېدو سره ته وا برق ونیولم، غیرې ارادي د یوې چیغې په کولو سره جګ شوم، واپس په ځمکه ولګېدم، نور په ځان نه یم خبر، که څه هم وروسته بیا په مسجد کې موجودو خلکو راته وېل: داسې چیغې دې وکړې چې درس ته راغلي ماشومان ټول له مسجد نه وتښتول، خو زه یوازې له لمړۍ چیغې پرته په نورو نه یم پوه شوی، او نه په دې پوه یم، چې چا پورته کړم، خو یو وخت مې چې سترګې وغړولې، شپه وه، دکلی په کلینک کې وم، سیروم راته بسته و، تر لږ څه زیات راپیدا ربدو وروسته په همغه شپه کې کور ته راروان شو، ملک صیب او یوه میلمنه راغلي خور یې هم راسره و، په لارو بیا راته د هغه سپینږیري خبره رایاد شوه، زړه مې بیا هم سختې څړیکې وکړې، خو دا ځل بې هوښه نشوم، ولې ژړا مې کنترل نشوی کړی، تر کوره مې په چیغو، چیغو ژړل، سره ددې چې په ټول ددې دومره وخت کې چې د ملک صیب سره مې تېر کړی و، تش تندی مې یې د ځان په وړاندې تریو نه و لیدلی، اما دلته چې په دلاسا او ډاډګیره نشوه، اخیر غوسه شو، ان بار بار یې د وهلو ګواښ راته وکړو، خو دا چې ماته مې د ټولې زندګۍ په میراته کې یوه مور، هغه هم د ظالمانو په غېږه کې ګروګان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاتې وه، نن له هغې هم خلاص شوی وم، حتا جنازې ته يې چا نه وم ورستلم، زړه مې له حده زيات درد کوو، په خپله ژړا مې اختيار نه درلودو.

کور ته له رسېدو سره سم زما دحال په ليدو، د ملک صيب په کور کې هم د يو لوی ماتم په بڼه، دده په شمول، ښځې يې، خور يې، بچيانو، لورګانو يې، ټولو په چيغو راسره وژل، ملک صيب عيني ژړاه که د تسلې په پار بار بار راته ويل:

- ژاړه مه، سبا دې کور ته بيايم، پلار دې، ورونه، خويند ټول دوستان به دې ووينې، ښې ډېرې شپې ورسره وکړه.

د ملک صيب دې ډاډګيرنې مې لا په زخمو مالګې دوړولې.

که څه هم دی ملامت نه و، چون ما تر دې دمه د خپل کور له بد وضعيت، زما او مور سره مې د شوي او روان ظلم په اړه هېڅ هم نه و ويلي، بلکې د دوئ په مخکې کې به مې تل د مور تر څنګ د کاکا نوم هم کاکا نه بلکې پلار يادو، همداسې اولادونه به مې يې خويندې او ورونو يادول.

په دې ورځ يو خوا درد اخيستی وم، بلخوا دده په ځواب کې اړ شوم، ورغبرګه مې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هېڅ کله زه بیا هغه کور ته نه ځم، که ته ماته د تل لپاره هم رخصت راکړې، زه به د پاتې ژوند پکې تېرولو په پار سر صحرا، غرونو، ځنګلونو ته ولاړ شم، مګر هغه کور ته به ولاړ شم.

- ولې، پلار، خویندې ورونه نور دوستان دې نه یادېږي؟

په دې سره مې له واقعت نه پرده ورته پورته کړه، د خپل اصلي پلار د مرګ، ورپسې د کاکا له خوا مې په تول جبر او زور زیاتي د مور سره نکاح، د کور، ملک او مال چور چپاول...

همداسې تول کیسه مې ورته وکړه، ملک صیب په زړه ډېر نرم انسان وو، د کیسې په اورېدو سره، راجګ شو، کلک یې سینې پورې ونیولم، داسې سلګۍ یې وکړې چې ما تر ننه بیا د غټ سړي هسې ژړا او سلګۍ ونه لیدې، عین حال کې یو ځل بیا په قهر شو، وبل یې:

- تا ولې مخکې دا کیسه نه کوله؟ خو بیا هم چورت خراب نکړې، ته نور د هیچا زوی نه یې زما زوی یې، زه به د چا څه، او څه وکړم چې درپسې راشي.

کور یې ودان لکه څنګه یې چې ویلي و، تر دې وروسته یې د لباس، خوارو، او بل هر ناز او نزاکت له حسابه تر خپلو بچیانو یوه ذره کم ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمارلم او نه هم ما په کومه برخه کې تر دوی د کمي احساس وکړو، ان تر دې، که څه هم ما مخکې هېڅ درس نه و، ویلی، خو الحمدالله ډېر ښه استعداد مې لرلو، ددې څو میاشتو په لړ کې مې مسجد او کور کې دده د بچیانو سره د درس وېلو په نتجه کې دده د بچیانو په اندازه لیک او لوست زده کړي و، په داسې حال کې چې دده بچیان په آتم او نهم صنف کې وو، ما د صفر نه شروع ورسره وکړه، دا وړتیا به مې وخت ناوخت ملک صیب هم ستایله. نو عین وخت کې یوه خوشبختي دا شوه، چې همدې شپو ورځو کې ملک صیب قصد لرلو، ترڅو نور خپل بچیان د کلي له لیسې د ولایت مرکز کې د افغان ترک لیسې ته انتقال کړي، زما سره یې د زوی واله تر وعدې وروسته د هغوئ سې پارچې وځنډولې، زما په کارونو یې شروع وکړه، ملک صیب د منطقې برحاله ملک و، په ولس کې یې ښه محبوبیت، ښه نفوس او قدرت لرل، همداسې په هر چا یې ښه ناز چلېدو، همدا و چې په تول د پنځلسو ورځو کې یې د کلي د لیسه په مدیر صیب او استاذانو تر نهم صنفه ښه پاک اسناد راته جوړ کړل، نور یې د خپلو زامنو سره یو ځای د ولایت په مرکز، د افغان ترک په مجهزه لیسې کې رسماً شامل کړم، د لیلیه کارونه مو یې راته جوړ کړل، دلته یې هم د ډېری استاذانو سره شناخت درلود، هغوی ته یې معرفي کړو، وخت ناوخت به یې پام راباندې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان ترک په عالي او مشهوره لیسه کې د یو زده کوونکي په صفت ځان لیدل یو خوب راته ښکارېدو ، سره ددې چې په تېر ژوند کې مې سخت تړکونه خوړلي و ، خو نن چې کوم موقف ته رارسېدلی وم، له الله ج ډېر شکر ګوزاره وم، خپلو درسونو ته مې دوام ورکړو ، نور په دې نه یم پوه، چې په ما او مزدورۍ پسې به مې بیا زما له کورنۍ څوک راغلل وي، کنه؟ خو که راغلي هم وي، د ملک صیب سره یې وس نه کېدو. طبعاً ډېر بې خونده به یې ځواب کړي وي. په هر صورت لنډه دا چې درې کاله وروسته، د افغان ترک لېسې له دولسم صنف نه عمومي دریم نمره فارغ شوم؛ د ملک صیب یو زوی چې زما همصنفي و ، پنځم نمره شو ، ها بل خو یې لا په یولسم صنف کې و ، پسرلی مې د ملک صیب په مشوره او همکارۍ کابل کې نظامي (حربي) پوهنتون ته امتحان ورکړو ، نظامي ریشته یو خوا خپله زما خوښېده ، چون زه له بې نظمۍ او بې قانونۍ ډېر زیات کړېدلی وم، د نظام او عدالت وږی وم، بلخوا د ملک صیب هم د خوښې وړ ریشته وه ، څه وخت وروسته چې نتایج اعلان شول، له نیکه مرغه کامیاب وم، په ټوله مینه او ژمنتیا مې خپلو درسونو ته دوام ورکړو ، څلور کاله وروسته مې د یو ممتاز محصیل په حیث خپل اسناد ترې ترلاسه کړل، له فراغت سره سم د حکومت د اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ازاد رقابت له مخې مې د سرحدي څواکونو په ليکو کې رسماً د يو افسر په بڼه دنده واخيستله. تر ننه درې کالونه کېږي چې نمورې دنده مخ ته وړم، بناءً اوس الحمدالله هغه يتيم او مظلوم يونس نه يم، داسې فرض کړه چې د ټول هېواد قدرت له ما سره دی او په هر څه برلاسی يم، چون د هېواد په ګوټ، ګوټ کې د ټولو ولاياتو، سيمو قومندانان او واکمن مې، همصنفيان او ملګري دي، يعني که وغواړم چې له هغه خلکو مې غچ واخلم، کوم چې له مورِ سره يې ظلم کړی، څه رنګه سزا ورکول مې چې زړه وي، حتا تر وژلو پورې يې کوم ممانعت مې مخ کې نه نشته، هره شيبه کولی شم، خو الله ج ماته اړتيا نه ده پرېښې، خپله يې هر يو په ډېره معقوله سزا رسولی، ولې چې دوه کاکاګان مې مړ دي دا خو هسې د خدای ج حضور ته ورغلي، دريم يوډري دی، تر پل سخته لاندې پروت دی د کابل د سيند مرداری يې خوراک دي، زامنو يې خپل منځ کې د ځمکو په سر جنګ وکړو، دوه يې له يوې خوا ووژل، يو له بلې خوا، هغه پاتې نور يې لا هم د يو بل لپاره خلاص چاقوګان جيبو کې ګرځوي، همداسې د کلي او ګاونډ هغه فرد، فرد چې زياتی يې راسره کړی، ته باور وکړه په بېلا بېل ډول يو سخت غذاب نه، يو عذاب پرې نازل دی، سر په دنيا دوزخيان دي، ښه په خوند کړېږي، يوازينی کس همدا د سيارې پلار دی چې تر اوسه ظاهراً هېڅ کومه ستونزه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، ښه تکړه دی، خپل کار او کسب تجارت کوي، که څه هم بار بار مې قصد وکړو، ترڅو ورشم د هغه ورځې حساب او کتاب ورسره وکړم، خو بیا مې لاحوله والله قوة... ویلې، کوم اقدام مې نه دی کړی، ولې چې نموړی فعلاً د هېواد او هېوادولو په نفعه یو ستر تجارتي بیزنیس مخ ته وړي، لسګونه غریب خلک ورسره په کار دي، د یوې ګوله حلالې روزۍ د لاس ته راوړلو سبب یې ګرځېدلی، فکر کړم الله ج هم چې وخت ورکړی، د همدې نیک کار او ورسره په کار د غریبو خلکو برکت به وي. نور موسکی شو، د وروستۍ خبرې په ښه یې کړل: داسې غورې دي، هیله ده تشویش دې رفعه او پوښتنې دې ځواب شوې وي.؟

د ای هی، په ویلو سره مې ورغبرګه مې کړه:

- شکر چې را وروسته وروسته دې کیسه سمه کړه، کنې نور مې دې په خوله لاس درته ایښودو، نژدې دې زړه راته چاودلی و، ظالمه! خو څه شکر چې الله ج شته، یو څوک تل تر تله په ستونزو، مظلومیت کې نه پرېږدي او د زورورو زور اوبه کوي، د کړو ظلمونو سزا یې ورکوي، ان که پام دې وي؟ د سیارې مسیج ته په کتو، داسې ښکاري چې د سیارې د پلار په وړاندې صبر دې هم رنګ راوړی.؟

وخندل کړل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- معلوم شي نو.

برعکس مې خندا کې ورغبرګه کړه:

- نه، داسې یې نه منم، که غواړې چې د مبایل دې واپس صاحب شې، پاکه خبره وکړه، د سیارې هیلې او آرمانونه به څنګه شي.؟

د موسکا په ساتلو سره یې کړل:

- فعلاً څه نشم ویلی، ته صبر، زه به ورسره تماس کې شم، کوم اصول او ارزښتونه چې د ژوند د ملګرې په انتخاب کې اړین دي، لږ، لږ معلومات به یې وکړم، که څه خاصه ستونزه نه وه، بیا خو نو نور منه که زه هم د پاچا زوی یم، یا کوم بل داسې ځانګړی صفت لرم، چې په وړاندې یې غرور وکړم. نو وبه ګورو چې تقدیر کې څه دي؟ بیا خو نو زه او ته ان شاءالله شته یو، هغه د فارسي زبانو خبره: یار زنده صحبت باقي.

بیا هم د ټوکې په بڼه او خندا سره مې کړل:

- قسم بل راته کوې که، همغه مخکنی صحیح دی؟

د عادت لمخې یې موسکی شو، کړل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه، همغه صحیح دی.

په دې سره دواړو لږ وخندل، چې ساعت ته مې وکتل تقریباً دولس نیمې بجې وې، نور مې تکلیف نکړو، ویده شو، سهار یې تر چای خوړولو مخکې وبل: زه ځم، پرې مې نه ښودو، چای مې پرې وخوړلو، که څه هم د ورځې راسره تېرولو لپاره هم ډېر ورته ټینګ شوم، خو ځینې اړین کارونه یې بهانه کړل، مبایل یې ورپورته کړو، د مېموري کارت په یستلو یې لګیا شو، وبل یې: مبایل نه وړم. لاس مې یې ونیولو مېموري کارت استلو ته مې پرې نه ښودو، بیا هم د ټوکې په بڼه مې ورغبرګه کړه:

- واچوه جیب ته دې ما چې داسې ډیسې مبایلونه اخیستلی له سره مې تماس نه درسره نیولو.

په دې سره مې بیا وخندولو، مبایل یې جیب ته کړو، دچپ لاس په منځنۍ ګوته یې یوه غټه د نقرې ګوتمۍ وه، د فیروزې غمې یې درلود، دا یې راویستله کړل یې:

- امم بیا نو دا واخله، دا ډیسي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې ما هم څه ونه وېل، نر غوندې مې د يو ښه ځوان يا ملګري د يادګار په ښه ترې واخيستله، خوشبختانه په ګوته مې هم ډېره ښه جوړه راغله.

نور ورسره روان شوم د موټرو له تم ځای نه مې د خداييپماني په کولو سره پل باغ عمومي ته په روانه ټکسي کې ورکېښنولو، زه واپس د کور په لور راروان شوم.

پرون يې پس له شپږو مياشتو زنګ وهلی و، تر اوليه سلام، کلام وروسته يې وېل:

- د ميدان هوايي په سرک ( مهتاب ) د ودونو تالار په دريم او څلورم سالون کې زما او سياري کورنۍ زموږ د دواده مراسم لمانځې له تاسو ښاغلو او آغلو، په خورا مينه، هيله ده، چې په خپل ګډون سره مو محفل ته رنګ وروبښئ. بلاخير بېګاه موږ هم فاميلي ورغلو له هر اړخه خورا ښکلي او رنګين مراسم يې برابر کړي و.

يونس د هوټل نه بهر دروازه کې ديوې دقيقې لپاره راسره تم شو، خندل يې په لنډو کې يې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سیاره ترکیه کې وه، ورغلم، څنګه مې چې درته ویلو و، له کړو وړ، ناستې ولاړې، اخلاقو، دینداریٔ او هر هغه څه په اړه یې چې اړین و، ښه مې ځان مطمین کړو، بلاخیره د ملګرتیا لاسونه مو سره ورکړل، همدا و چې څو ورځې وړاندې، دا کابل ته راغله، ډاکتره ده، پیسې میسې لري، ها ورځ مو میکرویانو کې یو وړکی کور واخیستلو، لږ فرش او ظرف مو واخیستلو، نن نو پخیر دا معامله ده، چې وینې یې، باقي دې الله ج خیر کړي، خندا یې زور واخیستو لاس مې یې ور ونیوو خپېره یې شړکنده زما خپېړه کې ووهله رانه روان شو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنسي لوږه

د سرک څنګ ته، په جاده د رارروانو خلکو ګڼه ګوڼه کې، له قده دنګې غټې سترګې نجلۍ مې کراچۍ ته څیرمه قدم ونیولو ، د سره دسکول له کوچني جیب نه یې د لس افغانیو نوی لولټ راویستلو، د نمورې لسګون په راته نیولو سره یې کړل:

- یو ګرم جوارې په کاغذ کې راته ونغاړه !

که څه هم په کشرۍ کې تیار ډاډه شوي جوار هم و ، خو هغه څه یخ شوي و ، د اور له پاسه تالۍ نه مې یو ګرم او غټ جوار راپورته کړو ، ددې د ویلو سره سم زر زر مې اخبار کې وپېڅلو ، ورته ومې نیولو. نجلۍ چې لاس راتېر کړو ، زما له لاسه د جوار اخیستلو په جریان کې مې دا دوې اوږدې ګوتې لږ وړاندې ورتېرې کړې، د لاس شاه مې یې پرې لمس کړه.
که څه هم دا معمله به ما د هرې ښایسته نجلۍ سره کوله، خو نورو یا جرئت نه لرلو ، یا به یې له شرمه خوله پټه ونیوله، اما نمورې نجلۍ د نورو په شان نه، بلکې ډېره باجرئته او خولوره وه، سم له واره یې په خورا غوسه سره پوچ او سپک شروع کړل، رانه اخیستی جوار یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واپس راته ببرته کړو، ما سر کوږ کړو، خو له بدمرغه تري بچ نشوم، تر غوږ لاندې په دې وچه زامه مې ولګېدو، بیا یې کشرۍ ته منګول ورواچوله، غوښتل یې بل جوار راواخلي پرې ومې ولي، زر مې د کشرۍ په جوارو لاس کېښودو، ویې نشوی کولی چې پورته یې کړي، خو بدبختانه په جوارو د ور ټېټېدو له کبله مې چپ اننګی ډېر ښه څپړې ته ورجوړ شو، دې هم له موقع نه په استفاده، سم شرک ترې تېر جګ کړو، په دې سره یې زما حوصیله هم راصفر کړه، خو تر څو مې کوم عکسل عمل ښودلو، له شا او خوا نه خلکو رامنډه کړل، ماته نژدې چاغ سپینږیري حاجي الماس رخت فروش په شا کې له جاوکټ ونیولم، ورکش یې کړم، بیا یې نجلۍ ته په فارسي کړل:

- چه شوده؟

نجلۍ په پښتو ورته کړل:

- ددې خیرن نه مې جوار وپېرلو، چې ترې رااخیستلو مې لاس یې وړاندې راتېر کړو، زما د لاس په ختې یې کش کړو.

حاجي سم له واره مخ راوړولو په سوک یې ووهلم، کړل یې:

- ته خور او مور نه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما زر زر په قسم پسې قسم کولو، چې ګواکې دروغ وايي.

نجلۍ لاس پورته کړو، ټولو خلکو ته يې وښودو، زما لاس په لوګي تور و، ددې د سپين لاس په څټ مې چې راکش کړی و، د تورو ګوتو کرښندې مې روستې پرې ښکاريدې. په دې سره حاجي بل وار راباندې وکړو، چاپېر رانه تاو خلکو هم د وهلو شروع وکړه، له هر خوا نه لغتې او سوکان و، چې راسريښېدل، د سليم په نوم يو ځوان هلک چې خپله څو مياشتې مخکې د يوې ښځې سره په بدعملۍ ګير شو، شپږ مياشتې بندي و، هغه ظالم تر ټولو سخت وارونه راباندې کول، همداسې دې نورو هلکانو هم چې زه يې وهلم، منه که ددې يوه نه نجونې بې ازاره تېرېدلی شوی، خو اصلاً دلته يې هم زه د خدای او ثواب يا هم ددې لپاره نه وهلم، چې اصلاح شم، له دې وروسته خپلو هېوادوالو ميرمنو ته ازار ورنکړم، بلکې يوه ميله ورته برابره شوه، بلخوا زما په وهلو کې يې د هغه نجلۍ له رضايت او خوشحاله کولو نه خوند اخيستو. خو په هر حال جامې مې خيرې ويرې شوې، پوزو نه مې وينو دارې وهلې، له اخ او ټوخه يې وارتېرمه، لا هم د لغتو او سوکانو نوبت نه راباندې کېدو، عيني حال زړه کې راتېره شوه: ولاړې سرېيه! لکه چه د فرخندې په برخليک ورسېدې. خو بيا يې هم کور ودان همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ راوړاندې شوه، په خلکو يې غږ وکړو، رانه هاخوا دېخوا يې کړل، زه يې ترې خلاص کړم، زما ترې خلاصولو وروسته يې ټول ولاړ خلک مخاطب کړل، په خورا جرئت، لوړ او اثرناک غږ يې کړل:

- همدومره يې بس دي، که انسان وي، پند به يې اخيستی وي، اينده کې به د پرديو ښځينو په وړاندې له داسې بد اخلاقۍ کار وانخلي، خو اصلاً دا ستونزه يوازې ددې هلک په وهلو، بندي کولو، حتا وژلو نه حلېږي، بلکې اساسي حل غواړي، چون تنها دې هلک نه، بلکې يو ساعت وړاندې يو دوکاندار همداسې يو پست عمل راسره وکړو، اوس چې راتللم له تکسي نه دښکته کېدو په محال ډرېور يوه بې حيا خبره راته وکړه، دلته ددې تور لوغړن جواري فروش دا عمل و چې راسره ويې کړو، همدا و چې نور يې زه هم بې حوصيلې کړم، عکسلعمل مې وښودو، خو په هر راز دې ټولو ته په کتو ښکاره ده، چې زموږ او تاسو د ټولنې اکثريت يا هم تقريباً اتيا سلنه ځوانان په دې بدعملۍ روږدي دي، په ځای ددې چې لکه د نورې نړۍ ځوانان خپل ژوند او اقصاد لوړولو، هېواد په پرمختګ او ترقۍ، د سيالانو سره په ځان جوړولو فکر وکړي، برعکس د دوی سترګې، ذهن واړه حواس د نجينو، ښځو په ګنده کې ګندلي، درحالې کې چې زموږ کورنۍ لندن کې ده، زه د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجارتي شرکت ویانده یم، یوازې د لندن په ښارونو کې نه، بلکې ټوله اورپا کې شپه او ورځ ګرځم، اسلامي هېوادونو ایران، ترکیې، سعودي ته تللې یم، له دوکانونو مې سودا اخیستې، ټکسي کې سوره شوې یم، خو له ما سره تر دې دمه د کوم، اسلامي او غیرې اسلامي هېواد د ځوانانو لخوا په لارو، ټکسي، دفتر، مارکیټونو کې داسې له بداخلاقۍ نه ډک چلند نه دی شوی، ولې دا دوې درې ورځې کېږي، خپل هېواد ته سیاحتي یا هم د خپلو دوستانو د لیدو لپاره راغلې یمه، نن لمړۍ ورځ وه، چې له کوره راووتلمه، یوازې تر وزارت خارجه ولاړم، بېرته راغلم، ددې یو کیلومتر لارې په اوږدو کې، دا دریم ځل و، چې د خپل مسلمان هېواد د غیرتي ځوانانو لخوا په رنګا رنګ ډول ازار او عزیت شوم، سره ددې چې تاسو مې وینئ، د اسلامي شریعت، افغاني فرهنګ او حکومت د لایحه له مخې پړونی، د پړوني له پاسه لوی حجاب، ماسک مې هم مرعات کړي، پس ددې ټولو باوجود، بیا هم له ما سره نن ورځ ګام په ګام د ځوانانو نموړی چلند له شک پرته ددې ښکارندوي کوي، چې په دې خاوره د ډوډۍ له لوږې جنسي لوږه ډېره حاکمه او خطرناکه ده، بناءً د اساسي حل پاره یې، تر هرڅه لمخه د هېواد له مشرانو، سپینږیرو، حکومتي مسولینونه مې هیله ده، چې زر تر زره لاس په کار شي، د وادونو لوړ لګښتونه او مصارف له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسي، ځوان نسل ته د حلالي نکاح کولو په برخه کې، ټولې ستونزې او ممانعتونه له منځه یوسي، تر نهایي حده اسانتیاوې ورته برابر کړي، چون ځنګه کوم چې مخکې مې د اوروپایي او ځینو اسلامي هېوادونو ځوانانو ته اشاره وکړه، چې ګویا په وړاندې مې یې کومه بې نزاکتي نه ده کړې، خو اصلاً دوی هم ملایکې نه دي، ولې هلته په اسلامي هېوادونو کې نکاح کول معمولي خبره ده، هر وخت چې یو ځوان او یوه نجلۍ وغواړي، پرته له کوم ممانعته کولی شي نکاح وکړي، له مشروع لارې خپله جنسي غریزه اشباع کړي. همدارنګه د اورپا او غرب کفري ممالکو ځوانان د خپل قانون له مخې که څوک ښځه یا هم ملګرې نه لري، د ښارونو په ګوټ، ګوټ کې مشخص ځایونه ورته ټاکل شوي، خود رضا نجیني او ځوانان ورځې خپله جنسي تنده پکې ماتوي، پس شهواني قوه یې په عقل، انسانیت، عقیده نشي غالبېدلی، ترڅو په لارو، دفترونو، موټړ او دوکانونو کې یو د بل میندو، خویندو، لوڼو، ناموسونو ته آزار او ازیت ورکړي، عزت ته یې غله شي، یا هم د خپل ځان او ژوند جوړولو، هېواد د ابادۍ، سیالانو سره سیالي مخ ته وړلو فکر یې ترې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له بدمرغه داسې یوه ټولنه چې نه خپل دین او شریعت ته ژمن وي، نه کفر مني، هلته بیا تر ټولو ستر وحشت رامنځ ته شي. په همدې سره یې سترګې راډکې شوې، پسې زیاته یې کړه، ما چې نن تر کومه ولیدل، متاسفانه زموږ او تاسو ټولنه په همداسې یو بد وضعیت کې ده، په ځوانانو مو دې هم الله ج ورحمیږي، خو صد افسوز ددې ملک د نجونو، ښځینه بې وسه قشر په حال، د څومره لوی چالش او مشکیل سره مخ دي؟ نور یې زړا پرې غالبه شوه، خبرې ترې ولاړې، تر حجاب لاندې د ورکې پړوني پیڅکه یې سترګو ته ونیوله، څو لحظې چوپه ولاړه وه، بلاخره پرته له نور څه ویلو، همغه شان پټه خوله او ځوړند سر په سلګیو، سلګیو روانه شوه.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوئ نجينې وې، فکر يې خام وو

له بد مرغه څنګه چې د هېواد په ګوټ، ګوټ کې مو د اوږده جنګ او بې علمۍ منفي اثرات خواره و، همداسې زموږ سيمه او چارپېريال هم له دې طوفانه په امن نه و، د ځناور خواصه اشخاصو کچه پکې خورا لوړه وه، ډېرى وخت به ډېرې وحشت ناکې پېښې پکې کېدلې، چې د هغو له جملې يو هم بچه بازي وه، کوم ماشوم به چې لږ ښايستوکى يا د کورنۍ لخوا لږ پاک ساتل کېدو، پورته ياد ځناور فکره افرادو به هڅه کوله چې جنسي تېرى پرې وکړي، له دې کبله اکثريت کورنيو به خپل ماشومان کورنو کې کلا بند ساتل تر مکتب او مسجده به يې هم لاس نيولي بول او راوستل، نه پوهېږم خوشبختانه ووايم که بدبختانه؟ معنا دې وخت کې زه هم تقريباً لږ ډډولى سپين پوستى ماشوم وم، په دې وجه زه هم د خپلې کورنۍ لخوا ډېر کلک کنترولېدم، په سيند کې لامبو وهلو، باغ ته تللو، همدارنګه بهر د نورو ماشومانو سره لوبو پسې مې سترګې وتلې پلار به مې کله و، کله نه، خو مور به مې له کوره د وتلو اجازه نه راکوله، يوازې مکتب ته به تلم او راتلم هغه هم دوطرفه به يې تر ډېر کلک تعقيب لاندې وم، لنډه دا چې دا د عذاب دوره پاى ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېده، نوځوانۍ ته په رسېدو سره سم که څه هم د ځان صفت د ناکاره کس کار دی، ولې بیا هم د هرې ځوانې نجلۍ پام راګرځېدو او سترګې راکې پاتې کېدو یا هم زما په وړاندې په ځان کنترول له لاسه ورکولو ته په کتو، درته وېلی شم چې واقعاً دلچسپه ځواني مې ویستله، خو لا هم ممکن باور مو ونشي، اما یقین وکړئ، د دوئ د بار، بار اشارو او میني د اظهار سره سره ما د خپل کلي، چم ګاونډ د نجینو سره هېڅ نوعه تار او اړیکه نه ساتله، چون ددوی کورنۍ زموږ د کلي کور مړي او ژوندي شریک خلک و، ددې هر کور آب او نمک ما خوړلی و، دوئ نجینې وې فکر یې خام و، ولې ما ته په هېڅ صورت وجدان اجازه نه راکوله چې د لوڼو سره یې نامشروع اړیکې وساتم، یا هم له عزت سره یې لوبې وکړم، خو یوه نجلۍ چې، زموږ د نژدې ګاونډي لور وه، د دوی کور زموږ د لارې په سر و، زښته ډېر وخت یې هڅه وکړه چې ورسره آشتي مې کړي، بلمقابل د مینې اظهار ورته وکړم، دایم به یې څارلم کله به یې د بالاخانې او کله به یې د آشپز خانې په کړکۍ کې کمین نیولی و، زه به چې د کړکۍ ساحه ته راورسېدم، کله یو څه، کله به یې بل څه ووېل، کله به یې ښه په کړس وخندل، ما به بیا هم ځان نه پرې پوهولو، چې واقعت شي دې هم ښه ځواني لرله، خو پلار یې سپینږیری و، نجاري یې کوله، عیني حال کې ډېر غیرتي سړی و، له موږ سره یې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ګاونډي توب پاللو ، بلخوا مور به مې کیسه کوله، زه چې پیدا شوی وم، د مور مې شیدې کمې وې، بیا د همدې نجلۍ مور هر سهار د خپلې غوا له شیدو یو ، یو ګلاس شیدې زموږ کورته رالیږلې، یعني زه که په ماشومتوب ډېر ښه سپین ماشوم وم، یا مې اوس ښکلې ځواني ویستله، دا مې د دوی په شیدو ایستلې، له دې کبله مې په هېڅ صورت ضمیر نه منله، چې د لور سره یې ناروا اړیکه ټینګه کړم، همدا و چې تر اخیره مې د یوې خبرې ځواب ورنکړو ، نه مې ځان پرې پوه کړو ، ان تر دې چې یوه ورځ یې د اشپز خانې له کړکۍ نه څو ځل غږ وکړو ، احمده ! احمده ! دلته ګوره احمده ! ما ځان نه پرې پوهولو نجلۍ چې ډېره احساساتي شوه کړل یې: ای د سپي زویه !

خدایي چې شي سخته خندا راغله، خو خپل احساسات مې کنترول کړل، یوازې تر دې یوه ځنګ مې بد ، بد وروکتل، دا موسکۍ شوه، ما واپس مخ ترې راواړولو ، هېڅ مې ونه وېل، راتېر شوم، بلاخره نجلۍ چې له ما نه نور بېخي نامیده شوه، بیا به مې یې مور ته هر چېرته زارۍ کولې چې ګویا ما احمد ته وکړه، خویندو ته به مې یې وېل، بار، بار او جلا ، جلا د کور هر غړي ته په ویلو سره یې د وخت په تېرېدو زموږ کورنۍ هم دې ته واداره کړه، ترڅو راته وکړي، همدا و چې یوه شپه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ خوړلو وروسته د پلار په شمول ټول فامیل مو ناست و، مور مې مخ راواړو کړل یې:

- احمده زویه! زه او لالا دې د ورځې پرې وغږېدو، دغه د نجار کاکا لور دې مکۍ ډېره ښه نجلۍ ده، هر ځای مې چې ووینې زارۍ راته کوي، چې ما احمد ته وکړه، خدایزده څنګه یې زمونږ دا ګډ وډ کور تر پامه ښه ورغلی. په دې سره مې خویندو هم په یوه غږ کړل:

- مونږ هم چې هر ځای ووینې راته وایي، ددوی هم خوښه وه، مشرې خور مې زیاته کړه: ښه نجلۍ ده، ښایسته هم ده، کور ته یې چې هر وخت زه ورغلې یم، ډېره پاکیزه او ټوله زندګي یې وي.

خو دا چې په همدې شپو ورځو کې د کانکور نتایج اعلان شوي و، خوشبختانه زه هم د خوست پوهنتون ادبیاتو پوهنځۍ ته کامیاب شوی وم، ادبیات مې د خوښې ریشته وه، همدا پوهنځۍ مې له اولیه انتخابونو څخه وه، ډېر خوشحاله وم، مور ته مې کړل:

- رښتیا هم ښه نجلۍ ده، خو زه مې چې ترڅو درسونه خلاص نکړم، کوژده نه کوم.

مور مې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته دې خپل درسونه وایه، له سبک نه خو دې نه پرې راګرځو، نه دومره وس لرو چې سم د لاسه یې راناوې کړو.

ما مې بیا هم په مخکنۍ خبره ټینګار وکړو، ومې ویل:

- نه اوس دې وي.

اما دوی په خپله خبره کلک و، نور مې غږ ونکړو، مجلس همداسې په نامجهول، یا هم بېله کومې قاطع پرېکړې رنګ شو، څو ورځې وروسته پوهنتونونه شروع شول، زه خوست ته ولاړم، دوې هفتې لا نه وې وتلې چې د کوژدې زېرى راباندې وشو، خوشحاله شوم، مکۍ بد نجلۍ نه وه، ښایسته هم وه، له دې وروسته کله به چې په رخصتۍ کور ته ولاړم، له لرې به مې یونیم سلام علیک ورسره کولو، خو ډېر کار مې نه ورسره لرو، مګر دې هڅه کوله چې ښېخې مې ورسره پرې کړې، کله به یې ویل له خوست نه دې څه شی راته راوړي؟ همداسې کله یو څه او کله به یې بل څه ویل، ما به یې یوازې په موسکا سره خبره تېره کړه، نور مې غږ نه ورته کولو، ډېرى وخت به یې ویل مېلمه مې یې. یوه ورځ مې ورته وویل: زموږ او تاسو ګاونډ کې رواج نشته خلک ډېره بده ترې وړي، چې د کوژدې په وخت کوم زوم د خسرګنۍ کور ته ورځي، نو زه او ته باید په خپل ځان او کورنیو کې خلک ونه غږو او نه یې هم د هر فتاوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلس سرته‌کي کړو، صبر کوه، دواړه به انشاءالله په خپل وخت سره وينو.

کړل يې!

- نه، بېګا ته به حتماً راځې، آغا مې او ادريس دواړه تللي د عمه کره مې، مور مې ويده وي، هېڅوک نه خبرېږي، فقط يو ځل دې ټينګ غېږ کې نيسم، بيا که واپس هم تلې، ولاړ شه!

ومې خندل کړل مې:

- سبا خوست ته ځم بل ځل چې راغلم انشاءالله وعده ده.

نجلۍ جدي وه، کړل يې:

- نه، هرو مرو به بېګا ته راځې، که رانغلې په خدای ج کې بيا په ټول عمر مخ درواړوم.

موسکی شوم نور مې غږ ونکړو، ترې روان شوم، شپه مې کور وکړه، سبا بيا خوست ته لاړم، د ځلورم سمستر اخيري امتحانونه و، دوه ويشت ورځې وخت يې واخيستلو، تر امتحانونو وروسته واپس د دوه نيمو مياشتو رخصتۍ تېرولو په پار د کور په لور روان شوم، دا ځل مو نو د واده اراده هم وه، چون د نامزادۍ مو ډېر وخت ووتلو، تقريباً دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال يې پوره شول، زه چې د پوهنتون په لوړ راتلم د کورنۍ لخوا مو دا تصميم ونيول شو، چې بل ځل په رخصتۍ راغلې واده به وکړو، خو بدبختانه تقدير کې بل څه و، لوګر ته په رارسېدو سره مو، د امريکايانو په ټانک تر سرک لاندې پولچک کې ځای په ځای شوی بم الوتی و، د سوارۍ موټر يې هاخوا او دېخوا دړولي و، موږ چې ورغلو موټروان مو ناخبره و، څو قدمه وړاندې ورتېر شو، پاس د بل ټانګ له سره يې ذربه رابندې وکړه، ډرېور يې سينه کې وويشتلو، يوه مرمۍ زما په مټ ولګېدله، ډرېور چوکۍ کې راړنګ شو، له همدې سره موټر تر سرک ووتلو درې، څلور لوله يې وخوړل لاندې ورغړېدو، نور په ځان نه يم پوه، يو وخت چې په هوش راغلم تيکه، تيکه په روغتون کې پروت وم، نه لاس راټولېدل، نه پښې، مخ مې دروند و، سترګې مې نه خلاصېدې چې آينه مې ورته سمه کړه، د موټر چپه کېدو په وخت کومه اوسپنه ورته برابره شوې وه، لکه تېره چاړه چې پرې کش وي، پوزه او دا يو اننګی مې يې بوټ غوڅ کړي و، ان هډوکي ته لوېدلي وه، ډاکترانو زخم واپس ګنډلی و، غټ غټ کوکونه يې پرې وهلي و، د خپل مخ او څهرې نه مې ووېرېدم، زړه کې راتېره شوه: سړيه! ممکن په خپل ښايست او ځوانۍ دې غرور کړی وي، چې نن خدای ج په داسې حال کړې. خو په هر حال لنډه دا چې د وخت په تېرېدو سره نور ښه شوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخ زخم هم جوړ شو، خو په پوزه او دي يو طرف اننګي ان د غوږ تر نرموکي د زخم او کوکونو پرهارونه مې په مخ بيخي بد ښکاريدل. هيڅ مې اينه کې خپل مخ ته نشوی کتلی، لکه غټ لتېک يا ځرموښکی مې چې په مخ سريښ وي، رنګ يې هم نسبت د نور پوست رنګ ته تک سور و. هغه ښکلا او ځواني يې کاملاً رانه لوټ کړه، خو بيا هم ښه و. اقلاً زخم يې وچ شو. اما سره ددې چې زښته ډېرې دواوې مې پرې وکړې خو له بد مرغه لاس ښه نشو. چون کومه مرمۍ چې ترې وتلې وه، زهري وه، يو نيم کال مې ډاکتر په ډاکتر وګرځولو. د افغانستان طبابت مې چې پرې ستړی کړو، پاکستان ته ولاړم، هلته هم هېڅ نوعه دواه درمل، کار ورنکړو، ان تر دې چې هډوکی يې تور شو، بلاخيره وروستۍ نتجه دا شوه، چې د کراچۍ په يو خصوصي روغتون کې يې د مټ په پاسنۍ برخه کې رانه قطع کړو. درې ورځې نور هم روغتون کې پاتې شوم، ځلورمه ورځ په سفر پنځمه کور ته راورسېدو. د الله ج رضا وه، د ګل په شان ځوانۍ سره، جوړ او روغ له کوره وتلی وم، ګوډ، مات نيم او نيمکله وجود مې واپس ورته راوړو. له همدې ځای نه مې د بدبختيو سلسله شروع شوه. د ژوند خورا هيلې مې له خاورو سره خاورې شوې. يعني له دې وروسته سربيره ددې چې معيوب وم، خپلې نيمګړې ځوانۍ مې زړه خوړلو. د زندګۍ چارې مې هم کرار کرار

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکډې وډی شوې، لمړي قدم کې چې پوهنتون ته ولاړم، د پوهنځی د مدیریت لخوا اجازه رانکړل شوه، ترڅو درسونو ته مې دوام ورکړم، وېل یې: ته دوه کاله محروم یې نور حق نه لرې چې درس ووایې، کیدی شي په پیسو یا هم رشوت ورکولو مې کار شوی وی، ولې چې دا کارونه کېدل، ډېرې وخت به محصیلینو خپلې ستونزې د پیسو په زور حلولې، خو ما پیسې هم نه لرلې. چې دوی مې پرې قانع کړې وی، همدا و، چې پوهنتون نیمګړی پاتې شو، دوهم قدم کې کوژدنه مې، هغه زما غېږ پسې لېونۍ مکۍ مې چې له دې حاله خبره شوه، زما سره له واده کولو یې انکار وکړو، مور ته مې یې وېلي و: زما ازار وهلی، چې جوړ و، په ما یې کبر کولو، هېڅ ارزښت یې نه راکولو، چې کور ته ولاړې ورته وواېه دی خپل، ډېر ښه پوهېږي، په دې اخیر ځل هم چې پوهنتون ته تللو، مابنام مې یوه خبره ورته وکړه، ډېر عذر، زارۍ مې ورته وکړې بیا یې هم ونه منله، خپل کبر او غرور یې تر سره کړو، همداسې پوهنتون ته ولاړو، اوس چې په دې حال شو، نور زما نه دی پکار.

زمونږ کورنۍ او د مکۍ خپل مور او پلار چې هر څومره فشار پرې راوړو، نجلۍ قانع نشوه، خو دا چې په مونږ افغانانو خصوصاً پښتانو کې ډېره بده د لوی پیغور او بېغیرتۍ خبره ده، چې کوژده کړې ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ترې وګرځول شي، همدا و چې بلاخیره کورنۍ پلار او ورونړو مې له زور نه د کار اخیستلو اراده وکړه، خو ما پرې نښودل، ورته کړل مې: که بل چاته یې کوئ؟ ورشئ وکړئ؟ کني زه د زور ښځه نه کوم، نکاح یې هم نه صحیح کېږي، ځکه د دواړو خواو رضایت (اجاب او قبول) په نکاح کې فرض دی. بناءً له ما یې چې ښکلې ځواني او جوړ وجود واخیستلو، دا ستونزې ورسره شته، د الله ج رضا ته تسلیمېږم. البته منم دا زموږ او تاسو په ټولنه کې د شرم او پیغور خبره ده، خو موږ او تاسو مسلمانان یو، له تاسو مې هم هیله ده، راځئ د لمړي ځل لپاره په دې سیمه او محل کې موږ او تاسو د پښتو او ددې بد فرهنګ په ځای خپل اسلام مبارک دین ته ترجیح ورکړو، پرېږدئ لمړی کوژده مو هم ددې په غوښتنه وه، اوس رد کول یې هم ددې غوښتنه ده. لنډه دا چې قناعت مې ورکړو، تر نجلۍ تېر شول، له یادولو دې پاتې نه وي نموړې نجلۍ بیا څه وخت وروسته یې په برج کلا کې د یو بل هلک سره کوژده وکړه.

خو په هر حال همداسې د هرې ورځې په تېرېدو سره مې نور هم مشکېلات زیاتېدل، هره برخه کې د ملګرو، همزولو، سیالانو له سیالۍ پاتې کېدم، ان تر دې چې د څه وخت نور په تېرېدو سره کور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم چا حساب نه راباندې کولو ، نه هغه شان د کورنۍ مهم غړی وم، چې هره پرېکړه، هره موضوع کې به زما مشورې اولیت لرلو ، ددې سره سره که څه هم کورنۍ اقتصاد مو بد نه و ، خو زه به تل پکې احتیاج او بې خرڅه وم، د کور له عمومي سرمایه نه مې د مصرف اختیار نه لرلو ، همدا و چې تر ډېره به مې د ورونړو ، له زړو لباسونو استفاده کوله، هغه لباسو به مې یې اغوستل چې دوی به نور نه استعمالول، چون دوی جوړ و، ایران ته به هم تلل، دلته یې هم هر کار او مزدوري کولی شوی، د خپلې مزدورۍ دوې برخې پیسې به یې چې کور ته ورکړې، په هغه یوه برخه پیسو یې ځان ښه شوقي ساتلی شوی، ولې ما د دوی غوندې کارونه نشوی کولی، خو بیا هم لاس تر زنې نه وم ناست، د خپلې وسې کار به مې لټولو ، ډېر وخت مې یو کورس کې استاذي وکړه، که څه هم کورس لرې و ، یونیم ساعت به مې له یوې خوا پلی مزل کولو ، یونیم ساعت له بلې خوا ، خو ښه و ، مصروفیت و ، کنې ددې دومره ستړیو اعلاوه بیا هم معاش یې کم و ، میاشتانه یې پنځه زره افغانۍ راکوې، په دې کې د کور هم راته سترګې وې، څلور زره به مې دوی ته ورکولې زر افغانۍ مې خپل جیب خرڅ ته ترې راوګرځولې، خو زر افغانۍ به سړی تر څه ورسوي؟ له دې کبله د معاش له اخیستو څو ورځې وروسته به مې هغه د چا خبره په جیب کې اتنۍ نه وه، د میاشتې تر اخیره به

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلک بې خرڅه وم، ولې بیا هم څرنګه مې چې مخکې وویل له بیکارۍ نه ښه و، خو بدبختانه څه وخت وروسته امنیتي شرایط خراب شول، زموږ کورس یې رابند کړو، بې کاره شوم، هاخوا دې خوا ډېر وګرځېدم بل کار مې پیدا نکړو، مجبور شوم د څه وخت لپاره مې د کلي د مسجد خادمي ونیوله، مسجد به مې جوړو کولو، ابدانونه مې له ابو ډکول، ملاصاحب ته به مې په نوبت سره له کورونو ډوډۍ راوړله، د ملاصاحب د معاش سره به ماته هم میاشتانه درې زره روپۍ تولېدې، بله ورځ مې کورنۍ ویل، له دې دریو زرو روپیو نه خو چې خپلې مېږې وخروې ښې دي. ورسره اوکې مې کړله، پنځه مېږې مو خپلې لرلې، آته مېږې څلور، پنځه وري یې نور هم راته واخیستل، سهار به مې ایستل غرمه به مې راوستل، ډوډۍ به مې چې وخوړله، لمونځ به مې وکړو، بیا به مې ویستل ماښام به مې راوستل، ژوند و، همداسې ستړې ستومانه په مات زړه تېرېدو، ورځ تر بلې مې له ژونده لاس په سر کېدل، د خپلې راتلونکې او اینده په پار تشویشونه راسره زیاتیدل، ان تر دې چې ډېر کلک رواني تکلیف مې پیدا کړو، هېڅ مې د انسان رنګ نه خوښېدو، نسبت کلي کورته، غره کې به یوازې خوشحاله وم، ډېرې وخت به د ځان وژنې او دې ته ورته نورو خورا تخریبانه فکرونو غلبه راباندې کوله، ددې هر څه سره، مور او پلار بیا هم مهربانه وي، دوی به یو او بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای تلل، هڅه یې کوله چې واده راته وکړي، ترڅو راتلونکې کې نورو ته احتیاج نشم، مګر زما خوښه نه وه، چون واده کول خو یوازې دا نه ده، چې ښځه ده وکړه او بچیان دي و زیږوه، ښځه او اولادنه، خوراک، لباس، دوا، تعلیم او تربیه ته ضرورت لري، دا ټول د پلار مسولیت دی چې باید رسیدګي ورته وکړي، له بدمرغه ما په ځان کې دا توانایي نه لیده، چون زموږ په جنګ ځپلي خوار او زار ملک کې جوړ خلک د خپل اولاد په نفقه پوره حیران دي، ښځې او اولادونه یې ترې خوار دي، زما په شان یو معیوب انسان خو هېڅ کله نشي کولی اړتیاوې یې پوره کړي، همدا وجه وه، چې نفس مې نه منله ترڅو زما په نوم یوه ښځه یا ماشومان دې زما د معیوبیت او ناتونۍ له کبله په سختو کې ژوند تېر کړي، احتیاج، وږي، تږي، لوڅ دې وي، یا هم وغیره ستونزې دې ولري، چون ما ممکن کومه ګناه کړې وي، الله ج پرې نیولی وم، یا به کوم امتحان وي، هر څه چې دي باید یوازې خپل یې وزغمم، نور بې ګناه انسانان په دې اور راسره پاخه نکړم، خو مور او پلار به مې بیا هم تلاش کولو زما خبره به یې هاخوا غوځوله، ان تر دې چې په ټول کلي لرې او نژدې سیمو کې څوک دې ته تیار نشول چې خپله لور ورکړي، حتا ځینو خو په ډېرو ترخو الفاظو راځواب کړل، چې ګویا تاسو سر او سترګې لرئ چې معیوب ته زما لور غواړئ؟ اخیر دوی هم نا امیده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول، نور یې زما لپاره د چا دروازه ورخلاصه نکړه. له ما نه کشر ورور ته مې یې د واده کولو تصمیم ونیولو. مجبور هم و. بله لار یې نه لرله، ځکه چې خدایي شي، ډېر وخت یې زما لپاره هم نیهاي خواري وکړه، ولې هېچا زړه راته ښه نکړو. د معیوبیت علاوه، سن مې هم جګ شوی و. شاوخوا ۳۳ کلونو ته رسېدلی وم. په ما پسې ورور مې پنځه کاله له مانه کشر و. نو طبعاً نور دده هم حق و. لنډه دا چې د څو ورځو تر تېرېدو وروسته یې زموږ یوه ګاونډۍ نجلۍ ورته وکړه. غره کې وم، مور مې زنګ راته ووهلو. زېری یې وکړو. لمړی یې ښه خوشحاله غږ وکړو اخیر کې راپه ژړا شوه. خو په هر صورت. برعکس د زیري کولو مننه مې ترې وکړه او د اینګور مبارکي مې یې ورته ووېله. که څه هم د ورور په نامزادۍ خوشحاله شوم. خو ترخنګ یې ددې زیري په اورېدو سره مې په ځان او خپل مظلومیت هم زړه سختې څړیکې وکړې. له تاسو یې څه پټه ځای په ځای کېناستم. څنګ ته په یوه کمر مې د مړوند له پاسه سر تکیه کړو. ښه ډېر مې وژل. یو وخت مې مېږو ته پام شو. ډېرې لرې تللې وې. اوښکې مې وچې کړې پسې ورجګ شوم. تقریباً د غرمې ټایم و. آینه مې راویستله چې سترګو ته مې وکتل سرې سرې وې. له ورایه ښکارېده چې ژړلي مې دي. همدا و چې کور ته له تلو او ډوډۍ تېر شوم. مېږې مې واپس د غره په لور راوګرځولې. د تنګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ په چینه کې مې اودس او لمونځ وکړل، کوشش مې کولو، چې پام بلخوا واړوم، خو هېڅ مې خپل مظلومیت، د مور زنګ وهل، زېرۍ، اخیر کې ژړا، له ذهنه نه وتله، بار، بار به مې سترګې راسرې شوې، ان په لمانځه کې مې د اوښکو څو غټې، غټې څاڅکې په اننګې راورغړېدل، یخن ته راپرېوتل، د سلام له ګرځولو سره سم مې لاس ورپورته کړو، سترګې مې وچې کړې، بیا پورته شوم، یو دوه رکعاته نفل مې زیات وکړل، اخیر کې مې لاس لپه کړل، له الله ج نه مې د صبر، حوصیلې غوښتنه وکړه، نور راجګ شوم، څادر مې وځنډلو، میږو پسې ورروان شوم، لنډه دا چې دا پاتې ورځ مې هم له خلکو لرې همدې غره کې تېره کړه، ماښام ناوخته راغلم، کور کې مو خوشحالي وه، خپل خپلوان مو راتلل و، ښځو دریا وهلو، سندرې یې ورسره وېلې، په نوبت دوې، دوې، درې، درې د نڅا لپاره راجګېدې، ما د راتلو دوستانو، میلمانو سره ستړې مشي وکړه، دوی ماته مبارک وېله، ما دوی ته، پسې ورغلم ورور او د کورنۍ نورو غړو ته مې هم مبارکي ووېله، د همزه بابا خبره: لکه پسه چې په اور غاښونه سپین کړي، په زور مې د موسکا په پار د دوستانو سره خوله جینګه نیولې وه، له ډوډۍ خوړلو وروسته د کلي ځوانان حجرې ته راتلل شول، ځوانان دې نو، ځینې خو بیا بیخي پکې بې احساسه وي، په ځای ددې چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعیت درک کړي، خواخوږي راسره وکړي، برعکس دا ساعت يې په ما باندې د ټوکو او مسخرو کولو ښه چانس وګڼلو، همدا و چې يوه به ټوکه وکړه، وبل به يې: څه بچيش نور دې ولاکه ورته وبلي و، چې لږ رانژدې شه. ګواکې ته د ښځې نه پاتې شوې، هېڅ کله به نور په يوه بستره کې ورسره ځنملې ترڅو ورته ووايې چې لږ رانژدې شه، نورو هلکانو به په ټول زور ورته خندل، بل به له هاخوا کړل: د کور غلام وې، غلام شوې، بيا به خنداګانو زور واخيستلو، بل به له دېخوا پسې زياته کړه: څه وخت وروسته به يې دمېږو څرولو ترځنګ يو بل مسوليت هم زيات شي، ورېرونه به کراروي، په دې سره به نورو هلکانو بيا خولې خلاصې کړې، نن نه خاندې نو کله؟ همداسې چيټيات يې غږول، ما هم په خپل ټول وس کوشش کولو چې خپل حال نرمال او غابنونه له شونډو لوڅ وساتم، چې ګويا خوشحاله يم، خاندم، ورستيو کې مې يو دوه سره آتڼ هم ورسره وکړو، نور مې دوی پرېښودل زه ترې راووتلم ويده شوم، سهار وختې مې بيا مېږې راخلاصې کړې، د څرولو په پار مې غره ته راوستلې، خدای ج شته ډېر خپه او مايوسه وم، زړه مې هېڅ تسلي نه کوله غلي، غلي يې سينه کې راته ژړل، څنګه مې چې مخکې ووېل، د ورور په نامزادۍ مې نيت نه و بد نه پرې خفه وم، چون ورور مې بد هلک نه و، دا چې زه معيوب وم، واده کولو ته مې زړه نشوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولی یا چا لور نه راکوه، دده ګناه نه وه، بلخوا دی هم نور پخې ځوانۍ ته رسېدلی و، سل سلنه یې حق و، زه صرف ورځ تر بلې د خوارۍ او زیلت لور ته په تلو مې خپلې بربادۍ ژړولم، خو په هر راز ترڅو سر مو ونخورېم، لنډه دا چې د ورور د کوژدې او مور د زیرې کولو په درېمه ورځ هم همغه شان غره کې وم، زړه مې هم همغه شان سینه کې پټې سلګۍ راته وهلې، چې مبایل ته مې زنګ راغلو شماره مې وکتله ناشنا وه، بلخوا مې طبعیت بیخې د چا سره خبرو کولو ته جوړ نه و، اوکې مې نکړو، څو شیبې وروسته یې بیا زنګ وکړو، دا ځل مې هم اوکې نکړو، نیم ساعت پس یې بیا زنګ وکړو، سودا مې شوه، د اوکې بټنه مې ووهله، سلام مې ورواچولو، په ښځینه غږ راغبرګه شوه: وعلیکوم سلام احمد جانه! ښه یې؟

- شکر دی، الحمدالله ښه یم تاسو ښه یی، کور خیرت دی؟

- هو شکر ښه یو، ودې پېژندمه!؟

- نه ولا!

- فرښته یم، د الیاس خور، د ښارنوال عباس لور!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې په اورېدو سره مې تول بدن جام پاتې شو، په ځای ددې چې ورته ويلي مې وای: ډېر ښه، کور مو خيرت دی، آغا دې، مور دې، ته خپله ښه يې؟ برعکس خبرې مې له خولې وتښتېدې، ژبه وچه کلکه شوه، همداسې خاموش پاتې شوم، پسې پاتې شوم، پاتې شوم، چون يو خوا ډېر کالونه وتلي و، چې کومې پيغلې نجلۍ خبرې نه وې راسره کړې، بېخي ناديده شوی وم، همد و چې ډېر زيات يې تر اثر لاندې راغلم، بلخوا دا هغه نجلۍ و، چې د خپل ښايست په مټ يې زموږ په چم ګاونډ کې نوم لرلو، د ډېرو لويو لويو خانانو، ملکانو زامنو او د ټولې منطقې په سطحه سره ځوانانو جرګې پرې کولې د خواست لمنې به يې ورته غوړولې، خو د نمورې نجلۍ او کورنۍ لخوا به يې خالي کچکول ناهيلي ځوابېدل، نو طبعاً د داسې بلند پروازه نجلۍ له لوري زما په شان يو ملنګ انسان ته زنګ وهل بېخي هېرانونکي و، واقعاً سړی متثره کوي.

خو په هر حال چې ځواب مې ورمعلوم نشو، بيا يې کړل:

- احمد جانه! غږ مې درځي؟

لويه ساه مې واخيستله ځان مې راکابو کړو، په ټول زور مې ورو ورغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو راځي !

ویې خندل کړل یې:

- ښا ، بیا نو ولې نه غږېږې؟

کوشش مې وکړو چې یوه بهانه را زده کړم، اما هېڅ شی ذهن ته رانغلل، یوازې مې وویل: غږېږم، غږ دې سم رانغلو ، زر مې پسې زیاته کړه:

- خیرت خو به و ، چې زنګ دې کړی؟

- هو شکر خیر او خیرت دی، هسې احوال مې دې اخیستلو بل ما وېل چې د وریندارۍ مبارکي دې درته ووایم.

په خوش او دوستانه انداز مې ورته کړل:

- مننه خوشحاله اوسې.

څو شیبې یې ساه نیولې وه، بیا یې د نرمې تمثلي خندا سره ګډ کړل:

- یوه پوښتنه درنه وکړم خفه کیږې نه؟

ورغبرګه مې کړه:

- نه ولې؟ ووایه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل یې:

- تا ولې واده ونکړو؟ ورور خو دې له تا کشر دی.

ځواب نه و راسره، یو ځل بیا مې د بهانه لټولو هڅه وکړه اما کامیاب نشوم هیڅ داسې معقول ځواب مې پیدا نکړو، مجبور شوم کړل مې:

- ولا څه درته ووایم؟

رښتیا هم ځواب نه و، څه مې ویلې وی؟

نجلۍ لوی د افسوز اوسلی وکړو، راغبرګه یې کړه:

- دوې ورځې مخکې خبره شوم، ته باور وکړه، زما په ژوند کې تر ټولو تریخ او د خفګان زیری و، نه مې یاد یږي چې ما به بل وخت په کوم څه دومره ژړلې وي، زه پوهیږم چې ته ولې له واده کولو پاتې شوې، خو هغه ورځ چې زما پلار زخمي د کوما په حال بستر کې پروت و، او ته لکه د الله ج له طرفه رالیږل شوي مرستندویه فریښته د شپې روغتون ته راغلې د خپل وجود په سرو وینو دې، زما مړ پلار ته واپس ژوند ډالۍ کړو، زما مور ته دې په ځوانه ځوانۍ له کونډولې او بې سرپرستې نجات ورکړو، زه او زما ورور الیاس جان دې د یتیم توب د توري بلا له مرۍ نه راویستلو، همداسې نن چې موږ کوم ښکلی ژوند، یوه فعاله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته کورنۍ لرو دا ټول ستا برکت دی، هغه احسان، ترحم، مهرباني د انسانیت حد به دې زرګونه کالونه زما له زړه ونوځي، کاشکې د هغو په عوض کې مې ډېر، ډېر څه درسره کولی شوی، خو افسوز نور مې هېڅ وس کې نشه ولې یوازې یو څه چې زه یې نن درسره کولی شم، هغه دا دی چې له همدې اوس نه مې زه د خپلې کوژدې مبارکي درته وایم، هیله ده، د ژوند د یوې ناچیزه ملګرې په صفت مې قبوله کړې.

دا چې ما یې په خواب کې څه ووېل؟ د فریشتې خبره مه هېروئ، واپس زر همدې ځای ته راګرځم.

ترخو سوال درته پیدا نشي، لنډو کې به یې لمړی د پلار د زخمي کېدو او زما د وینې ورکولو هغه کیسه درسره شریکه کړم، کوم چې فریشتې یې خپلو خبرو کې اشاره ورته وکړه.

اصلاً دا واقعه له مانه ښخي هېره وه، اوس چې دې یاده کړه، ماته یې هم رایاد کړه، چون تقریباً لس، پنځلس کالونه مخکې دا پېښه شوې، چې هغه وخت زما لاس جوړ و، شاوخوا د ۱۹\۱۸ کالونو په عمر د نوځوانۍ په جوش دوران کې وم، مازیګر و، مسجد ته د تلو په نیت له کوره راوتلم، چې د کلي بر سر هدیرې سره ډزې وشوې، خلک ورمتوجه شول، څو لحظې پس منډې، منډې شوې، ما هم ورمنډه کړل، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړسېدم، څارنوال عباس يې موټر ته څېرمه، سپیرو خاور کې په وینو لت پت پروت دی، سلګۍ وهي، ښځه او واړه، واړه ماشومان يې، همدا فریشته او ورور يې الیاس چې هغه وخت خوار ښکلي او مینه ناک ماشومان و، که څه هم الیاس ببخي کوچنی و، فریشته لږ غټه تقریباً اوه، اته، کلنه وه، د پلار څنګ ته يې چیغې او ترفکې وهلې ژړل يې، ددې سربیره د فریشتې نیم مخ او منګولې هم په وینو سرې وې، فکر کړم، د پلار غېږ کې يې ځان ورغورځولی و. پلار يې تر ډېره همدلته پروت و، څوک له وېرې نه پرې ورنژدې کېدل چې پورته کړی يې وای، روغتونه ته يې رسولی وی، ځکه په دې وخت کې نوي لږ لږ مجاهدین (طالبان) راپیدا و، جبهې جنګ يې نشوی کولی، خو همداسې یونیم چرکي جنګ او هدفي ویشتل به يې کول، څارنوال عباس هم د هغه وخت د سترې محکمې برحاله څارنوال و، له دې کبله چا نشوی جګولی، ولې د نمونې څارنوال په شان هغه کسانو چې حکومت کې به يې برحاله دنده اجرا کوله، هر چا به يې چې جنازه وکړه، یا به يې نور کمک ورسره وکړو، بیا به د هغو هم خیر نه و، خو ښه و، وروسته یو دوه نفره راپیدا شول، دده خپل موټر ته يې پورته کړو، روغتون ته يې ولېږلو، ساعت لا نه و وتلی، د ماښام تر لمانځه وروسته، زما په شمول ټول کلیوال مو د مسجد په مخ کې ناست و، خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلو چې د ښارنوال وضعیت خراب دی، وینه ډېره ترې تللې، که له تاسو څوک د وینې مرسته ورسره ونکړي، ممکن ژوند یې جدي له خطر سره مخ دی. تر اخیره مې غوږ نیولی و، هېڅوک حاضر نشول، په داسې حال کې چې زما یې د ښځې او ورو ماشونو چیغې، ترڅکې او ددې علاوه د فریښتې د خپل پلار په وینو سور اننګی او منګولې هېڅ له سترګو نه وتل، مخکې مې یادونه کړې، هغه وخت ورکی وه، خو لکه پلاستکي لانځکه خورا خوږه مینه ناکه نجلۍ وه، له اوښکو ډکې کم رنګه شنې سترګې یې په خلکو کې هاخوا او دېخوا غړولې چې ګویا څوک ورنژدې شي د پلار سره یې مرسته وکړي، روغتون ته یې ورسوي، همدا و، چې وجدان مې اجازه رانکړه، ترڅو سترګې پرې پټې کړم، بلاخیره توکل په الله ج راجګ شوم د خپلې کورنۍ په شمول له ټولو خلکو پټ، شپه وه، لاندې د فصل او باغونو په لار مې ورمنډه کړل، نیم ساعت وروسته وړورسېدم، چې کتل مې د روغتون په دهلېز کې یې د ښځې او بچیانو لا هم په مخ سیلاب سیلاب اوښکې راروانې وې، فریاد یې کولو، ژړل یې، د ښځې یې چې په ما سترګې ولګېدې هیله منده غوندې شوه، ور نژدې شوم، ورته کړل مې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ژاړئ مه زه وینه ورکوم انشاءالله جوړ او روغ به شي، نور ترې تېر شوم، عاجل ته ورننوتلم ډاکتر مې چې وینه معاینه کړه، خوشبختانه تصادفي ورسره برابره شوه، زه یې په پاس چپرکټ کې څملوم زما د لاس له رګونو نه یې مستقیماً وینه ورته تېره کړه، د څو لحظو په تېرېدو سره کرار، کرار په سړي کې ساه وچلېده، شپږ سوه سی سي وینه مې ورکړه، ځان یې وخوځولو، د ډاکترانو امید ورته پیدا شو، زه نیم ساعت نور هم پروت وم، له ډاکتر نه مې پوښتنه وکړه:

- څنګه دی وضعیت یې؟

ویل یې:

- ښه شو، انشاءالله ! د دستګاه یې د زړه ذربان نرمال ښیي.

بیا مې ورته کړل:

- زه څنګ وکړم، لاړ شم؟

- که سر دې نه ګرځي؟ تللی شې.

راجګ شوم سر مې نه ګرځېدو، یوازې پښې مې رېږدېدلې او غوږو کې مې شرنګار و، بهر چې راووتلم، الیاس یې د مور په زنګانه سر ایښی و، ویده و، مور یې او فریشتې لا هم ژړل د عاجل بخش دروازې ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې سترګې نیولې وې، زما په راوتلو نورې هم راڅکې شوې، زر مې کړل: زیری مې درباندې ځارنوال صاحب ښه شو، سترګې یې راوغړولې، شپږ سوه سې سې وینه مې ورکړه، ډاکترانو هم وېل چې فشار او د زړه ضربان یې نرمال شو، نور انشاءالله ښه دی، شیبه په شیبه لا ښه کېږي، خطرناک ځای نه دی لګېدلی، صرف وینه زیاته ترې تللې وه، ځکه یې وضعیت خراب و.

په دې سره ښځه له ډېرې خوشحالۍ او له مانه د منني په پار ببخي احساساتي شوه، پښو ته مې راټیټه شوه، خدایزده مچو کولې یې که څه؟ په داسې حال کې چې ډېره باستره ښځه وه، تقریباً نهه، لس کالونه یې کېدل چې زموږ کلي ته راواده شوې وه، مګر تر اوسه ما نه وه لیدلې، خدایې چې شي ښه ځواني یې هم لرله، خو په هر حال زر ترې شاته شوم، پرې مې نښودو چې سر یې زما پښوته ورسېږي، ورته کړل مې:

- هیله کوم، په دې نه ارزي، دومره خو مو د یو مسلمان او کلیوال په صفت پر ما حق و، که نور څه خدمت نه وي؟ زه ځم، کور کې مې نه دي ویلي سودا به یې وي.

د عاکانو سربیره یې وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خیر یوسې خدای ج دې مل شه، بیا مې ورته کړل:

- زما د راتلو او وینه ورکولو دې چاته تر خوله ونه وځي، چې شرایط خو تاته معلوم دي.

سر یې وخوځولو، چې ګویا سمه ده.

ورتېر شوم د فریشتې په سر مې لاس کش کړو، ورته کړل مې:

- ژاړه مه پلار جان دې اوس جوړ او روغ دی، چې سېروم یې خلاص شي راوځي، په همدې سره ترې راروان شوم، له حکومتي ساحتې او نظامي پوستو چې راتېر شوم، سرک مې پرېښودو، وېرېدم چې طالبان په مخه رانشي، باغونو ته شوم، یوخوا شپه وه، پولې پټې و، بلخوا فکر کړم فشار مې ټیټ و، غوږو کې مې شنې او پښ و، هېڅ مې پښه په ځای نه لګېده، څو ځایه ولوېدم، چنار تنګي کې له پېریانو ورېدم، خلکو به وېل دا ځای دروند دی، لنډه دا چې په یولس نیمو بجو کلي ته راورسېدم، زموږ چیراغونه مړه و، دروازه مې ونه ټکوله، وېرېدم چې پلار به مې غوسه وي، د شا لخوانه په دېوال کلا ته ورواوښتم، غلی خپل اتاق ته ننوتلم ویده شوم، څنګه مې چې وېل، سهار مې پلار رښتیا هم سخت غوسه و، کړل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د شپې چېرې وې؟

د يو ملګري نوم مې واخيستو ورته کړل مې:

- ميلمه يې وم.

خو بيا هم يوازې وار يې راباندې ونکړو، نور يې هېڅ راپرې نښودل، عينې حال غوړېنو کې مې لا هم خښ او پښ و، جوړ نه وم، ولې بيا هم روح مې خوشحاله و، که هر څو ستړې، خطرونه راباندې تېر شول، يا هم پلار بې ابه کړم، خو ځای يې ونيولو، خپله انساني او مسلماني وجبه مې ادا کړه، د ښارنوال ژوند مې وژغورلو، پرې مې نښودل چې ځوانه ښځه او واړه ماشومان يې خوار شي، اصلاً زما ډېر زړه هم په همدې ښځه او ماشومانو يې بد و، يوازې دده لپاره مې ممکن دومره ستړې او خطرونه په سر نه وی اخيستي، خو په هر صورت ښکه چې لمړی مې يادونه وکړه دا هر څه له ما هېر و، شاوخوا ديرلس، څورلس کاله يې وتلي و، چې هغه وخت فريشته غالباً اوه، اته کلنه ماشومه وه، زه هم همداسې د اتلسو، نولسو، کالو په عمر نوځوان وم. دا محال نو دا ښه رسېدلې پېغله او زما سن ان دری دېرش، څلور دېرشو کالونو ته رسېدلی و، پس طبعاً اوس نسبت فريشتې ته زما د ډېر لوړ عمر، پيوند، پيوند مخ او معيوبيت سره، سره بيا هم يو ناڅافه ددې دا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ګویا ما د ژوند د ملګرې په صفت قبوله کړه، بېخي حیرانوونکي و، هېڅ داسې الفاظ مې پیدانکړل، چې د هغه ساعت حالت مې درته پرې بیان کړم، بار بار به مې ځان وخوځولو، سترګې به مې کش کړې، د میرمن ښاپېرۍ نغمې خبره چې: خوب وینم که څه دي...؟

خو په هر حال ځو شیبې وروسته مې حواس کنترول کړل، ځواب کې مې یې په ارام او منندوی انداز کړل:

- ستا له لطف او مهربانۍ نه مننه، (خدای ج) دې خپل اخلاص او انسانیت درکړي، اما له ماسره مې د کورنۍ له خوا کوم جبر او ظلم نه دی شوی، زه خپله کوژده نه کوم، کورنۍ ته مې اجازه ورکړې وه، ترڅو ورور ته مې یې وکړي.

نجلۍ اوږده ساه واخیسته د جواب په پار یې راغبرګه کړه:

- زه تا درک کوم، په هر څه پوهېږم، ته د یو ډېر ښکلي فکر خاوند او بااحساسه انسان یې، له شک پرته ته د خپل معیوبیت له وجې راتلونکې کې د میرمنې یا یوې کورنۍ د مسولیستونو په اړه اندېښنه لرې، زما له انده سل سلنه، همدا وجه ده، چې له واده کولو انکار کوې، یا نه غواړې واده وکړې، اما زه ډاډ درکوم چې انشاءالله نه اوس او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینده کې هېڅ نوعه روحي او جسمي سردردي به دې ونه ګرځم او نه به هم که د اللّٰه ج خوښه وه. هېڅ کله ته دې ته اړ شي چې زما د نفقې یا نورو ضرورتونو لپاره کار او یا یې هم اندښنه وکړې، ځکه ته پوهېږې چې نن وخت د انسان فزیکي قوه نه ده مهمه، بلکې هر څه پیسې کوي، پس زما پلار له ماسره خورا زیاته مینه لري، څه ځمکې، شتمنۍ او ملکیتونه یې چې لرل، زما او د الیاس ترمنځ یې سم نیم ووېشلې، د نیمو قواله یې زما او د نیمو یې د الیاس په نوم کړې، یوازې ماته چې کوم سهم رسېدلی، دوه سوه کاله یې چې زه او ته یا یوه متوسطه کورنۍ په سر باد کړي، نه یې شي خلاصولی، بناءً په دې اړه هېڅ تشویش مه کوه.

که څه هم مخکې مې ووېل، رښتیا هم زما وېره خو له همدې مسولیتونو وه، چې واده ته مې زړه نشوی نیولی، مور او پلار به مې منعه کول، خو بیا هم دې ته مې کړل:

- نه دغه خبره نه ده، هسې مې له شوره لرې والی او یوازیتوب خوښېږي، کېدشي راتلونکې کې مې اراده بدله شي، خو که چېرې واده مې هم کولو د ځان په شان یوه د بخت له تخته پرېوتلې، خواره زاره نجلۍ یا میرمن به ګورم، ستا له لوې همدردۍ او لوی انسانیت نه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل بیا هم زیاته مننه، چون ته د ښکلا سیند یې، د مهربانۍ غر یې، د انسانیت اولګو یې، ستا د ژوند د ملګري په صفت باید ستا په شان له ښکلا او شرافت نه مال امال، ستا همسن او په ټوله معنا صحتمند انسان اوسي، ترڅو د ګل په شان پالنه دې وکړي، چون ته په همدې ارزې.

نجلۍ موسکۍ شوه، په نرمۍ خندا سره یې کړل:

- امممم همم زه خو نه وم خبره، دا خو سمه د کوه قاف ښاپېرۍ یم، زړه مې غوارې همدا شیبه مې، له دې اننګې نه یوه مچکه وخلم، په همدې سره یې د مچو په ښه له شونډو ښه لوی شرک جګ کړو، بیا یې ښه په کرس پسې وخندل.

دا چې ما یې مخکې له مخکې په وړاندې روحیات بایللي و، د مینې او مچکې په خبره یې یو ځل بیا ښې راولړزولي، سم یې خولې کړم، خو په وړاندې مې یې هېڅ نوعه احساسات ونه ښودل خاموش پاتې شوم، نجلۍ چې په خندا زړه یخ کړو، اخیر کې یې کړل:

- وبښه لکچې تر خط ووتلم، بې ادبي مې وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل مې وواېم چې نه، کومه خبره نشته، خو وخت يې رانکړو، خپلو خبرو ته يې دوام ورکړو زياته يې کړه: له ستاينې دې مننه، اصلاً ستا فکر، ستا زړه، ستا سترګې ښکلې دي، چې زه درته دومره ښکلې او باارزښته ښکارم او له نيکې مشورې دې هم مننه، چې ګويا زه بايد داسې څوک د ژوند ملګر کړم، ترڅو د ګل په شان پالنه مې وکړي، درحالې کې چې داسې پالنه تا تنها زما نه بلکې زموږ د ټولې کورنۍ لس، پنځلس کاله وړاندې کړې، چون نن چې يوه له خوښيو ډکه هوسا کورنۍ لرو، دا واړه ستا له برکت دي.

ورغبرګه مې کړه:

- بيا هم مننه، ستا مهرباني ده، کني ما هېڅ هم نه دي کړي، دومره خو د هر مسلمان په بل مسلمان، حتا د انسان په انسان حق دی.

نجلۍ کړل:

- هغه ورځ خو په مسجد او کلي کې نور مسلمانان او انسانان هم ډېر و؟ حتا نژدې دوستان او خپلوان مو و، ولې زموږ سره د همدردۍ لپاره د سلو خطرونو سره سره، له ټولو پټ، په نيمه شپه کې يوازې ته روغتون ته ددې مسلماني او انساني حق ادا کولو لپاره حاضر شوې؟ پس نن ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم قسم کړی، چې ستا د ژوند په دې ستونزمن او له ناهيلۍ ډک پړاو کې به ستا په وړاندې خپل مسلماني او انساني حق ادا کوم.

لنډه دا چې تر ډېرو دلايلو، خبرو اترو وروسته، بلاخيره ورسره اوکې مې کړه. دوې ورځې پس مې مور، پلار، مشره خور او ورينداره وروليږل، د فريشتې دوی له کوره يې د کوژدې ګل راوړو، په کلي کور کې يوه عجيب، غريبه هنګامه خوره شوه، چا به ويل دا د سحر او جادو زور دی، چا يو او چا بل قسم ګېډنامې غږولې، خو په هر صورت، د فريشتې پلار د لويو لويو خلکو او چارواکو سره پېژندل يوه مياشت وروسته په نيمې کې پاتې د پوهنتون کارونه مې يې هم راته جوړ کړل، باقي درسونه ته مې دوام ورکړو، د پوهنتون د فراغت سره سم مو يې د واده تابياع ونيوله، درود او سلام دې وي پرې، ډېر يو شريف انسان و، فريشته خو يې لور وه، هسې نه هم خورا پرې ګرانه وه، اما زه يې هم تر خپل اولاد کم نه ګڼلم، تر واده کولو وروسته څنګه چې فريشتې ويلي و، د يو دوه پوړيزه مستقل کور په شمول دولس جريبه زراعتي ځمکه او باغونه يولس دوکانونه چې هره مياشت به مو يې تر يو لک افغانيو زياته کرايه اخيسته دا يې ټول موږ ته وسپارل، ددې سربيره يوه سپکه دفتري دنده يې هم راته پيدا کړه، نن ددې کيسې تر ليکلو پورې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده مو دری کاله وتلي الحمدالله يو ښکلي بچي په نعمت هم الله ج نازولي يو، همدارنګه له هرې ديدګاه خورا ښايسته او له هرې ستونزې خالي ژوند لرم، هېڅ نوعه د معيوبيت او کمي احساس مې په ذهن کې نه دی راګرځېدلی، حتا د خپلې کورنۍ مور او پلار مې هم اتيا سلنه مالي ملاتړ زه او فريشته کو، يو همزولی يا ملګری مې په مادي او معنوي لحاظ تر ما ښه ژوند نه لري، که څه هم هر څه د الله ج ورکړه ده، خو په ټول کې چې کله ناکله فکر وکړم دا دومره ثروت، هوسا ژوند او د فريشتې په شان د يوې ښکلې، مهربانه او مينه ناکې نجلۍ سره د ژوند ملګرتيا مې ټول يوازې د هغې يوې شپې ترحم او نيکۍ له برکته دي، ددې سره جوخت د مشرانو هغه خبره رایاد شي چې وايي نيکي وکړه د کندو شاه ته يې وغورځوه يوه ورځ په درد خوري.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې علمه عالم

سره ددې چې ما په ټول ژوند ګيره نه وه پرېښې، ددې علاوه وېښتان به مې هم سټايلي جوړول يعني که لنډ يې وو ايم تر خپله وسه، وسه پاک عصري، ورځني موډ لباس او څېره کې به دندې ته تللم، خو کله چې تېر نظام يا هم د داکتر اشرف غني واکمنۍ سقوط وکړو، طالبان حکم شول، زما په شمول د پخواني حکومت تقريباً ټول کارمندان د څه وخت لپاره بې کاره شول، ولې خوشبختانه يوه يوه نيمه مياشت وروسته د نوي حکومت (اسلامي امارت) لخوا واپس کرار کرار د تېر نظام کارمندان خپلو دندو ته ورغوښتل کېدل، په دې لړ کې يوه ورځ زه هم ورو بلل شوم، کله چې ورغلم، ماحول کاملاً تغير کړی و، سابق به له وزير نه نيولې د دروازې تر ساتوونکو پورې ټول کارمندان ډېر منظم او مجهز و، د ګوتو په شمار کسانو به د ځينو عذرونو له مخې وطني کميس او پرتوګ اغوستل، نور به واړه مامورين دريشي پوش و. ولې اوس چې ورغللم وزارت ملاصاحبانو او قاري صاحبانو په سر اخيستی و، ګيرې وې، لوې لوې پګړۍ وې، څنې خولۍ، واسکټ، څادر لوی، لوی کميسونه و، ډلې، ډلې په شبو وتل ننوتل، خو په هر حال هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مئسول کس مې راپیدا کړو چې زه یې راغوښتی وم، له قده ټیټ چاغ تخته ځوان و ، د تور پاج پګړۍ یې وهلې وه ، خړ لوی بخنۍ دار کالي یې په تن و ، د واسکټ د مخې جیب کې یې مسواک او ږمنځ ټومبلي و ، زه د مولوي صیب په نوم ورته مخاطب شوم، ځان مې ورته معرفي کړو ، په قندهارۍ لهجه یې راغبرګه کړه:

- ایا غواړې همغه پخوانۍ دنده دې مخ ته یوسې؟

- د بلې وبلو سره مې د موفقیت په پار سر هم ورته وخوځولو.

کړل یې:

- سمده !

له همدې سره یې د پیژند پاڼې له مخې مې زما نوم، د پلار نوم، ولایت ولسوالي او د کلي نوم مو یې تر مخ پرتې کتابچه ته ورسول، بیا یې راته کړل:

- سر له سبا به دې خپلې دندې ته په وخت حاضرېږې، د سترګو په اشاره سره مې د اوکې ډاډ ورکړو ، پسې زیاته یې کړه: خو لکه اوس چې راته ولاړ یې په دې شان به نه راځې، دریشي به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري کړي، کميس او پرتوګ به اغوندي، سرتور سر به هم نه راځي او له دې وروسته به ګيره هم نه خريي.

که څه هم زړه کې راتېره شوه: چې ددې شرطونو سره خو فکر نکړم دا وظيفه له ما نه شوې وه، ولې بيا هم ده ته مې وويل:

- ښا صحيح ده.

کور ته چې راغلم، زړه نازړه وم، چې ورشم که ورنشم؟ بلاخيره د وطن وضعيت او بېکاريو ته په کتلو، پرېکړه مې داسې شوه چې کالي خو لرم، يوه سپينه خولۍ به واخلم، يو څو شپې به ګيره هم نه خريم، توکل په خدای ج څو ورځې به ورشم، که خوند يې رانکړو، تړې خو مې نه، بيا به يې ورپرېږدم، د يو شخصي کار او بار غم به وخورم، همداسې مې وکړل، سبا مې وطني کالي په تن کړل، سپينه خولۍ مې ورپه سر کړه ورغلم، خو که هر څو مې افغاني کالي په تن او سپينه خولۍ په سر وه، بيا هم له لرې ښکارېدم چې پخوانی کارمند يم، ددوی سره مې ډېر فرق و، ګيره مې پاکه خريل شوې وه، ويښته مې هم همداسې مخ طرف ته غټې، شا او د غوږونو څټونه مې په صفر ماشين وهلي و، له دې کبله دوی هم هېڅ سمه رويه نه راسره کوله، لويان يې ښه و، ښکته طبقې به يو نوعه تضاد راسره کولو، حتا ځينو خو يې سره ددې چې خپله يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام نه اچولو، زما يې هم نه عليکولو، ان د دروازې ساتونکو هم هغه شان انسانيت نه راسره کولو، څنګه چې د وزارت د نورو طالبي کارمندانو سره يې کولو، درحالې کې سابق به چې موږ وزارت ته راغلو لکه خپل کور ته چې راغلي و، د سکون ساه به مو واخيستله، د وطن د مالکيت احساس به مو کولو، وزارت به مو خپل وزارت ګڼلو په ډېره مينه به دندې ته راتلو، اما اوس مې چې د پخوانيو کارمندانو له ډلې خپل هر ملګرى ليدو، کوم چې له ما مخکې راغوښتل شوي و، تر ما بتره غتې خولې يې په سرونو ورنسکورې کړې وې، د ځينو چې لږ زيات وخت وتلى و ګيرې يې هم ببرې شوې وې، پخوا به مو چې وخت پيدا کړو د يو بل څنګ ته به ورغلو، يو خوله مجلس، يوه نيمه ټوکه به مو سره وکړه، خستګي به مو رفعه شوه، خو اوس ترڅو په ملاصاحبانو بده ونه لګيږي، چې سترګې به مو سره ولګېدې يو بل ته به صرف لږ موسکي شو، په اشاره به مو سلام عليک وکړو، نور سره دربېدلو نه، هسې مجبور و، کنې دلته کار او دنده مخ ته وړل په ټولو سخت بوج و، داسې احساس مو کولو لکه ملاصاحبانو چې يرغمل نيولي يو او په زور کار راباندې کوي، عين حال کې زما په شمول هر يو په دې هڅه کې و، ترڅو کوم بل ځاى شخصي شرکتونو او بېزنيسونو کې ولوکه په ډېر کم معاش هم وي دنده پيدا کړي، په همغه ورځ له دې ځاى نه وتښتي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې دلته مو معاشونه لوړ و، ماته يې دمياشتې پنځلس زره معاش راکولو، همداسې دې نورو ملګرو مې هم، څورلس زره، شپاس زره ان تر شلو زرو معاشات اخيستل. خو بيا هم بې قدرۍ او بې ارزښتۍ ته په کتو مو، خوند يې نه کولو، پکې زړه تنګي و، کنې کار هم دومره نه و، پخواني حکومت کې به موږ هره ورځ ددې لس برابره کار کولو. خو خوشبختانه د وخت په تېرېدو سره څه دوی راسره بلد شول، څه يې موږ ته چل راغلو، دوې نيمې مياشتې وروسته مې ګيره ښه صحيح ورسېده، د چا خبره نيمايي سينه يې لاندې کړه، د ګيرې د رسېدو سره سم، زه هم منډوې ته ولاړم عليزاده مارکټ کې مې د پګړۍ لپاره (۳۲) متره سپين پاچ واخيستلو، سره د يوه تيکيي واسکټ، له منډوې د پلخشتي د مسجد مخ ته راووتلم، دلته مې له ولاړو دست فروشانو، يوه ړمنځ، يو د لرګي مسواک همداسې يو بوتل ملايي عطر، يو بوتل د ګيرې لپاره شرشم تيل، يوه له رنجو ډکه لاجروملها او سلايي هم واخيستل، نور راروان شوم پخوانۍ خولۍ مې د پل محمود خان پله له سره د کابل سيند منځ ته وروار کړه، دوې ورځې وروسته مې په يوه خياطۍ کې درې جوړه ښه لوی لوی ملايي کالي هم وګنډل، يونيم، يونيم متر لمنې او شپاړس انچه لاستونې مې ورکړل، دوه جوړه بخيو واله، يو جوړ ساده و او د هر رنګ کاليو سره په خپل رنګ کې مې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ، يو دوه نيم متری څادر هم ورسره وکړو ، د يوې مياشتې معاش مې مکمل تر ځان قربان کړو ، خو ځای يې هم ونيولو ، نموړي کالي به مې چې واغوستل، واسکټ به مې پرې کش کړو ، ږمنځ، مسواک او قلم به مې يې د سينې له پاسه وړکې جيب کې وتومبل، ګيره به مې په شړشمو وغلوله، د شپږدېرش متري سپين پاج نه به مې لويه لنګوټه ووهله، څادر به مې په اوږ واچولو او اينې ته به مخامخ شوم، يقين وکړئ لس دقيقې به ځان ته له خندا شنه تبۍ وم، د کورنۍ غړو به مې هم خندل پلار به مې د اميرالمومنين زوی بللم، له کوره به چې راووتلم د کوڅې شناخته خلکو او ګاونډيانو ته به مې هم دعاليمانه څېرې په ليدو خندا ورتلله، چون زما پخوانۍ خارجي ستايله څېره، کړه وړه، دختر بازۍ او لوپرۍ دوی ته معلومې وې، اما کوشش يې کولو چې خپله خندا له ما پټه کړي، ما به هم ځان نه پرې پوهولو صرف سلام به مې وروا چولو نور به سياست کې ترې تېر شوم، له خپلې کوڅې او شناخته خلکو دېخوا به چې راغلم، هر موټر به چې راپسې راغلو بريک به شو ، ډرېور به يې په ډېر احترام کړل: مولوي صاحب راوخېژه تر چهاراهي پورې دې زه ورسوم، ورسره کې به ناستم، تر چهاراهي پورې به ډرېور ډېر نيک برخورد او احترامانه خبرې راسره وکړې، ځينو به له چاپلوسۍ د امارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینه، طالبانو صفتونه شروع کړل، چهاراهۍ ته د رسېدو سره به يې د ساعت کولو په پار کړل:

- چېرته ځې مولوي صاحب !؟ کینه ځای ته به دي ورسوم، د ځینو سره چې لږ سم موټر به يې و، کی به ناستم ان تر وزارته به مې مفت ځان پرې ورسولو، له ځینو به بیا همدلته چهاراهي کې د منني په کولو سره ښکته شوم، دا به مې چې رخصت کړو، په سرک راروانو موټرو ته به مې کتل کومه نوې لوکسه توډي به چې راغله اشاره به مې ورکړه، راځنګ ته به شو، ورته کړل به مې:

- هاخوا خو روان يې تر وزارته پورې ما هم درسره ورسوه. سرې به چې هر چېرې روان و، مجبور به شو، چا د ثواب او احترام په خاطر چې ګویا عالم دی، د دین ستنې ده، د محمد (ص) وارث دی او چا له ډاره نه، نشوی ویلی، د مخې سیټ کې به ورسره کیناستم، شل پنځویشت دقیقې لار وه، د وزارت مخې ته به چې ورسېدو، د جزاک الله په ویلو سره به ترې ښکته شوم. خلاصه هره ورځ په همدې ډول، د ښار په لکسو، پستو موټرو کې، مفت او په ډېر عزت سره دندې ته تلم او راتلم. هو رښتیا اوس خو مې کیسه درته شروع کړې، بیا دې دا هم درنه پټه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې په همدې لړ کې یوه ورځ د نورو ورځو په څېر له چاراهي نه په ډېره یوه نوې او پاکه تویوټا کې وختلم، په لارو یې ډرېور راته کړل:

- مولوي صاحب ! د ترافیکو ریاست کې څوک نه پېژنې؟ دری ورځې مخکې مې د صفاکارۍ لپاره د موټر اسناد ورکړي، یوه میاشت وروسته یې ورغوښتې یم، که څوک پکې پیژنې؟ هیله ده لږ مرسته راسره وکړه ترڅو ، دومره یې ونه ځنډوي، زه ځم دوبۍ ته که اسنادو ته تر یوې میاشتې معطل شم وېزه مې تر وخت تېرېږي.

ورغبرګه مې کړه:

- هو پیژنم یې، د ترافیکو ریاست، ریس مې د یوه سنګر ملګری دی، په دروغو مې مبایل کې تپ او تلاش وکړو ، بیا مې ورته کړل، د مبایل شماره یې راسره وه، پرون هم سره وغږېدو اوس نه پوهېږم څنګه ورکه شوه، کنه زنګ مې ورته کولو.

- هیله کوم مولوي صاحب دا مرسته راسره وکړه، د ترافیکو ریاست په لورخو هسې هم روان یو ، صرف د یوې دقیقې لپاره په منډه کې ریاست ته راسره ورننوځه زما د ستونزې په باب یوه یادواري ورته وکړه، ترڅو لږ زر یې راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولې نه سمه ده، د یو مسلمان سره مرسته کول خو ډېر ثواب لري.

سړی له خوشحالۍ موسکی شو، کړل یې !

- کور دې ودان مولوي صاحب، الله ج دې اجرونه درکړي.

په همدې سره د ترافیکو ریاست ته هم راوسېدو موټر یې د سرک څنګ ته ودرولو، له درېدو سره سم مې ورته کړل: دا یوه پېښه مې جهاد کې تېپي شوې لس مرمۍ یې خوړلې، اوس هم چې پرې ګرځم درد کوي، ته یو څل ورشه ویې ګوره او پوښتنه یې وکړه چې ریس راغلی کنه؟ که نه وي راغلی چې هسې ورتکلیف نشم، سبا به یې بیا غمه درته وخورم.

- په سترګو مولوي صاحب، ته کینه زه به یې وګورم، که راغلی و، غږ درته کوم، بیا به نو راتکلیف شې وبنبه.

- چې راغلی وي ورتله مو ځای ونسي هېڅ خبره نه ده خیر.

سړي نور څه ونه ویل ورروان شو، موټر کې یې یو نوی جدید، ښه ماډل بالا غټ مبایل چارج ته ایښی و، د ترافیکو د راياست په عمومي دروازه د سړي له ننوتلو سره سم مې مبایل راواخیست جیب ته مې کړلو، له موټر نه راښکته شوم، فوراً مې یوه بله کرولا راودروله په مخ ترې ولاړم، په لاره مې مبایل ښه لټ په لټ کړو، ډېر مې خوښ شو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت په سرک له کرولا نه هم ښکته شوم. لمړی مې په ګیره لاس راکش کړو، بیا مې د پګړۍ شمله راونیوله مچو مې کړه، په موسکا او غلي غږ ورته مخاطب شوم: دا ټول ستاسو برکت دی، کنه ما غوندې چکه چور چا په داسې لوکسو ټوډوګانو کې مفت وړلو، یا یې دومره باور پرې کولو چې چالاند موټړ او مبایل یې یوازې ورته پرېښي وای؟ خو په هر حال د وزارت دروازې ته چې ورسېدم، په دې وخت کې نو د دروازې د ساتوونکو په شمول هغه پخواني طالبان چې زه یې پېژندلم او په لمړنۍ څېره کې یې لیدلی وم، تقریباً ټول یې تبدیل شوي و، نورو ځایونو ته یې ولېږل، چون هغه لمړی وخت و، ګډوډي وه، دلته چې کوم ډلې ډلې طالبان پراته و، (۹۹) سلنه یې بې سواده و، د وزارت په اداري کارونو شک او رک هم نه و، هسې یې ډوډۍ په وزارت تاوان کړې وه پراته و، غونډ غونډ به په شبو وتل ننوتل، د هغو ط البانو نه صرف یو پنځه شپږ مشران پاتې شول، اګر چې دا هم په کمپیوتر او اداري کارونو نه پوهېدل، خو دیني زده کړې یې ډېر کړې وې، ښه عالمان و، بلخوا ډېر بیدار و، د وزارت د کارمندانو په مدیریت کولو او له کارونو نه یې د نظارت په برخه کې ډېر ماهره و، همدا و چې د څو میاشتو تر تېرېدو وروسته، یې په وزارت کې ډېر نظم راوستلو، څنګه مې چې وړاندې ووېل پخواني بې سواده ط البان یې کرار کرار نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونو ته ولېږل وزارت کې یې باسواد په کار پوه خلک په دندو وګمارل تر ډېره زموږ پخواني ملګري یا د تېر حکومت کارمندان و، همدا وجه وه چې دې نویو راغلو طالبانو یا له دې وروسته به چې راتلل، زه یې نه پېژندم، چې ګویا د دتېر نظام کارمند یم، یو غر سپیني پګړی، لویو کالیو همدارنګه په سینه پرتې لوېه تورې ګیرې، ملایي عطرو او په رنجو تورو سترګو، ته په کتو مې فکر به یې کولو، چې که د امیرالمومنین زوی نه وي، د ریس الوزرا زوی خو حتماً دی، همدا و چې د دروازې د ساتوونکو په شمول نوي راغلي طالبان به ټول په زښته ډېر احترام راته قایلېدل، په داسې حال کې چې زه له ماشومتوبه په لمانځه کولو کې ډېر ټمبل وم، بیا چې رالوی شوم، لمړی مې د امریکا.یانو سره دنده وخیسته، لس کاله مې کار ورسره وکړو، سهار په شپږو بجو به مو چې نظامي درشي وکړه، بوټ به مو کش کړل د شپې تر نهه بجو به مو په تن و، هغو کې نه اودس کېدو، نه لمونځ نو که رښتیا ووایم، الله ج دې مغفرت وکړي، په دې لسو کالونو کې مې ټول دوه لمانځونه نه دي کړي، ښځي مې هېر شوی و، پس له لسو کالونو دندې ورسره اجرا کولو یې هلمند ته تبدیلوم، ومې نه منله بلاخیره له دندې یې منفق کړم، امریکاته د ورسره ببولو چانس مې هم له لاسه ورکړو، له دوې میاشتې بېکارۍ وروسته مې د دوهم ځل لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمورې وزارت کې دنده واخیستله، چې د نظام تر سقوط یا هم د ط البانو تر راتلو پورې مې دوه کاله پکې پوره شول، خو ځنګه مې چې وویل زه له ماشوتوبه له لمانځه سره بې غوره وم، د امریکانو سره د کار کولو په محال خو مې تقریباً ببخي له یاد ووتلو، همدا و چې وزارت کې هم هسې میاشت کې کوم یو ګوډ او مات لمونځ به مې که وکړو، کنه نور دلته هم رانه پاتې و، البته داسې نه وه، چې جمهوریت کې لمانځونه او اوداسونه نه و، بلکې همداسې لمانځونه اوداسونه کېدل د همدې وزارت مسجد به د هر لمانځه په محال ډک و، دوه درې ځل به جمع پکې کېده، خو زه او زما په شان ځینې نور کسان هسې ورسره بې سره و، هغه که به هر ځای و، خاشه به مو پرې واچوله، نو په داسې حال کې چې لمونځ مې زده نه و او دوی به د یو لوی عالم او مولوي په صفت له حده زیات درناوی راته کولو، ډېری وخت به خندا راغله، همدا رنګه هغه ځو مشرانو چې زه یې پېژندم، مخکې په خریلې ګیره، دریشۍ او خارجي ستایل جوړو کړو وینښانو کې یې لیدلی وم، اوس به یې چې سترګې راباندې ولګېدې، موسکې به شول د لا تشویق په پار به مې یې د ګیرې، پګړۍ او لویو ملایي جامو ستاینه شروع کړه، ګویا ډېر ښه پکې ښکارې، مخ دې هم نور پرېښودو، سر په دنیا جنتي ښکارې، همداسې نور. برعکس په موسکا کې به مې مننه ترې وکړه، زړه کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتېره شوه، چې کاشکې کوپړۍ کې مې هم ددې لباس مطابق لږ ديني علم وی، اقلاً لمونځ خو مې زده وی، يوازې په ګېره او پګړۍ ګومان نکړم چا جنت ليدلی و.

خو په هر حال خلاصه له دې وروسته ورځ تر بلې د دروازې د ساتوونکو علاوه، چې وتلم که به ننوتلم لاس په نامه به راته ولاړ و، د وزارت په داخل او له وزارته بهر هر چا سره به چې مخ کېدم په نهايي احترام راته قايلېدل، زړه کې به مې وېل: افسوز چې داسې خبر وی، ملاتوب کې دومره مزې او خوندونه دي، ما به ان جمهوريت کې هم له ځان نه مولوي کدو اخند جوړ کړی و، حتا کوم دوکان ته به هم چې ورننوتلم دوکاندر به مې تر اخيري حده خاطر کولو، ان ځينو خو د پنځوسو او سلو افغانيو شی مفت راکول پيسې به يې نه اخيستې، همدارنګه په چکپاينتونو به چې ورغلم هلته ګمارل شوي ولاړ مسول طالبان به د احترم له وجې لاس په سينه راته ودرېدل ټول انسانيت او اخلاق به يې وکړل، د کارت يا هم چېرته کار کوې؟ له کوم ځای نه راغلې؟ چېرته ځې؟ همداسې نورو پوښتنو جرئت خو يې له سره نشوی کولی، صرف يو ځل د دهبوريو په څلور لاري کې امنيتي کسان ولاړ و، له ماسره موټرسيکل و، موترسيکل مې پخوانی و، اسناد، پلېټ هېڅ يې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرل، کله کله به مې شوقي راویستلو په دې ورځ مې هم رایستلی و، غوږو کې مې ګوشکې وې د احمد ظاهر هغه سندره مې پلې کړې وه چې وايي: (خدا بود يارت، خدا مددګارت...) غوښتل مې امنيتي کسانو ته ونه دربږم، لکه له نورو چکپاينتهو تېز تري تېر شم، خو د دوی حد ته چې راورسېدم يوه غږ راباندې وکړو، ځان مې پرې پوه نکړو ونه درېدم لږ چې ترې راتېر شوم په جګ غږ يې بل غږ وکړو: مولوي صاحب!

له دې سره ورته ودرېدم، يو ځوان طالب چې خړه نظامي دريشي او خولۍ يې په تن و، نژدې راغلو کړل يې:

- وبښه مولوي صاحب! موږ د استخباراتو اورګان يو، نن دلته په دنده ګمارل شوي يو، د وسايطو اسناد او پلیټونه چک کوو او حکم شوی چې هېڅوک بايد همداسې رانه تېر نشي، په تا مې يو ځل غږ وکړو وادې نه ورېدو، په دوهمه چيغه مې ايله واورولې. ورغبرګه مې کړه:

- رښتيا هم لمړی غږ مې دې نه دی اورېدلی غوږو کې مې ګوشکې وې، د مولانا صيب مفتي احمدظاهر ډېر ښکلی قرائت کوي، سم يې نيولی وم، هېڅ مې تاسو ته پام نه شو، کنه زه خپل درېدم!

- خير، خير مولوي صيب! پروانکوي، موټرسيکل دې اسناد لري!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه موترسیکل خو اسناد نه لري، ممتا زه اسناد لرم، له همدې سره مې جیب ته لاس کړو خپل د وزارت کارت مې ورته ښکاره کړو، پسې زیاته مې کړه دا نظام مو د سر په بدله راوستلی اوس د یو موټرسیکل د ګرځېدو حق نه لرم؟

- هیله کوم مولوي صاحب! تاسو خپله پوهېږئ، څنګه چې د وطن ازادي او جهاد پر موږ او تاسو فرض و، همداسې اوس قانون ته په درناوي هم موږ او تاسو ټول مکلف یو، کنه هغه سربښندني او اسلامي نظام د رامنځ ته کولو په موخه ورکړو زرګونه سپیڅلو شهیدانو وینې به مو هېڅ معنا ونه لري، نور خپله پوهېږې، څه خدای ج دي مل شه.

زړه کې مې کړل: چې خوار شې لا د شهید او وینې سره دې، خو په خوله مې څه ونه ویل، یوازې بد بد مې ورته وکتل، ګوشکې مې غوږو ته کړې واپس مې سندره پلې کړه، راروان شوم، له عالیمانه اکشن کولو وروسته لمړی ځل و، چې په چکپاینټ کې یې ودرولم یو پنځه خبرې یې راسره اوږدې کړې، کني مخکې مې هم یادونه وکړه، چا د احترام او ثواب په خاطر چې ګویا دیني عالم او د محمدص وارث دی او چا د وېرې چکپاینټونو کې د ولاړو ط البانو سربېره له هر چا سره به چې مخ کېدم له حده زیات درناوی به یې راته کولو، همدې موقع نه په استفاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هم ښه ساعت پکې تېر و، خپل اوښان مې پکې څرول، خو له بدمرغه کرار کرار د ښار غلو او کوڅو ډبو لنډغرو هم، دا چل زده کړو، لوې لوې څښې به يې پرېښودې، غټې کالي، نيم کنداغه خولۍ، او جالۍ دار واسکټ به يې په تن کړي و، دسمال به يې په سر اچولی و، دې خلکو به د نظامي طالبانو له ستايل او څېرې نه سوء استفاده کوله، په عامو خلکو به يې خپل راج چلولو، حتا ډېرو په يوه او بله طريقه د جهاد د دورې له ډلګۍ مشرانو سره اړيکې پيدا کړې، د هغوی له طريقه يې د پولسو او اردو په ليکو کې ځانونه ثبت کړل، د امارت رسمي کارتونه يې واخيستل، د معاش علاوه، د موقع په برابرېدو سره يې په يوه او بله بهانه له خلکو هم خپل قلنګې اخيستو، ځينو چې پېژندل د بيستويک واله، ګويا په (2021) کال کې د جنګ له خاتمې او فتحې وروسته راپيدا شوي مجاهدين به يې بلل. خو ډېرې نور به بيا زما په شان د عالم او مولوي له ستايل او رنګ نه په ګټه خپل ونډ پکې وهلو، ان تر دې چې يوه ورځ په زاړه چوک د جمهوريت د وخت يو ډېر لوی غل په مخه راغلو، د ډاکو په نوم مشهور و، دا يوازې غل نه و، بلکې دوختر بازي، بچه بازي، قتل هېڅ پدر لعنتي نه وه، تري خلاصه، څو هلکان او نجينې يې د ښار له منځه وتښتول تر ننه ورک دي، مګر اوس مې چې وليدو حرامونې خدايزده له اتيا متره سپين پاچ نه پګړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلې وه، که له سل متره؟ زما له پګړۍ نه درې برابره لويه وه، دوې شملې يې پرېښې وې، همدارنګه زما نه څو برابر لوی کالي، څادر، واسکټ، پايڅې پورته، سترګې تر غوږو تورې، رېمنځ، مسواک او قلم يې په جيب کې ټومبلي و، اوږدې، تذبيح يې لاس کې وې، شونډې يې موسولې، چې ګواکې ذکر کوم، د ملايي عطرو خوشبويي يې په لرې مصافه کې حس کېده، ته وا د مصر شيخ مفتي مولانا مصابح صاحب روان دی، په ليدو يې ډېره سخته خندا راغله، ان تر اوسه پورې چې راياد شي، موسکی شم، همداسې ډېری نورو ډېرو خطرناکو انسانانو به د عالمانو په رنګ روغن او تمثيل سره ډېر اسان او سادګۍ سره خپل شوم اهداف تر لاسه کول. خو په هر راز چې خبره بلخوا ولاړه نشي، راځم خپلې کيسې او له عالمانه څېرې نه د سوء استفادې کولو يوې بلې خورا نادرې خاطرې ته، که څه هم خاطرې بلها زياتې دي، خو چې خسته مو نکړم، له نورو يې تېرېږم، يوازې دا يوه يې درسره شريکوم، هيله ده ملګرتيا مې وکړئ، هغه دا چې يوه ورځ وزارت کې د خپلې د ندې پر محال کمپيوتر کې په کار لګيا وم، پېښې مې ويدې شوې، چې ساعت ته مې وکتل يولس نيمې بجې وې، د بدن د شخۍ يستلو په پار له شبې راوتلم په قدم، قدم کې ان د وزارت تر عمومي دروازې بهر سرک پورې راورسېدم، چې ليدل مې هاخوا يوه ځوانه ښځه راته متوجه و، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېده لکه څه چې وايي، خو جرئت نشي کولی، ما چې ورته وکتل کرار کرار يې قدم راواخيستلو نژدې راغله، تور عربي حجاب يې کړی و، خوله او پوزه يې په سور رنګي ماسک کې پټه کړې وه، پيغله راته ښکاره شوه، غټې غټې تورې بانهوې ډېرې جذابه سترګې يې وې، سم دلاسه مې بدن کې وينه ورته راګرمه شوه، د سلام په اچولو سره يې کړل:

- وبښه مولوي صاحب ! تاسو همدې وزارت کې دنده لرئ؟

- هو همدلته مې دنده ده، خيرت و؟

راغبرګه يې کړه:

- هيله کوم مولوي صاحب که لږ مرسته راسره وکړې، وړکی دوه کلن ماشوم مې کودکستان کې پرېښی، اوس مې دا د دروازې ساتونکي د ننه وزارت ته نه پرېږدي وايي رسميات ختم دي، وخت د ډوډۍ دی په دوه بجو راشه، خو کور مې لرې ده بيا نشم راتلی، دغه ساتونکو ته ووايه چې داخل ته د تلو اجازه راکړي.

د ماشوم له يادولو يې پوه شوم چې پيغله نه ده، خو بيا هم ډېره تازه وه، له تندي يې د بدن سپينوالی او شفافيت ښکارېدو، همدانګه غټو، پاکو پاکو تورو او سپينو ښکلو سترګو ته په کتو يې، خورا جذابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواني يې درلوده، د ځوانۍ علاوه د خبرو کولو انداز او خورا ښايسته غږ يې و ، لکه په مايک کې چې غږېږي. خو په هر صورت ورته کړل مې:

- وزارت کې مو څه کار و ؟

- يو کال وړاندې د کابل له معارف شهر (دارلمعلمين) څخه فارغه شوم، اوس مې سند نه راکوي وايي اسنادو کې دې مشکيل دي، پېژند پاڼه کې دې د نيکه نوم ملا عبدالسلام دی، او اسنا مو يوازې د عبدالسلام په نوم دي (ملا ) لفظ نشته ورسره ترڅو دا ستونزه حل نشي د معارف ورزات د اصلو له مخې مورږ اسناد نشو درکول، بناءً اوس غواړم پېژند پاڼه کې مې هم د نيکه له نوم نه د ملا لفظ لرې کړم، چون په اسنادو کې مې د ملا لفظ ورزياتول سخت دي، ولې چې د ليسې په شهادتنامه کې مې هم د نيکه نو تنها عبدالسلام دی، د دارالمعلمين په اسنادو کې هم د عبدالسلام په نوم رسېدلی، نو دې ټولو اسنادو ته د ملا لفظ ور اضافه کول زيات زحمت او منډې غواړي، بلاخبره له پېژند پاڼې مې د ملا لفظ لرې کولو پرېکړه وکړه، سهار د پېژند پاڼو د توزيع رياست ته ورغلې ومه، د يو سپين کاغذ په راته نيولو سره ښځې زياته کړه: دغه مکتوب يې راکړو زما د ستونزې حل يې تاسو ته راجع کړو.

پوښتنه مې ترې وکړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نارينه څوک نه لري چې خپله پسې ګرځې؟

- ورونه مې شته خو هغوئ مزار کې اوسي، دلته مې يو خاوند دی، هغه د تعميراتي موادو تجارت کوي، مياشت کې څلور پيڅه ورځې ايله کور تېرې کړي، نور اکثره وخت چين يا نورو هېوادونو ته په مال پسې ځي، اوس هم ايران کې دی، بلخوا پرته له مانه بل څوک يې راته جوړولی هم نشي، ولې چې هر ځای زما د ګوتې (شصت) اېښودو اړتيا وي.

- کور دې چېرته دی !؟

- د دارالمان په سرک، سفارت شوروي ته څېرمه، سناتور بلاکونو کې اوسو.

دا چې ښځه ډېره ښکلې او جذابه سترګې يې وې، ددې سربېره د خبرو طرز يې ډېر خوندور او غږ يې زيات خوږ لګېدو، ترڅو بار بار تماس راسره ولري او يو ځل بيا يې هم ووينم ورغبرګه مې کړه:

- ښا ډېر ښه ! اما اوس خو رښتيا هم رسميات ختم دي، دروازه ساتونکي ملامت نه دي، که اجازه هم درکړي کار دې نه کېږي، ځکه چې شبې بندې دي، معامورين ډوډۍ خوري وروسته بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ کوي په دوه بجو واپس خپل کار ته راګرځي، خو دا چې ته يوه سياسره يې، ماشوم دې هم کودکستان کې پرېښې، زه به د الله ج د رضا لپاره يوه مرسته درسره وکړم، د خپلې او نيکه د پېژند پاڼې دې يوه يوه کاپي راکړه، اړونده ماموريونو ته به يې ورکړم، ترڅو په سوانو کې دې د نيکه دپېژند پاڼې کونده راپيدا کړي او د ملا لفظ ترې لرې کولو وروسته د پېژند پاڼو د توزيع په رياست، رسمي مکتوب درکړي، ترڅو د همدې پېژند پاڼې په عمومي نمبر او ثبت کڼه نوې پېژند پاڼه درکړي يوازې د نيکه له نوم نه مو د ملا لفظ لرې کړئ.

ښځه زښته زياته خوشحاله شوه دعاګانې يې کولې اخير کې يې کړل:

- بيا څه وخت پسې راشم !؟

ورغبرګه مې کړه:

- زما د مبايل شماره درسره واخله زنګ کوه، کله يې چې کار خلاص شو زه درته وايم.

- سمده مولوي صاحب الله ج دې اجرونه درکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شماره مې ورکړه او د پيژند پاڼو کاپۍ مې ترې واخيستې، نوم يې (غرڅه) و، له رانه راونېدو سره يې بيا دعاګانې شروع کړې، تر هغو چې له جدولو نه وه پناه غړ يې راتلو، ددې تر تللو وروسته، زه واپس وزارت ته ننوتلم، د ډوډۍ تر خوړلو وروسته، د هغه لوی ګدام په لوري ورروان شوم، کوم چې له دوه سوه کالونو راپه دېخوا د ټول هېواد د نفوس او احوالو د ثبت همدارنګه د پېژند پاڼو کوندې پکې خوندي شوې وې، د صديق الله په نوم د جمهوريت د وخت يو پخوانی ملګری مې يې د ساتلو مسول و، ګدام ته له ورسېدو شل پنځه ويشت متره له لرې مې سترګې پرې ولګېدې، نمورې د برنډې له پاسه چمن او ګلانو ته مخامخ په چوکۍ ناست و، مبايل کې يې ګوتې وهلې، زما تر ګيره لويې تورې ګيرې يې په سينه وزرې خورې کړې وې، يوه ټکورۍ لنګوټه يې په سر وه، په ما د سترګو لګېدو سره خوشحاله شو، سترې مشي مو وکړه، شاوخوا مو وکتل څوک نه و، څو لحظې مو يو د بل په ګيرو، پګړيو او له رانجو ډکو سترګو ټوکې وکړې، ومو خندل وروسته مې د يوې خپلوانې په صفت د غرڅې ستونزه ورسره شريکه کړه، دواړه ګدام ته ننوتلو د نيکه د پيژند پاڼې د جلد او ثبت د شمارې په مرسته مو يې له يو ساعت پلټنو وروسته کونده راپيداکړه، لمړی مو يې په ملا لفظ خط کش کړو، بيا مو يې په وزارت کې د ساتل شوي اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمبر په راواخیستلو سره د پیژند پاڼو د توزیع ریاست ته رسمي مکتوب ولیکلو، مستقیماً مو توصیه ورته وکړه، ترڅو نموړي مېرمنې ته د مخکنۍ پیژند پاڼې په عمومي نمبر او ثبت ګڼه یې بله نوې پیژند پاڼه ورکړي، یوازې د نیکه له نوم نه یې ملا لفظ لرې کړي، د مکتوب تر لیکلو وروسته مې له صدیق نه د مننې په کولو سره خدای پاماني راواخیستله، واپس راغلم معاونیت شبه ته ورغلم تاپه مې هم پرې ووهله، نور مې کرار جیب کې کېښودو، سبا سهار دندې ته د تلو په وخت مې مبایل ته له ناشناخته شماره نه زنګ راغلو، چې اوکې مې کړو، غرڅه وه، کړل یې:

- سلام علیکوم مولوي صیب! سهار پخیر، هیله ده صحت ولرې، وبښه مولوي صاحب هغه میرمن یم چې پرون وزارت ته درغلې وم، د پیژند پاڼو کاپۍ مې درکړې، که کار یې خلاص شوی وي چې پسې درشم؟

که څه هم کار خو یې خلاص و، ولې غږ یې ډېر خوږ لګېدو، زړه مې پرې ونشو چې راوغواړم مکتوب یې په لاس ورکړم، نور په خپله مخه ولاړه شي، ځان سره مې کړل: پرېږده یو دوه ځله خو نور هم زنګ پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوکړي، بیا به یې راوغواړم. همدا و چې د سلام په ځواب ورکولو سره مې ورته کړل:

- نه، پرون خو لږ مصروفیت راته پیدا شو، لاس مې ونه رسېدو، نن پس له غرمې یې احوال واخله که جوړ و، پسې رابه شي.

-صحیح ده مولوي صاحب، خیر یوسې، الله ج د اجر درکړي.

لنډه دا چې ورځ تېره شوه د ټاکلي وخت سره سم پس له غرمې په دوه بجو یې بیا زنګ وکړو له سلام او درناوي وړاندې کولو وروسته یې کړل:

- وبښه مولوي صاحب بیا دې هم مضاحمه شوم، څنګه چې سهار دې راته ووېل پس له غرمې یې پوښتنه وکړه، اوس دوې بجې دي، ماوېل که د کاغذو کار مې خلاص شوی وي، چې پسې درشم؟

- هو کاغذ دې جوړ دي، ستاسو د نیکه د پیژند پاڼې د نمبر اساس پکې رسولو سره مې رسمي مکتوب درته لیکلی د پیژند پاڼو د توزیع ریاست اړوند مسولینو ته حکم پکې شوی چې د پخوانۍ پیژند پاڼې په نمبر او ثبت کڼه دې نوې پیژند پاڼه درکړي، یوازې د نیکه له نوم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو ملا لفظ حذب کړي، ممتا زه اوس چېرته روان يم، سبا سهار زنګ وکړه، که زه وزارت ته کې وم، پسې راشه.

- په سترګو مولوي صاحب، الله ج دې رحمت درباندې وکړي، ستا په شان پاک او با ترحمه انسانان يې چې تر سيوري لاندې راټول دي د امارت بېراغ دې تل رپاند وي، همداسې دعاګانو يې دوام درلود، اخير کې مې د مننې په کولو سره ورغبرګه کړه:

- هيله کوم دا زموږ دنده ده، الله ج دې توفق راکړي چې تل خپلو هېوادوالو ته صادقانه خدمت وکړی شو.

غرخې بيا د عاګاناني شروع کړې ان تر دې چې تماس مو سره قاطعه کړو، بلاخيره دا ورځ او شپه هم تېر شول سبا پس له اوو بجو مې يې زنګ ته سترګې وې، غږ مې يې ياد بېدو، خو آته بجې شوې، نهه شوې، لس شوې خلاصه د ماسپښين تر دوه نيمو بجو يې زنګ رامعلوم نشو، په انتظار يې ببخي شنه لړه کړم، بلاخيره ما زنګ پسې ووهلو، د دوهم ځل زنګ تېرولو سره يې مبايل اوکې کړو، د اوکې سره سم يې په خورا ښايسته غږ کړل: سلام عليکوم مولوي صاحب! ښه يې پخير يې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وعلیکوم سلام، ته څه شوې، هغه کاغذ خو دې دلته پراته دي پسې رانغلې !؟

- ډېر وبښه مولوي صاحب ! ماشوم مې ناروغ دی اوس هم د فرانسویانو روغتون کې یم، سبا پخیر کوشش کوم چې دومره وخت پیدا کړم ترڅو په منډه کې پسې درشم.

- خیر، خیر کومه خبره نشته ستاسو ماشوم ته دې الله ج صحت ورکړي، له خپل ماشوم سره مو اوسئ، دا چې تاسو تنها یاست، زه نن د دېرلسمې ناحیه خواته ځم، څه کار مې دی، انشاءالله د پیژند پاڼو د توزیع له ریاست نه به مو هم کار درته راخلاص کړم، هر کله دې چې بچی ښه شو، په کرار بیا پسې راشه ورک کېږي نه.

- غرڅې بیا په دعاګانو پیل وکړو، څو لحظې ورته غوږ وم، وروسته مې د منني ترې په کولو تماس سره قطعه کړو، په درنیمو بجو له وزارت نه راووتلم، سرک ته له راسېدو سره سم یو نوی لنکروزر موټر راغلو اشاره مې ورکړه، له درېدو سره ډرېور شیشه ښکته کړه، له سلام او درناوی وروسته یې کړل:

- مولوي صاحب چېرته ځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دیرلسمه ناحیه ته، د پېژند پاڼو د توزیع په ریاست کې مې کار دی.

- زه خو چاراهي کمبر ته روان یم، خو خیر که نه وي، تا به ورسوم؟ له همدې سره مې دروازه راخلاصه کړه، موټر کې ورکېناسم په سرې مې ځان تاوان کړو، پټه خوله یې حرکت وکړو، پخلس، شل دقیقې وروسته یې د ریاست تر مخ بریک ونیولو، د جزاک الله په وېلو سره ترې ښکته شوم، د پېژند پاڼو ریاست کې، ګڼه ګوڼه وه، خلک قطار، قطار ولاړ و، غاړه مې تازه کړه، پسې ومې ټوخل د ولاړو کسانو توجه مې راوګرځوله، په لیدلو سره مې د درناوي په پار خلک هاخوا دې خوا شول مخه یې راکړه، وړاندې ورتېر شوم، که څه هم زما کار غیرې قانوني و، چون پرته د پېژند پاڼې له صاحب نه د بل چا لخوا پېژند پاڼه ورته جوړول ناشوني او د اصولو خلاف کار دی، اما زما د عالیمانه څېرې نه د متشره کېدو علاوه، د وزارت کارت مې هم مامورینو ته ښکاره کړو، سم مې ووېرول چون ددوی په دندو ګمارل، منفق کول، رتبه ښکته، پورته کول ټول زمونږ د وزارت اختیار کې و، که څه هم د وزارت د لوړو مسولینو کار و، ما خوراکي هېڅ واک پکې نه لرلو، خو دوی څه پوهېدل؟ چې زه به ددې دومره لویه ګیرې، یو خروار پګړۍ، کش او فش سره، یو بې واکه عادي مامورګی یم، فکر یې کولو چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير نه وي، معين يا معاوېن خو حتماً دی، همدا و چې له خلکو مې د نه وېلو جرئت وا خيستلو، صرف د رياست مدير د ومره راته ووېل:

- مولوي صاحب کاشکې دا خورکۍ مو هم له ځان سره راوستلې وی، چې په پېژند پاڼه يې خپله ګوته (شصت) لګولی وي.

ورغبرګه مې کړه:

- پروا نکړي د شصت ځای يې خالي پرېږدئ چې کورته مې يوړه هلته به يې پرې ولګوي.

سر يې کوږ کړو:

- سمده مولوي صاحب ! ته چې وايې په سترګو.

له همدې سره يې د څنګ ملګري ته مخ وروا ړولو:

- رسولي صاحب ! د مولوي صاحب کار ورته وکړه.

د غرځې او نيکه د پېژند پاڼې کاپۍ مې يې د ميز سر ته ورواچولې، نمورې د پيژند پاڼو خالي فورم راخيستلو ، د خپل مسوليت اړوند ليکنه يې پرې وکړه، همداسې په نوبت، نوبت ټولو معامورينو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار پکې وکړو، اخیر کې ریس لمړی امضاء او د امضاء له پاسه ټاپه پرې ووهله، نور یې ماته ونیوله کړل یې:

- دا دې پېژند پاڼه مولوي صاحب! کار یې خلاص شو صرف چې کور ته ولاړې، څنګه چې خپله پوهېږې، په دغه ځای کې به نمورې غرڅه خورکۍ د پېژند پاڼه صاحبه خپل شصت ولګوي.

- سم ده، مننه الله ج مو وبښه.

له همدې سره د خدای ج پامان په وېلو، ترې راوان شوم.

د شبه له وره نه د وتلو په حال کې مدیر بیا راپسې راغږ کړل:

- خفه شوی نه وې مولوي صاحب! هر کله راشې مونږ دې تل خدمت کې یو.

بیا مې هم مننه ترې وکړه، تقریباً مازیګر و، مستقیماً کور ته راغلم شپه تېره شوه، سبا یولس نیمې بجې وزارت کې خپل کمپیوتر ته ناست وم، د فرینټ لپاره مې فرمونه ترتیبول، چې د غرڅې زنګ راغلو، د اوکې سره سم مې غږ پرې وکړو:

- سلام علیکوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وعلیکوم سلام مولوي صاحب ښه یې پخیر یې؟ ډېر وښه د ماشوم صحت مې ښه نه و ، شپه مې روغتون کې ورسره وکړه ایله اوس کور ته راغلم، ومې نشوی کولی چې سهار په کاغذو پسې درغلې وی، که تاسو وزارت کې یاست اوس پسې درځم.

- خیر کومه خبره نه ده، فعلاً خو رسمیات ختمېږي تقریباً دولس بجې دي وخت د ډوډۍ خوړلو او لمونځ کولو دی، که کولی دې شوی پس له دوه بجو پسې راشه د پیژند پاڼو د توزیع له ریاست نه مې دې هم کار درته راخلاص کړو، پېژند پاڼه بشپړه شوه یوازې ستاسو شصت پرې لګول پاتې دي، کله چې راغلې شصت به هم پرې کېږدې نور یې ټول کار خلاص دی.

- په دې خبره مې ښځه ښېخي زیاته خوشحاله شوه، له غږ او احساساتو یې داسې ښکارېده چې سر یې سرتور کړی، جوړه لاسونه یې د اسمان طرف ته نیولي دعاګانې کوي، خو په هر حال د دعاګانو اخیر کې مې ورته کړل:

- مننه د خپل ولس خدمت او د دوی د ستونزو په حل کې ورسره مرسته زموږ یوازینی هدف دی، د همدې لپاره مو شل کاله قربانۍ ورکړې، الله ج دې موږ ته توفق راکړي چې خپلو کړېدلو هېوادولو ته لا ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت وکړو، د دوی د دردونو دوا شو، مقابل کې یې ستاسو دعاګانې زموږ لپاره هر څه دي.

خلاصه د څو دقیقو مکلمې وروسته مو د خدای پامانۍ په کولو سره تماس قطعه کړو، راجګ شوم، لږ لږ د پښو شخې مې ویستله، پسې طعام خانې ته ورغلم ډوډۍ مې وخوړه، لمانځه ته مې له وسه نه کېدل واپس راغلم خپلې شبې ته لونګۍ او واسکټ مې د میز په سر کېښودل، جاینماز مې په غولي هوار کړو تر څنګ یې کرار پرېوتم، جاینماز مې ددې لپاره هوار کړو، چې که څوک راوګوري فکر وکړي ګویا لمونځ یې کړی، څو دقیقې مې ځان غلی کړو، خوب رانغلو لاس مې ورتېر کړو، مبایل مې راواخیستو ګوشکې مې پکې ورکړې یو فایل کې مې څو مستې عشقي هندي ویدیوګانې ځای په ځای کړې وې همدا مې راخلاص کړو، دوې ویدیوګانې مې وکتلې دریمه مې چې پلې کړه، د غرڅې زنګ راغلو و، څومره یې چې زنګونه او خبرې زیاتېدې وینه مې په جوش ورته راتلله، د زړه هیلې او خواهشات مې ورته زیاتېدل، دا ځل یې هم زنګ ته ډېر خوشحاله شوم خو تر څنګ یې فکر کې راتېره شوه: چې څنګه یې بې وخته زنګ وکړو؟ اما چې ساعت ته مې وکتل لس باندې دوې بجې وې، اصلاً زه په وخت نه وم پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، اګر چې لا هم مامورين له ډوډۍ خوړلو او لمانځه نه خپلو دندو ته نه و راګرځېدلي، د مبايل د اوکې کولو سره مې غږ پرې وکړو:

- سلام عليکوم !

غرڅې په خپل خواږه او اثري غږ راغبرګه کړه:

- وعليکوم سلام مولوي صاحب جوړ يې پخير يې، وبښه، دوې بجه دي، وېل مې که وزارت کې ياست چې پيژند پانه پسې درشم.؟

- خدای ج دې وبښه، هو وزارت کې يم، خو فعلاً ډېر مصروف يم، خارجي ميلمانه راغلي نشم کولی ستاسره ووينم، سبا زنګ وکړه که ممکن و پسې رابه شې.

- ښا ، ښا سمده مولوي صاحب، وبښه چې بې وخته مې زنګ کړی، نور وخت دې نه نيسم خدای ج دې مل شه.

په همدې سره يې تماس ورقطعه کړو ، څنګه مې چې مخکې ووېل د هر تماس سره مې يې په وړاندې جنسي غريزه لا راپارېدله خواحشات زياتېدل، ان تر دې چې زړه کې راتېره شوه: دومره زحمت مې درته پرې ايستلی، حداقل يوه مچو خو مې د خره په قانون هم حق درباندې کېږي، بايد درنه پرې يې واخلم، کنه قسم ده که دې پيژند پاڼه رانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدلې وه، خو چل يې نه راتللو چې څنګه يې وریاده کړم، یا هم ترې اخيستلو زمينه يې چېرته او څنګه مساعده کړم، همدې فکرونو کې ډوب وم، کله به مې وېل تر مخ مې خبره وریاده کړې وی، که رضا شوې وی؟ داسې وخت به مې راغوښتې وه چې شبه کې تنها وی، بیا به مې ځان سره کړل: نه ولا دا ځای خطرناک دی، کوم فاميلي رستورانت ته مې راغوښتې وی، همدې فکرونو کې دا پاتې ورځ او شپه هم تېر شول، ولې لا هم یوه ډاډمنه لار او طریقه مې جوړه نشوی کړی، بلاخيره پرېکړه مې وکړه، چې دا ځل يې زنګ وکړو د مچو خبره به ورته کوم، که راسره موافقه شوه بیا اسانه ده هر ځای کېدی شي او که انکار يې وکړو، زه به هم د پېژند پانې ورته سپارلو ځواب ورکړم، همدا مې وروستی تصمیم شو، تر چای خوړلو وروسته له کوره د وزارت په لور دندې ته روان وم، چې زنګ يې وکړو، تر سلام او جوړ پخير وروسته يې کړل:

- مولوي صاحب نن پېژند پانه پسې درشم؟

دا چې زه پردې موټر کې ناست وم، د ډربور په وړاندې مې د مچو خبره نشوی وریادولی، کړل مې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څو دقيقې وروسته زنګ وکړه، وزارت ته روان يم، خو هسې نه مسير مې په بله شي.

- سمده مولوي صيب، خو وبښه تا بلخواته د مسير وويل، اما زما هيله وه چې نن حتماً درسره ووينم، پيژند پاڼې ته مې دومره تلوسه نه ده، خير نن وي، سبا وي، که بله ورځ درنه رابه يې ورم، اما ماشوم مې ډېر زيات ناروغ کېږي، مياشت کې دوه درې ځل يې روغتون ته ورم، سره ددې چې پرون مې له روغتون نه راوستلو، يوه پنډه دواه يې ورکړې خو لا هم جوړ نه دى، تاته مې زيات يقين وشو، لکه الله ج د خپلو بندګانو لپاره رااستولې مرستندويه فرېښته، ډېر سپېڅلى، نيک او خيرخوا انسان يې، زما په شان يوې ناشناخته ميرمنې سره دې چې دومره مرسته وکړه، طبعاً ما غوندې ډېرو نورو ميرمنو، بې وسه او بې واسطه نارينو ته به مو هم د خير لاس اوږد وي، خداى ج دې اجرونه درکړي کوم کمک مو چې له ماسره وکړه، دا کار ما په مياشتو، مياشتو کې هم نشوى راخلاصولى. پس له شک پرته تاسو د الله ج ډېر نيک بنده ياست، که وزارت ته نه ځې؟ هيله کوم هر چېرته چې ولاړې ماته ادرس راکړه، زه مې ماشوم هلته درولم، لږ يې راته دم کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې په اورېدو سره خندا راغله فکر کې راتېره شوه: شور مکړه غرڅه ګۍ لکه چې سمه دام ته برابره شوه، ښه وه چې د مچو خبره مې نه وه وریاد کړې، خو په هر حال ورغبرګه مې کړه:

- ولې نه زموږ کورنۍ ان له نیکونو نه د ماشومانو د هر نوعه ناروغۍ، نظر، د کور د برکت، سحر او جادو د منځه وړلو دم او دعا اجازه لري، انشاءالله ماشوم به مو جوړ او روغ شي، خو زه نن یوې دستار بندۍ ته دعوت شوی یم، هلته تاسو مانشئ، پیداکولی، بلخوا د دم او دعا وخت او مناسب ځای هم نه وي، سبا جمعه ده، ستاسو خواته دارالمان کې مو دوستان دي، ډېر وخت وشو چې نه یم ورغلی، غواړم یوه پوښتنه یې وکړم، پس ته هم سبا پخیر نهه، لس بجې زنګ وکړه بیا به یو ترتیب وکړو.

- ښا خیریوسې مولوي صاحب خدای ج دې رحمت درباندې وکړي، سمه ده.

نور مو د مخه ښې په کولو سره تماس قطعه کړو.

زښته زیات خوشحاله شوم، چې ګویا اوس هرو مرو یو کار پرې کېږي، عین حال کې تو له ورځ به مې یې چې د زیات یقین راته کېدو خبره رایاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، بې اختیاره خندا به راغله. ځان سره به مې کړل: ښځې رښتیا هم ناقص العقله دي، دا وګوره د دومره تعلیم سره سره بیا هم داسې اسانه خطاوځي، باور کوي. خلاصه دا ورځ او شپه هم تېره شوه سبا د جمعې ورځ راورسېده، تر اوو بجو ویده وم، پس له اوو راجګ شوم تشناب ته ولاړم مخ او لاس مې پرېمنځل، چاى مې وخوړلو واپس خپلې بسترې ته راغلم تقریباً نهه بجې هم په رارسېدو وې، د غرڅې د زنګ په انتظار اوږد وغځېدم مبایل کې مې ویدیوګانې کتلې، همدا و چې څه باندې نهه بجې یې زنګ راغلو، له اولیه سلام علیک وروسته یې کړل:

- وبښه مولوي صاحب! بیا دې هم مضایمه شوم، څنګه چې پرون تا راته وویل سبا جمعه ده په نهه لسو بجو زنګ وکړه، زه دارالمان خواته د دوستانو د پوښتنې لپاره درځم، بیا به ستا د ماشوم د دمولو هم څه ترتیب وکړو، په همدې خاطر مې زنګ درته وکړو، که تاسو دارالمان ته راغلي یاست؟ د دوستانو د کور ادرس مو راکړه، زه مې ماشوم هلته درولم.

- هو رښتیا زما خو له یاد وتلي و، ښه شو چې را یاد دې کړل، دا خبر خو مې درته کړې وه، مګر زه تر اوسه کور یم، اوس مې د تلو اراده ده، ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې زموږ د دوستانو کور ډېر وراندې دی، تر هغو ځایه خو زیاته تکلیفېږې خپل موټر لرئ؟

- هو مولوي صاحب موټر لرو خو خاوند مې نشته چې پکې یوموسي، خیر ټکسي نیسم هېڅ تکلیف نه دی، ان که د خپل کور ادرس دې راکوې دغلته هم درتللی شم.

- نه، چون تاسو یوه سیاسره یاست او ماشوم هم درسره دی، زما ایمان او عقیده دا نه ایجادوي چې یوې سیاسرې او ماشوم ته دومره تکلیف ورکړم، زه خپله درځم لار کې ستاسو له کور سره موټر نه ښکته کېږم، پېژند پانه به دې هم درته وسپارم او ماشوم به مو هم دم کړم، البته ماشوم خو د سرک په سر نه دمېږي، خو خیر دا چې د ثواب کار دی، که لږ راباندې ناوخته هم شي پروانکوي، د پنځو دقیقو لپاره مو کور ته درسره ځم، د ماشوم له دمولو وروسته مو د دوستانو پوښتنې ته ورځم.

- نه، مولوي صاحب قربان دې شم، داسې خو بیا تاسو زیات تلیفېږئ، ځای راته وښایه زه خپل ماشوم درولمه.

- هېڅ خبره نه ده، زما هسې هم مسیر ستاسو خواته دی او بل د دوه پښو سړی یم، الله ج یې دې په نیکۍ کې وشماري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرڅې بیا په دعاګانو خوله خلاصه کړه، بنه شاجورونه یې تش کړو، اخیر کې یې کړل:

- خدای پاک دې ډېر ډېر ښه درسره وکړي مولوي صاحب! بیا نو هر کله چې دهمزنګ ته راورسېدې ماته زنګ وکړه زه به تیاره د سرک په سر زموږ د موټرو په تم ځای کې درته منتظر وم.

- سمه ده څه نو چې د تلیفون مصارف دې زیات نشي د اوس لپاره دې خدای دې مل شه، کله چې دروان شوم، دهمزنګ ته د رسېدو سره زنګ درته کوم.

په همدې سره مو تماس پرې کړو، له خوشحالۍ مې زړه ټوپونه وهل او همدا دعا مې کوله چې کاشکې کور کې یې تنها دا او ماشوم وي، کوم مضاحمت ونه اوسي. خو په هر حال زر، زر مې حمام کې لږ اوبه په ځان تېرې کړې، لوی بخی دار کالي مې واغوستل، سترګې مې تورې کړې، عطر مې ووهل، واسکټ مې په تن کړو، مسواک، ږمنځ او قلم مې یې د مخې جیب کې وټومبل، لویه پګړۍ مې ووهله، څادر مې په اوږه واچولو، له ځان تیارولو وروسته مې د خپلې بکسې نه یوه اندازه هغه پوډر راواخیستلو، کوم چې ما له امریکایانو راوړی و، نمورې پوډر هېڅ رنګ او خوند نه لرلو، امریکایانو به چې کله کوم مشکوک کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیولو، د اقرار پرېي لولو په پار به يې بيا ددې پوډر نه د يو وار نصوارو په اندازه يو ګيلاس اوبو کې ورته منحل کړو، هغه اوبه به يې په مشکوک کس وڅښې، انسان يې بې هوشه کولو نه، يوازې له څښلو دوې دقیقې وروسته يې حافظ او عقل ورته بلاک کول، نور به په دې نه پوهېدو چې زه د دښمن لاس ته ورغلی يم، يا هم بندي يم، څه بايد ووايم څه ونه وايم؟ هره پوښتنه به چې امريکايانو ترې کوله ده به په خندا او خوش رضايۍ ډېر دقيق او واقعت ځواب ورکولو، په دې ترتيب به يې ټول اقرار ترې واخيستلو، درحالې کې چې ددې پوډر تر ورکولو مخکې به يې په وهلو وهلو پوست ترې ويستلو يا هم په پښنو به يې راڅوړند کړو، له هغو خبرو يې يوه نښوی ترې ايستلی، کوم چې تر پوډر ورکولو وروسته به يې ټوله کيسه خپله وکړه، د هر ملګري نوم، د وسلو د پټولو ځای همداسې ټول پټ رازونه به يې په لاس ورکړل، خو په هر حال د ياد پوډر نه ما هم د يوار نصوارو په اندازه راسره واخيستو، ور روان شوم، ددې د وېلو سره سم دهمزنګ ته په رسېدو سره مې زنګ ورته وکړو، له سلام عليک وروسته مې ورته کړل:

- د دهمزنګ له څلور لارې راتېر شوم، موټر مو د دارالمان په سرک درروان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښا، ښا پخير راشي مولوي صاحب، ډېر ور ته ووايه چې د سفارته شوروي تر مخ دې ښکته کړي، زه د سرک په سر درته معطل يم.

څه سر مو خوړوم سفارت ته په رسېدو سره ډېر ور برېک ووهلو له موټر نه را ښکته شوم، سم د لاسه غږ را باندې وشو:

- مولوي صاحب سلام عليکوم، پخير راغلي !؟

چې سترګې مې ورواړولې غرڅه وه، څنګه چې وزارت ته راغلي وه همغه شان تور نوی عربي حجاب يې په تن و، خولې ته يې فولادي رنګی ماسک اچولی و، د سلام د ځواب په ورکولو سره مو جوړ پخير وکړو، نور مې دا تر مخ، زه پسې شوم، په لارو راته وايي:

- وبښه مولوي صيب زښته ډېر مې تکليف کړې.

ورغبرګه مې کړه !

- نه هېڅ خبره نه ده، د الله ج رضا خو بې تکليف لاس ته نه راوړل کېږي، پوهېږې زموږ او تاسو پيغمبرانو د الله ج د راضا حاصيلولو له پاره څومره تکليوفونه ګاللي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو مولوي صاحب ديني علوم مې څه ناڅه لوستي پوهېږم، تاسو ته دې هم الله ج اجرونه درکړي.

- جزاک الله، سرتوره مشې.

په همدې سره راورسېدو سفارت ته څېرمه بلاکونو په دريم بلاک او پنځم پوړ کې يې کورو، د کور رنګ روغن او وسايلو ته په کتو يې، ښه شتمن خلک معلومېدل، اوږده دهليزه ته د اتاقونو ورونه راختلي و، وړاندې تېر شو، راسته خوا يو وړکي پاک صفا اتاق ته يې ننيستلم، په قيمتي توشکو، پردو او قالينو پوښلي و، غرځې کړل:

- وبښه مولوي صاحب! د مهمانخانې ارکنديشن خراب شوی، د کور اتاق ته مې راوستلې.

- ښځې صحيح دی، د خاورو نه جوړ خلک يو، بيا هم خاورو ته ځو، هر ځای چې وي فرق نه کوي، په هر حال د الله ج شکر پکار دی.

- خيريو سې مولوي صيب!

زما د کيناستو سره سم يې له يخچال نه راخيستې يخه دوه قابه تازه ميوه، سره د چړو تر مخ راته کېښوده، يوه قاب کې ناک او شفتالو و، بل کې منې، کيلې، دوه درې املوک و، پسې زياته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مولوي صاحب ! تور چای څښبې که شین؟

- چایو ته اړتیا نشته.

- ترموزونه له جوش اوبو ډک دي پکټ تور چای وروا چوم که شین؟

- بیا نو شین چای رادم کړه ! روایتونو کې راځي، شین چای امام جعفر رح ډېر څښلو ثواب لري. خپلو دروغو ته مې ډېره خندا هم راغله، خو ځان مې کابو کړو.

غرڅه پسې ووتله د سترګو رپ کې یې شین چای او له ډول ډول وچې میوې ډکه میوه داني هم کېښودل، له چایو نه د ګیلاس راډکولو وروسته یې کړل:

- مولوي صاحب ماشوم دې مخامخ بل اتاق کې ویده دی، چای دې په کراری وڅښه وروسته به یې راوېښ کړم؟

- د ماشوم راوېښولو ته اړتیا نشته، ګناه هم ده، محمدص به یې هېڅ کله واړه ماشومان له خوبه په زور نه راوېښول، زه چې څنګه دهلیزه ته راننوتلم سر مې دروند شو، ستاسو د کور په مشکیل پوه شوم، اوس مې هم سر دروند دی، نور هېڅ ستونزه نشته یوازې ډېر پوخ آشون (نظر) درته شوی، ته، خاوند دې، ماشوم دې، کور مو ټول نظر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاست، ممتا ته او خاوند یې دې برداشت کولی شي، مګر ماشوم مو دومره تاب نه لري، څکه وخت ناوخت تبه پرې راځي ناروغ کېږي، صرف دری ګلاسه او به راوړه درته دموم یې، یو ګیلاس ته وڅښه یو دې ماشوم ته ورکړه، دریم ګیلاس وساته که خاوند دې په راتلوونکې اونۍ کې راغلو، هغوئ ته یې ورکړه چې وڅښي، که رانغلو بیا یې د کور دیوالونو ته ورو پاشه، په نرمه تمثیلي خندا سره مې پسې زیاته کړه: لږ لږ ورو پاشه چې د اطاقونو رنګ پرې خراب نکړې، ددې هم تندی ورین شو، مسکۍ شوه، خبرو ته مې دوام ورکړو: په دې سره به مو انشاءالله د نظر، سحر، جادو او بل هر بد افت جرړې له کوره ووځي، زوی به دې هم ښه شي، ستاسو اندامونه به هم سپک شي، په روزۍ او شتمنۍ کې به مو هم برکت زیات شي.

- خیریوسې، تر خوله دې قربان، مولوي صاحب، موږ خو نه پوهېدو، ځان رانه هېر و، صرف ماشوم مې ګرد په ډاکترانو تاوولو، هر میاشت چې کم هم وي، لس، پنځلس زره افغانۍ مې دده په تداوۍ ورکولې، له هر ډاکتر نه مې پنډه پنډه دواوې راوړلې، خو د روپۍ پایده یې نه ورته کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نه دا خو د دوا او ډاکتر کار نه دی، ته ورشه په منډه یو دری ګیلاسه اوبه راوړه.

له همدې سره پسې جګه شوه، د شیبې په تېرېدو سره یې وړکي پتنوس کې درې ګیلاسه صافې رڼې اوبه راوړې، بسم الله مې وویله، نور په شونډو کې پسېدم پنځه دقیقې وروسته مې په ګیلاسونو چففف، چففف وروکړل، بیا مې شونډې پسولې پنځه دقیقې پس مې پر کیلاسونو ورچفف، جفف کړل، همداسې څلور پنځه ځله مې دا کار تکرار کړو، هاخوا دا ناسته وه، اوبو کې د پوډر اچولو موقع نه برابرېده، دې ته مې سترګې وراوړولې کړل مې:

- اوبه خو دم شوې اودس دې شته؟

موسکۍ غوندې شوه د شرم احساس یې وکړو، غلې یې کړل نه مولوي صاحب اودس مې نشه.

- ورشه اودس دې راوکړه.

دا په اودس کولو پسې ووتلله ما زر زر پلاستیک کې غوټه کړی پودر له جیب نه راویستلو په یوه ګیلاس کې مې واچولو له پتنوس نه مې کاشوغه راجګه کړه پوډر مې اوبو کې ښه پرې منحل کړو، څنګه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وړاندې ووېل نمورې پوډر هېڅ رنګ، خوند او بوی نه لرلو ترڅو پرې پوه شي، څو لحظې وروسته لانده لاس او پښې اتاق ته رانتوتله، اودس يې کړی و، په خپل مخکني ځای يې د وره څنګ ته کېناسته همدا د پوډر کيلاس مې ورته ونيولو، کړل مې!

- واخله ته خو دا يو ګيلا همدا اوس تازه په تازه وچښه انشاءالله دوې درې دقيقې وروسته به يې په تاثير پوه شې.

- خير يوسې مولوي صيب! خدای ج دې د جنتونو سردار کړه.

په همدې سره ماته په څنګ شوه، ماسک يې له خولې ښکته کړو، د بسم الله په ويلو سره يې ګيلاس په سر واړولو، په دريو دمو يې ټولې اوبه وڅښې خالي ګيلاس يې په غولي کېښودو واپس يې ماسک ورپورته کړو خوله او پوزه يې پکې پټ کړل، درې دقيقې لا نه وې وتلې چې په خندا شوه، بيا يې د هغه پخوانی سندرې زم زمه شروع کړه چې وايي: ځم جلال اباد ته نوا به څښې دې غوړې کړه چې باد يې رپوينه....

پوه شوم چې حال يې نور شو، لاس مې ورته ونيولو کړل مې: - ستړې مشې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانژې شوه زما لاس يې په لاس کې ونيولو جوړ پخير يې پيل کړل، بيا مې ورته کړل: حجاب دې وباسه دا خو کور دی، کور کې څوک حجاب نه کوي، ته ځکه شه چې زه يې توکمې درته خلاصې کړم.

پرته له څه ويلو پورته شوه، زه هم ورسره جګ شوم لمړی مې يې ماسک له خولې لرې کړو، بيا مې يې د حجاب توکمې پرې خلاصې کړې نور يې لاسونه خپله له لاستوڼو ويستل حجاب يې هاخوا خطا کړو، تر حجاب لاندې يو لنډ او نازک پنجابي کميس او ازاد شالوار يې په تن و، نری شيرچيي رنګه ټيکری يې هم شا طرف ته وېښتو کې بند و، لاس مې وريوته کړو، کړل مې: - دا ټيکری به هم لرې کړو، ګرمي ده چې مريضه نه شې.

راغبرګه يې کړه:

- هو ګرمي ده، ترڅو ما ځګولو دې مې له لاس نه کش کړو، هاخوا حجاب پسې يې ورخطا کړو؟

وېښته يې لکه د ترکي يا هندي نجونو شاته په غټ ګل کې ټول کړي و، خپل واسکټ او لونګۍ مې هم هاخوا کونج کې د بسترې سر ته وروغوځول، غرڅه مې له لونګۍ لوڅ شوي سر ته په خندا شوه چکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وهلې د غولي په منځ مخامخ راته ولاړه وه، څنګه چې د وزارت مخکې له جذابه سترګو نه ښکلې تصور کېده، تر هغو هم ښکلې وه، د خورا ښايست علاوه ډېر ښه اندام او باډۍ يې لرل، د بسترې له پاسه د خپل واسکټ او پګړۍ ايښودو، وروسته مې د غيرې په خلاصولو سره ورته کړل:

- بيا سترې مشې!

سم د لاسه راغاړې وتله، د ديوال څنګ ته مې په لوړه پسته توشکه راچپه کړه، د نيم ساعت لپاره مې ښه اړخ په اړخ ورغړوه، رورغړوه، اندام په اندام مې چاپې کړه، ان تر دې چې نازک کميس او شالوار يې په خولو لانده خوشته شول، دومره مې ګرمه کړه چې نور دې هم له مستۍ خولې رالګولې او زما فشار هم اوج ته رسېدلی و، همدا و چې د کار ورخلاصولو اراده مې يې وکړه، جګ شوم ترڅو وګورم چې د دهليزه ور که خلاص وي؟ قلفک يې کړم، څو وره ته ورسېدم، غرڅه مې هم ترشاه ودرېده، ورته کړل مې:

- ته ننوځه زه واپس درځم د دهليزه ور ګورم چې خلاص نه وي، خو دومره نه پوهېده لا هم جوخته راپسې ولاړه و، ور مې وکتلو قلفک و، بېرته راوګرځېدم، دا مې تر لاس راسره راونيوله، دهليزه ته راوتلو يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وره کې مې وروکتل لویه مهمانخانه وه، تر بل وره مې سر وردننه کړو دا هم برابر په قالینو فرش اطاق و، ماشوم یې پکې ویده کړی و، دریم ورمې چې راخلاص کړو ډېر یو ښایسته ورکی اطاق و، اطاق په هر صورت یو ډېر ښکلی دوه نفري د خوب تخت پکې ایښی و، چې دا نوعه تختونه ما په ترکي فلمونو کې لیدلي و، مستقیماً لمړی ځل و چې سترګې مې پرې ولګېدې د غرخه لاس مې لا هم په لاس کې و، همدې اتاق ته ورننوتلو، د ورننوتلو سره سم مې لاس د غرځې ته غاړه ور تاوکړو، د مچو کولو په پار مې یې خوله په خوله ورکښښوده همدې مچو، مچو کې مې په تخت راړنګه کړه، تخت کې ډېر نرم سپیرنګ کار شوي و، د معمولي خوځېدلو سره یې تر ډېره سرې پورته پورته اچولو، فکر کړم بده ده نور یې له ویلو تېرږم، خلاصه څنګه چې پوهېږئ او تصور کوی هغه هر څه انجام شول، زه خو هسې د کالونو مجرد وم، ولې د غرځې د مستۍ کچه او جنسي مقامت هم ډېر لوړ و، واقعاً سم یې خولې کړم، لنډه دا چې د نیم ساعت په تېرېدو سره د دواړو د بدن غړي راپسې مړه شول، چې ساعت ته مې وکتل غرځې ته د پوډر ورځښلو او نرمال حالت نه یستلو، یونیم ساعت وتلی و، په داسې حال کې چې یاد پوډر تر دوه ساعته زیات اثر نه لرلو، پس له دوه ساعتونو به سرې واپس خپل نرمال حالت ته راګرځېدو، عقل او حافظې یې خپل فعالیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیلولو ، همدا و ، چې راجګ شوم زر زر مې د جامو په اغوستلو پیل وکړو ، غرځې ته مې یې هم د جامو په تن کولو وویل، زه ورسره کمک شوم، جامې یې واغوستلې واپس مې دا په تخت کې راځملوله ورته کړل مې:

- ته همدلته ځمله ویده شه، ماته به یې ووېل سمه ده، خو احافظه یې یاري نه ورسره کوله، زما خبره به یې له یاده ووتله زه به چې د اتاق تر وره راووتلم، دا به هم له اخیره نیغه راپسې ودرېده، ووېرېدم ترڅو هسې نه، زه چې له کور نه ووځم دا هم په همدې حالت بهر راپسې راووځي، مجبور شوم بیا مې د تخت اطاق ته ننیستله، یوه نازکه رختې روجایې په لاس راغله له تخت لاندې په غولي مې یې پښې او لاسونه کلک وروتړل، هرڅو زورونه یې چې ووهل، وس یې ونشو چې جګه شي، د روچایۍ غوټو ته مې غوږشې ورواچولې ترڅو په حال راشي یا هم عقل یې کار وکړي، چې بیا یې په خوله خلاصې کړی شي. دوه ساعتونو یا هم په حال راتلو ته یې ډېر کم وخت یوازې لس، پنځلس دقیقې پاتې وې په اجله لمړي اتاق ته راغلم. واسکټ مې واغوستلو زر زر مې پګړۍ هم له سره تاو کړه، څادر مې په اوږه واچولو ، له وتلو سره مې په مخه کې د وچې میوې له میوه دانۍ نه یو دوه موټې هندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسته او بادام هم جیب کې راسره راواچول، نور په تلوار راووتلم، د دهلیزه له ورنه د بلاک عمومي دهلیز ته په راوتلو سره مې مخامخ د لیف په دروازه سترګې ولګېدې، یو ځل مې کړل، همدې لیف کې بنکته شم، بیا فکر راولویدو، سرېیه! هسې نه برق پرې لاړ شي، نیمایي کې بند پکې پاتې شې، غرځې ته به لکه ترلی چرګ په ګیر ورشې، همدا و چې زینې مې په خوله ورکړې، بلاک کې میشت خلک په مخه راتلل اخترامانه سلام او درناوی یې کولو، عمومي سرک ته په راوتلو سره مې یوه سپینه کرولا راودروله، ځان مې ورخطا کړو، په لارو مې را پام شو، چې اووووو هغه مبایل دې هم راونخیستلو، د غرځې ډېر ښکلی قیمتي آیفون مبایل و، زړه کې مې و، چې وتلم، د لاس د ننبې په پار به یې راسره وړم، ولې له بده مرغه اخیر کې د وخت د کمښت له وجه وارخطا شوم پاک مې له یاده ووتلو. خو په هر صورت کور ته لا نه وم رارسېدلی چې جیب کې مې د مبایل کړنګار شو، راومې یستلو غرځه وه، ممکن همدا شیبه به راپه حال شوې وه، څنګه یې چې لاس او پښې خلاص کړي و، فوراً یې زنګ راپسې راوکړو، تر ډېره مې مبایل وکړنګېدو پرې اوکې مې نه کړو، ددې زنګ تر قطعه کېدو وروسته یې بل زنګ وکړو، بل یې وکړو، لنډه دا چې دریم زنګ مې یې اوکې کړو، له اوکې سره مې غږ پرې وکړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سلام علیکو !

- آ مرګ سلام ! آ درد سلام ! سلام دې ستا سر وخوري !

ای پر پدر دې لعنت شه !

تف لعنت دې په ګیره، لعنت دې په پګړۍ، لعنت په هر امارتي وحشي، دلته د روسانو سفارت دی د فوځیانو له مخې سره یې ښکته پورته کېږم، دلته جمهوریت و، دېموکراسي وه، د پنځوسو کفري هېوادونو عسکر ګرځېدل مګر هېچا مې داسې د عزت رانه لوټولو هڅه ونکړه، لکه څنګه چې نن د اسلام د دعایانو په نوم تاسو دې دجال ښکر رانه لوټ کړو، د ښځې غوسه لحظ په لحظ زیاتېده، زه هم ورته غوږ وم، ترخو پرېږده بېچاره چې لږ د زړه درد یې سپک شي، لنډه دا چې ان امیرالمومنین، ریس الوزرا، خلیفه صاحب سراج الدین حقاني همداسې نور د امارت مشران یې هم جلا په ډېرو بدو الفاظو راوستایل، پسې زیاته یې کړه، په نام ملا، مولوي، شیخ، ګیرور او پګړۍ واله دې پر پدر لعنت شي، د کوڅه ډبو سپیو بلا دې درواوړي، نور یې زه هم تنګ کړم همدلته مې مبایل پرې ورقطعه کړو، زړه کې مې وېل چې اوس دې کار ختم شوی، همدا یو تاوان دې بس دی چې ودې کړو، ځان کفر ته مه اباسه چون واقعي عالمان له شک پرته د محمدص وارثین دي، دوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکنځلي مستقيماً اسلام مبارک دين ته توهين او کفر دی، همداسې د امارت په مشرانو کې هم ډېر سپيڅلي عالمان او شخصيتونه موجود دي، اما يوازې او يوازې لويه اشتبا يې دا ده، چې حکومتي کارمندان هغه که د هر فکر او عقيدې لرونکي وي، د امارت اسلامي حکومت د پالسۍ له مخې بايد ګيره پرېږدي، خولۍ يا لونګۍ يې په سر وي، همداسې نور ځينې شرايط عملي کړي، يعنې د دندې په مقابل کې يې تر خوږ ګوته نيسي، اجباري ږيرې پرې پرېږدي، خولياني يا هم پګړۍ ورپه سره کړي، مصنوعی قاريان او عالمان ترې جوړ کړي، درحالې کې چې زما په شان ډېری يې حتا چې د لمانځه په فرض او سنتو هم شک او رک نه دي، له دې ګيرې او پګړۍ بيا ډېره لويه سوء استفاده کوي، چون عام خلک ددوی له زړه او پرهېزګارۍ څه خبر دي؟ ګيرې، خولۍ، پګړۍ او ظاهري څېرې ته په کتو يې د عالم او قاري په صفت تمام احترام ورته قايلېږي، عتبار پرې کوي، برعکس دوی يې له احترام او باور نه ډېره دردونکې سوء استفاده کوي، مثلاً په جمهوريت کې زما خريلې ګيرې، ستايلي ويښتو او آکشن ته په کتو، هر چا له ورايه پېژندلم، فکر، دينداري هر څه مې ورمعلمېدل، د همغو له مخې يې معامله راسره کوله، د غرڅې په شان پاکو ښځو پنځوس مترۍ کې لار رانه چپوله، موټر کې چا مبايل نه راته پرښودو، چې لس روپۍ کرايه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ورنګړه د تونس موټرو ډرېورانو به مې يخن راباندې څيرولو اما نن د ګيرې او پګړۍ برکت و، چې هغه ډرېور د عالم په صفت باور راباندې وکړو، د چالاند موټر سربيره مبايل يې هم راته پرېښودو، خپله د ترافيکو رياست ته ننوتلو، برخلاف ما هم له مساعدې موقع نه په ستفاده نر غوندې ترې ووهلو، زه فکر کړم تر اوسه به ملايانو پسې بد، رد وايې او په ليدلو به يې له خبرې نه استفراق ورځي، نه به هم په ټول عمر بيا ملا موټر ته پورته کړي، همداسې ښکه مې چې پاس يادونه وکړي، تونس موټر کې چا بې کرايه نه ورم، ولې دا وخت د ښار سره سره قيمتي موټرو کې مفت ګرځېدم، غرڅه مې هم د ګيرې او پګړۍ له برکته ښکار شوه، کنه هغه د چا خبره ملا او دومره بخت. يعني له شک پرته د امارت مشران په دې برخه کې ډېره لويه سهوه کوي، چون په ځای ددې چې د دندې مقابل کې يا هم کوم بل مستقيماً فشار پرې راوړلو په وجه يو ځوک دګيرې پرېښودلو، خولۍ يا هم پګړۍ پرې په سر کولو، ځان پرې په شريعت برابرولو ته مجبور کړي او ځيګر کې يې د ديني علم ټکی نه وي، دې ته د زور مسلمان وايي، په زور د هر مسلمان نتجه داسې وي، لکه چې ومو لوستله، فکر کړم زمونږ او تاسو مبارک دين اسلام کې هم له همدې کبله په يو چا فشار راوړلو او په زور شريعت ته قايلول منع دي، بدعت دی او نه هم په هغه ګيره، خولۍ او پګړۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم اجر شته، بناءً په ځای ددې چې دوئ، مستقیماً د کوم فشار له وجې یو څوک د ګېرې پرېښودو، سر پرې پټولو، ځان په سنتو او شریعت جوړولو ته اړ کړي، باید لمړی درسنیو، سیمینارونو، مسجدونو او بېلابېلو برنامو جوړولو په وسله د خلکو فکرونه او عقیدې جوړې کړي، د ګیرې، پګړۍ او شرعي لباس ثوابونه، فضیلت ورته بیان کړي، ترڅو د خپل ایمان د قوت او عقیدې لمخې ګیرې پرېږدي، ځانونه ظاهر او باطن په اسلام شریعت برابر کړي، پس کله چې یو څوک د خپل سالم فکر او عقیدې لمخې ګیره پرېږدي، پګړۍ ووهي، په ټول تاوان یې بیا افت او فضیلت ساتلو ته هم ژمن وي، اعمال، کردار، ګفتار یې ټول ورسره جوړوي. او که دا حال وي، یوازې ظاهري ګیرو او څېرو ته یې خوشحاله وي، چې ګواکې سخت بې لارې او ګمراهان مو په شریعت برابر کړل، عوض کې خو به مو یې الله ج هرو مرو په دوه سوه حورو باندې ونازوي. بیا هم وایم لویه اشتبا کې روان دي، لرې نه ده چې د همدې بې علمه عالمانو له لاسه به د اسلام مبارک دین د بدنامولو، تر څنګ، رښتیني معزز عالمان او قاري صاحبان هم په ټولنه کې خپل هغه محبوبیت، مقام او درناوی له لاسه ورکړي، کوم چې د فرد فرد لخوا ورته کېږي، حتا ددې وضعیت په دوام کولو سره به نعوذبالله یوه ورځ په نام شیخ او ملا خلک په کانو ولي. پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی غلا

که څه هم ما د عصري علومو تعلیم کړی، خو دا چې پلار مې مولوي و، د اولاد په صفت یې په موږ هم عقیدوي اثر پروت و. له ماشومتوبه په دې یقین وم، چې حرام مال وفا نه لري، د کور برکت، اتفاق، مینه، محبت، خوشحالي هر څه له منځه وي، همداسې په کومه حلاله شتمۍ دې چې ګډ شي، هغه هم له ځانه سره لوټ کوي، همدا و چې په یو تجارتي شرکت کې، د یو څه وخت کار کولو په لړ کې د شرکت ریس هم پوره باور راباندې پیدا کړو. البته دا باور یې هسې نه و کړی، بلکې په دنده کې د ورسره نیولو، په لمړیو کې پرته له دې چې زه وپوهېږم، مستقم او غیرې مستقیم یې ډېر تعقیب کړی وم، خو دا چې زه له مخکې نه عقیدوي د غلا او خیانت په وړاندې ډېره حساس وم، کومه ستونزه یې راکې ونه لیده. همدا و چې د کال تر تېردو وروسته د شرکت اویا سلنه مالي چار زما او زما دیو بل همکار صمیم په واک کې راکړل شوي وې، له یادولو دې پاتې نه وي، که څه هم ما لیدو چې صمیم یو څه ونډ وهلو. یعني په هډو پوره پاک نه و. خو دا چې د یو پاک نسان په تمثیل کولو کې ډېر ماهره و. همدا وجه وه، چې نسبت ماته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرکت د ریس ډېر باور تر لاسه کړی و، ان تر دې چې که ما یا کوم بل چا یې شکایت هم کړی وی، ممکن د ریس لخوا د دروغجن په صفت له دندې ګوښه شوی وی، چون څنګه مې چې وړاندې وویل یوخوا صمیم د ریس په وړاندې د ډېر عالي تمثیل کولو وړتیا درلوده، بلخوا ریس ډېر خوشباوره او صادق انسان و، ټوله دنیا یې د ځان په شان لیده، د چا په دوه رنګۍ نه پوهېدو، همدا و چې صمیم ته هم د سوء استفادې ترې کولو ښه زمینه برابره وه، د شرکت له نرخ نامې نه به یې چې سوداګریز توکي یوه، روپۍ هم په مشتریانو لوړ وپلورل، بیا به هم ده ته ډېرې پیسې پکې پاتې کېدې، که څه هم ده مستقیماً د شرکت له مال نه غلا نه کوله، صرف د ریس په پټه یې توکي د شرکت له بیه په مشتریانو یوه، دوې روپۍ قیمته پلورل اضافه پیسې یې خپل جیب ته اچولې، خو عین حال کې له شرکت سره هم لوی خیانت و، ولې چې په دې کار سره یې شرکت د نورو متقاربو شرکتونو سره په رقابت کې پاتې راتلو، مشتریان یې له لاسه ورکول، دا عمل ما هم پرته له کومې ستونزې کولی شوی، ممتا لکه څنګه مې چې لمړیو کې وویل، زما په نفسي خواهشاتو تر ډېره دیني عقیده غالبه وه، د احادیثو او نورو الهي نسخو د حوالو له مخې د غلا یا هم حرامو د خوړلو له عواقبو زیات وېرېدم، لنډه دا چې دې وضعیت تر ډېره دوام وکړو، ان تر دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صمیم نبه نوی د وخت ماډل بالا فرونر موټر واخیست کابل کې یې کور او همداسې د هرې ورځې په تېردو یې ژوند رنګ راوړلو، د صمیم د زندګۍ جوړېدو ته په کتو، څنګه چې یو متل هم دی: له چا سره چې اوسې په خوی به د هغو شې. کرار کرار وخت ناوخت زما ذهن کې هم راګرځېده: سړیه! خلکو ژوندونه جوړ کړل، ځانونه یې د موټرو او بلاکونو څښتن کړل، کلی کور، خپل او پردي یې ټول په عزت او درناوي ورته قایل کړل، ته به تر څو په پردیو مزدور کې سپیره میره لکه شخاړی لګیا یې؟ یوازې خپل معاش ته به دې اړولي وي، هغه هم څو یو معاش اخلې بل مو خوړلی وي، پس هر وخت به دا موقع نه وي، راشه لاس واچوه، لکه صمیم ژوند جوړ کړه، بیا که کومه ورځ له شرکت نه بېکاره هم شې، ارمان به دې نه وي او نه به هم دوهمه ورځ له اقتصادي مشکلاتو سره لاس او ګرېوان کېږې، پیسې به لرې خپل شخصي کار او بار به پیل کې. خو بلخوا به مې چې خپل عالم پلار، د پاني دنیا دوې شپې ژوند، مرګ، قبر او اخیرت کې سوال او جواب ته وکتل، د بدن اندامونه به مې وربرډ بډل، لاحوله ولا قوة... به مې ووېل، چپ لور ته به مې لاړې تف کړې، همدا و چې د غلا کولو له ارادې به تېر شوم، اما ساعت دوه ساعته پس به مې بیا ذهن کې شیطان کافر کار شروع کړو: رنګا رنګ وسواس به یې پرې رااورول، ګویا موقع مه ضایعه کوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینده دې جوړه کړه، تر کومه به همدا معاش وي او ته به دې د کورنۍ ورځنی ژوند مخ ته یرې وړې،؟ فرض کړه سبا بې کاره شوې، پنځمه ورځ دې کور کې اوړه نشته، دسلو نورو اقتصادي ستونزو سره ګیر یې، که مریض یا هم خدا ینا خوسته جوړ ناجوړ درته پیښ شي، څنګه به یې کوې؟ د هغه ورځې غمه دې وخوره، څه له ریس نه خو یې نه غلا کوې، تجاران ستا په یوه دوې روپۍ خبر هم نه دي، نه یې سرمایه پرې کمه، زیاته کېږي....

همدې ذهني کشمکش کې څو میاشتې نورې هم تېرې شوې، بلاخیره د شیطان دوښمن غلبه راباندې غالبه شوه، په لمړي قدم کې مې شل زره پېټۍ (کارتن) یو مزاري تجار ته په شپږ سوه څلور اتیا (۶۸۴) افغانۍ حساب کړې، درحالې کې چې د شرکت لخوا په نرخ نامه کې د یوې پېټۍ قیمت (۶۸۲) افغانۍ تعین شوی و، ریاست ته مې یې د خپل نرخ شپږ سوه دوه اتیا (۶۸۲) افغانۍ لمخې راپور تېر کړو، څلویښت زره (۴۰۰۰۰) افغانۍ ماته پکې پاتې شوې، همداسې دری ورځې وروسته مې یو بل ونډ ووهلو، دېرش زره (۳۰۰۰۰) افغانۍ په دې کې هم راته پاتې شوې. خو بدبختانه په همدې مابنام برقو کې څه ستونزه رامنځ ته شوه، برقي په رخصتۍ کورته تللی و، زه ورغلم ترانسپرمر ډېر لوړ و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړی په دیوال وروختلم، بیا له لاندې یو بل ملګري بیلر راکړو، هغه مې هم د دیوال له پاسه کېښنودو، ورپورته شوم، که څه هم پرې پوهېدم نه، خو هلته څو پیوزونه و، ماویل که په دې کې کوم یو پورته شوی وي، واپس به یې ښکته کړم، چې ومې لیدل، رښتیا هم یو پیوز پکې پورته و، ګوته مې ورورېه راښکته مې کړو، وتومات ببرته پورته شو، تکرار مې دا کار وکړو بیا هم پورته شو، دریم ځل مې ګوته کلکه پرې ورونیوله، له همدې سره لکه د راکیټ پیر، ډېر لوی دز شو، شارتي یې وکړه له ټول تراسپرمر نه سرې لمبې جګې شوې، زه برق ونیوم، په ډېر شدت سره یې تقریباً لس، دولس متره لرې وار کړم، لاندې د حویلۍ منځ کې د پاخو مزایکو له پاسه پړمخې ولګېدم، نور په ځان نه یم پوه، روغتون ته نارسېده په هوش راغلم، خو وضعیت مې ډېر خراب و، له غوږنو، خولې او پوزې مې وینې رابهېدلې، له سلو رګونو مې په یوه رګ کې هم نه تېرېده، چې جوړ به شم، سل فیصده په دې یقین وم، چې د ژوند وروستۍ شیبې مې دي، زر زر مې استغفار کلیمه تکراروه، چون دا هر څه مې په شرکت کې د خیانت او غلا کولو له وجې د الله ج لخوا عذاب ګڼلو او تر څنګ یې زړه کې راتېره شوه: سړیه ! دا هم شاید الله ج د خپلې مهربانۍ له مخې یو فرصت راکړی وي، چې په هوش راغلم، تر هغو چې ساه مې خېژي، خیر که دنیایي لوی شرم هم دی، له ما نه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې پاتې دي، څو د اخيرت پېټي مې هم نه شي، بايد په هره طرقه چې کېږي زر تر زره له ريس نه بښنه وغواړم او زما د اوسېدو اوتاق کې د هغه اويا زره (۷۰۰۰۰) غلا کړو پيسو ځای هم ورته وښيم. ترڅو وايي خلې، همدې اندېښنه کې روغتون ته ورسېدو، ډاکترانو سم دلاسه څو نوعه پيچکارۍ راکړې، سيروم يې راته ولګول، خو زما وضعيت لا هم ښه نه و، وجود مې سخت درد کولو، له خولې او پوزې مې وينې راتلې، شيبه په شيبه مې د بدترۍ احساس کولو، اما تر دې ټولو زيات غم د ريس نه د بښنې غوښتلو او هغه پيسو ادرس ورکولو و راسره، چې همدې وخت کې له ماسره د پايواز په صفت راغلي د شرکت يو کارمند ملګري ته مو زنګ راغلو، له خبرو يې پوه شوم چې ريس دی، زما پوښتنه يې کوله، ملګري مې ورته کړل: په هوش راغلو، خو د بدن له درده فرياد کوي، له خولې او پوزې يې لا هم وينه ځي...

ملګري مې د سترګو په اشاره پوه کړو، چې ګويا ګوشي ماته راکړه، د ريس سره يو دوې خبرې کوم، ګوشي يې راکړه ريس کړل: څنګه يې؟ په ډېر زور مې صرف دومره ورته وويل: جوړېږم نه ريس صيب! صرف يوه خبره مې واوره، په تول ددې دريو کالونو کې چې کار مې درسره کړی، يوازې په تېره هفته کې يو خيانت رانه شوی، مال مې له نرخنامې دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روپۍ قیمته وپلورلو، هغه زیاتې پیسې یې ما واخیستلې، اویا زره (۷۰۰۰۰) افغانۍ دي، څوک ورولېږه زما اتاق کې، په میخ راځوړند بیک کې مې سپین رنګي قات کړي پاک کالي دي، د هغه کالیو د ځنګ جیب کې مې ایښې، وایې خله، نور مې که یوه روپۍ درنه غلا کړې وي، یا مې یوه ذره خیانت کړې وي، مه مې بښه، صرف د همدې یو ځل تېروتنې مې د زړه له خلاصه بښنه راته وکړه.

ریس خدایزده څه وویل؟ خو نور ما کې د خبرو اورېدلو او کولو سیک نه و، مبایل مې له لاسه وښویدو، د شدید درد له وجې د لنډ وخت لپاره بیا بې هوشه شوی وم، نه پوهېږم چې مبایل به همغه وخت کې قطعه شوی وي، که پایواز به مې ورسره غږدلی وي؟ خو په هر حال، په دوهم ځل هوش راتلو سره مې یو ځل بیا د وصیت په پار مور، پلار، کورنۍ ته د پیام پرېښودو په بڼه، نمورې پایواز هلک ته په تول وس او زور زګیرویو، زګیرویو کې دوې درې مخصوصې خبرې هم وکړې، نور سترګې راپسې راپټې شوې، خو سره ددې چې ما هره راتلوونکې دقیقه د خپل ژوند وروستۍ لحظه ګڼله. ولې الله ج وېل چې نه، ته راځه زما اراده بل څه ده. خلاصه دې د کوما حالت او شدیدې ځان دردۍ تر سهاره دوام وکړو، کله په هوش کله بې هوشه. سهار چې سرطبیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلو، څو نوع معاینات یې راباندې وکړل وېل یې: د بدن سطحې عضلات دې چاودلې، ځان دردې او خون رزې دې له همدې وجې ده، نور خاص مشکل نشته، دوا درته لیکم له دې سره به دې انشاءالله دردونه ارام شي، رښتیا هم د دوا تر استعمالو وروسته مې وجود ارام شو، د چا خبره ځکه او اسمان مې ولیدل، لنډه دا چې تر درې ورځې وروسته، که څه هم بدن مې زخم زخم و، مګر بیا هم الحمدالله له روغتون نه د رارخصتېدو په محال پخپلو پښو راوتلم، تر کوره مو، یا هم له هرات نه تر وردګو یوه شپه او ورځ د موټر لاره وه، بلخوا چې سهار وختي ټکټ وانخلې په نیمه ورځې کې موټر هم نه پیدا کېدو، مجبور وم، شرکت ته ولاړ شم، سره ددې چې د ریس لخوا د سختې بې ابۍ ویره هم راسره وه، له بې ابۍ نه یې هم دومره نه وېرېدم، لکه ترې شرمېدم چې، بلخوا دغه روغتون ته راسره تللې هلک ته مې د وصیت په صفت خپلې کورنۍ ته د پیام پرېښودو په پار چې کومې خبرې کړې وې، ډېر پرې پښېمانه وم، ولې چې هغه زموږ د کورنۍ شخصي خبرې وې، په هر راز شرکت ته تر رسېدو وروسته، خپل اتاق کې وغزېدم، په وره کې مې ریس، تر سترګو، سترګو کېدو، چې ګویا اوس به راځي، اوس به راځي، همداسې شوه تر څو مې دمه جوړېده چې یو هلک یې راولېږلو، کړل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ریس صیب وايي: که ریاست ته راختلی شې؟ یو ځل راشه!

د هلک تر رخصتولو وروسته مې زر زر کالي بدل کړل، سل زړونه مې په زړه کې کېښودل، پسې وروان شوم، فکر مې کولو چې ممکن ډېر سخت مې بې ابه او له دندې مې هم منفک کړي، ددې علاوه د هر قدم په وراخیستلو سره مې له شرمه غوښې توېدې، خلاصه د وره له ټک ټک وروسته، په ټیټو سترګو ریاست ته ورننه وتلم، سلام مې واچولو، پرته له دې چې ریس ته وګورم، هاخوا کوچ کې کېناستم، ریس کړل:

- ښنګه دی تکلیف دي؟

- شکر دی ریس صیب! اوس ښه یم!

- څه ښه یې، چې ښه یې، زه به هم نور څه نه درته وایم ځکه چې خدای ج سزا درکړه، مګر کومې پیسې دې چې غلا کړې، هغه زما نه بلکې د هغه تجارانو دي، کوم چې مال دې له خپلې بیه نه لوړ ورکړی، هغه مالي ته ورکړه ترڅو واپس یې پرې وسپاري، له ما سره دې صرف نمک حرامي او ستر خیانت دا کړی، چې په دې کار سره دې، د تجارانو په وړاندې د شرکت باور سخت زخمي کړی، که د نورو شرکتونو نرخ نامې یې کتلې وي، ممکن بیا ببخي رانشي. خو په هر حال ته دې اوس کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ شه، یوه هفته وروسته، چې څه نور هم ښه شوې بیا راشه، تر هغو به زه د ځینو تجارانو سره هم تماس ونیسم، څو راته معلومه شي چې رښتیا دا دې لمړی ځل و، یوازې همدې دوه تجارانو ته دې مال قیمته ورکړی، که له مخکې نه پرې روږدی یې؟ کله چې واپس راغلې نورې خبرې به بیا همغه وخت کو.

په ښکته سترګو مې ارام ووېل:

- سمه ده ریس صیب! نور د څه ویلو جرئت نه و راپاتې، له همدې سره راجګ شوم، پرته له دې چې ده ته وګورم، د خدای پامان په ویلو سره له ریاست نه راووتلم، په کور کې تر یوه هفته رخصت تېرولو وروسته چې واپس شرکت ته ورغلم، رښتیا هم ریس له ډېری تجارانو سره تماس نیولی و، دا ورته معلومه شوې وه، چې ان له دوه کاله وړاندې په تجارانو مالونه له نرخنامې قیمته پلورل شوي و، خو ښه و هغوی ته په ورکړل شویو، ټولو بوجکونو د صمیم لاسلیک و، زما لاسلیک یې صرف په همغه دوه بوجکونونو مندلی و، کوم چې له مخکې مې یې اقرار کړی و، په دې سره یې صمیم همغه ورځ له دندې ګوښه کړی و، زه چې د شنبې په ورځ څنګه وروسېدم، ریس راته کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سره ددې چې د ښنبلو سړی ته هم نه يې، خو دا چې همدا دې لمړی خيانت و، وړاندې مې کوم ثبوت درباندې پيدا نه کړو، دوهم دا چې مخکې له مخکې دې خپله اقرار وکړو او غلا کړې پيسې دې هم تحويل کړې، چې دا خپله د شيطان لخوا دوکه شوې، يو نيک انسان خاصه ده، پس يو چانس بيا هم درکوم، خپله دنده دې مخ ته يوسه، په اخطاريزه بڼه يې پسې زياته کړه: مګر باخبر! چې بيا داسې څه نه ووينم او نه يې واورم.

نور رانه روان شوم، که څه هم پخپله دنده کې په پاتې کېدو خوشحاله شوم، خو هغه پخوانی باور مې له لاسه ورکړی و، ډېر خجالت وم، په مات زړه مې خپله دنده مخ ته وړله، وخت ناوخت به زړه کې راتېرېده: خدای پاک هم قربان شم، خلک لسګونه مړي وکړي، مالونه يې لوټ کړي، صميم کالونه کالونه زما تر سترګو لاندې غلا وکړه، سمه زندګي يې پرې جوړه کړه، لا هم سرې سترګې ګرځي.

فقط ته وا د خدای ج دا عدل او نصاف يوازې زما لپاره دی، په دوهمه ورځ يې څه عمل راسره وکړو؟ لمړی يې هغه شان په ځمکه وويشتلم چې تر مرک يې پورې، راورې کړم، بيا يې په خپله غلا اقرار راباندې وکړو، په شرمو يې وشرموم، تر نن سترګې نشم پورته کولی. دا څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګه عدالت دی؟ چې يوازې په ما او زما په شان يو نيم بل بچاره پلی کېږي، هغه چې مليونونه غلاوې کوي، قتلونه يې وکړل، په سل او زرو نورو وحشتونو کې لاس لري، هېڅ ټکه نه پرې رالوېږي، مستې مستانه ګرځي.

همداسې او دې ته ورته ګيلې، نعوذ باالله، د خدای ج په عدالت او انصاف باندې شک او بدګوماني مې په ذهن کې تاوېده، شپې ورځې، مياشتې وې، په همدې ډول تېرېدې، دې وضعيت ډېر وخت دوام وکړو ان تر دې چې يوه ورځ خبر شوم: صميم موټر ټکر کړی، يو زوی او ښځه يې پکې مړه دي، خپله تر ملا ښکته فلج شوی. سم د لاسه مې الله ج ته سجده وکړه، ددعا په ښه مې کړل: قربان دې په ما باندې له خاصې مهربانۍ ربه! هزار بار شکر چې زما دې په لمړي سر کې مخه ونيوله، وخت دې رانکړو ترڅو د صميم په شان هم مې د اخيرت پېټې دروند کړې وی او هم مې په دنيا انجام همغه حرام مال د ځان په شمول د ټولې کورنۍ د داسې سخت او دردونکي هلاکت سبب شوی وی، چې د انسان تر زغمه لوړ وی، له شک پرته ستا بندګان نه پوهېږي، مګر ستا په هر څه کې حکمت او د دوی لپاره خير دی.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يادونه:

درنو لوستوونکو ! که د کتاب په اړه و يل لرئ؟ مهرباني وکړئ، په لاندې آدرسونو يې له ليکوال (محمد نعيم وردګ ) سره تماس نيولی شئ.

برېښناليک: www.naeem.afghan@gmail.com

واتساف نمبر: 0747743091

د فسبوک پاڼه: نعيم جان بوډا

وما علينا الا بلاغ المبين

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**